# د اول پادشاهان کتاب

۱ ۞۱ داود پادشاه ډېر زوړ شوی ؤ او سره له دې چې د هغه خدمتګارانو هغه په کمپلو
باندې پټاوه، خو بیاهم هغه نه تودېده.

## داود پادشاه په خپل زوړ عمر کې

۲ نو درباریانو يې هغه ته ووېل: <اعلیحضرته، مونږ ته اجازه راکړئ چې یوه پېغله
راپیدا کړو چې ستاسو خدمت او پالنه وکړي. هغه به ستاسو په څنګ کې څملې او تاسو به
تود وساتي.> ۳ هغوی په ټولو اسراییلو کې یوه ښکلې پېغله ولټوله او په شونم کې
هغوی د ابیشګ په نوم یوه نجلۍ پیدا کړه او هغه يې پادشاه ته راوستله. ۴ هغه ډېره
ښکلې وه او د پادشاه خدمت او پالنه به يې کوله، مګر پادشاه د هغې سره یوځای نه شو.

## ادونیا د تخت دعوه کوي

۵ نو د داود زوی ادونیا چې مور يې حجیت نومېدله، هغه د پادشاهۍ دعوه وکړه. نو هغه
ځو جنګي ګاډي، اسونه او پنځوس نفره د بدرګې دپاره ځان ته تیار کړل. ۶ پلار يې
داود د ده په کارونو کې هیڅکله لاس وهنه نه کوله. پرته له دې، هغه ډېر ښکلی ځوان ؤ او
د ابشالوم څخه وروسته د هغه مشر زوی ؤ. ۷ ادونیا د زرویه د زوی یوآب او ابیاتار
کاهن سره خبرې وکړې او هغوی موافقه وکړه چې د هغه څخه ملاتړ وکړي. ۸ مګر
صادوق کاهن، بنایاه د یهویاداع زوی، ناتان نبي، شمعي، ریعي او د داود ساتونکي ګارډ د
ادونیا طرفداران نه وو.

۹ یوه ورځ ادونیا د زوحلت تیږې ته نژدې چې د روجل د چینې تر څنګه ده، پسونه،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غوايان او چاغ سخوندران قرباني کړل او هغه خپلو ورونو يعنې د پادشاه نورو زامنو او ټولو
شاهي درباريانو ته چې د يهودا څخه وو بلنه ورکړه چې د قربانۍ ميلمستيا ته راشي. ١٠
مګر هغه ناتان نبي، بناياه، د پادشاه د ساتونکو ګارډ او خپل ورور سليمان ته بلنه ورنه کړه.

## سليمان پادشاه کيږي

١١ بيا ناتان د سليمان مور بتشبع ته ورغی او د هغې څخه يې پوښتنه وکړه: <آيا تا نه
دي اوريدلي چې د حجيت زوی ادونيا پادشاه شوی دی؟ او داود پادشاه په دې هکله هيڅ
خبر نه دی! ١٢ که چيرې غواړې چې خپل ژوند او د خپل زوی سليمان ژوند وژغورې،
نو زه تاته مشوره درکوم. ١٣ هغه دا چې سمدستي داود پادشاه ته ورشه او ورته ووايه:
اعليحضرته، آيا تاسو زما سره دا قسم نه ؤ خوړلی چې په رښتيا سره به زما زوی سليمان
ستاسو څخه وروسته پادشاه شي او هغه به ستاسو په تخت باندې کښيني؟ نو بيا ولې ادونيا
پادشاه شوی دی؟> ١٤ ناتان زياته کړه: <هغه شيبه چې ته د داود پادشاه سره خبرې
کوې، زه به درننوزم او ستا خبرې به تائيد کړم.>

١٥ نو بتشبع د زاړه پادشاه د ليدلو دپاره د هغه د خوب کوټې ته ورننوتله چيرته چې
ابيشګ چې د شونم څخه وه د هغه خدمت کاوه. ١٦ بتشبع د درناوي په خاطر ځمکې ته
سر ټيټ کړ. پادشاه پوښتنه وکړه: <ته څه غواړې؟>

١٧ هغې ځواب ورکړ: <اعليحضرته، تاسو ما سره ستاسو د څښتن خدای په نوم قسم
خوړلی ؤ چې ستاسو څخه وروسته به زما زوی سليمان پادشاه شي. ١٨ مګر ګورئ،
ادونيا مخکې له مخکې پادشاه شوی دی او تاسو په دې هکله هيڅ خبر نه ياست. ١٩
هغه ډير غوايان، چاغ سخوندران او پسونه قرباني کړل او ستاسو ټول زامن، ابياتار کاهن او
ستاسو د لښکرو قوماندان يوآب يې دې ميلمستيا ته راوبلل، مګر ستاسو زوی سليمان ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې بلنه ورنه کړه. (20) اعليحضرته، د ټولو اسراييليانو سترګې ستاسو په لور دي چې تاسو
ورته دا ووايئ چې له تاسو وروسته به څوک پادشاه شي. (21) که چېرې تاسو داسې ونه
کړئ، کله چې تاسو مړ شئ، نو زما د زوی سليمان او زما سره به د مجرمانو په شان سلوک
وشي.>

(22) په هغې شيبه کې چې بتشبع د پادشاه سره خبرې کولې، ناتان نبي راورسېده. (23)
خلکو پادشاه ته خبر ورکړ: <دا دی ناتان نبي دلته دی.> نو هغه د پادشاه حضور ته ورغی
او د درناوي په خاطر ځمکې ته سر ټيټ کړ. (24) ناتان وويل: <اعليحضرته، آيا تاسو دا
اعلان کړی دی چې له تاسو وروسته به ادونيا پادشاه شي او هغه به ستاسو په تخت باندې
کښېني؟ (25) نن هغه تللی دی او زيات شمېر غوايان، چاغ سخوندران او پسونه يې قرباني
کړي دي. هغه ستاسو ټولو زامنو، د لښکرو قومندانانو او ابياتار کاهن ته بلنه ورکړې ده.
همدا اوس هغوی د هغه سره خوري او څښي او وايي: ژوندی دې وي ادونيا پادشاه! (26)
مګر اعليحضرته، هغه زه، صادوق کاهن، بناياه او سليمان نه يو بللي. (27) آيا ادونيا دا کار
ستاسو اعليحضرت د فرمان سره سم کړی دی؟ ځکه چې ستاسو درباريان خبر نه دي چې
ستاسو نه وروسته به څوک پادشاه شي او د پادشاهۍ په تخت به کښېني.>

(28) نو داود پادشاه وويل: <بتشبع دننه راوغواړئ>، نو هغه راغله او د پادشاه په حضور
کې ودرېدله. (29) په دې وخت کې پادشاه هغې ته وويل: <د هغه ژوندي څښتن په نامه
چې زه يې د ټولو سختيو څخه ژغورلی يم قسم خورم، (30) زه به نن په يقين سره هغه کار
سرته ورسوم چې د هغه په هکله مې ستا سره د څښتن، يعنې د اسراييلو د خدای په نوم
قسم خوړلی ؤ، چې زما څخه وروسته به ستا زوی سليمان پادشاه شي او هغه به زما په
ځای زما په تخت باندې کښېني.>

(31) نو بيا بتشبع د درناوي په خاطر ځمکې ته سر ټيټ کړ، ويې ويل: <زما بادار، داود



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پادشاه دې تل ژوندی وي!>

۳۲ داود پادشاه وويل: <صادوق کاهن، ناتان نبي او د يهوياداع زوی بناياه دننه
راوغواړئ.> کله چې هغوی د پادشاه حضور ته راغلل، ۳۳ پادشاه هغوی ته وويل:
<زما درباريان درسره واخلئ، زما زوی سليمان زما په خپلې قچرې باندې سپور کړئ او د
جيحون د چينې پورې يې بدرګه کړئ. ۳۴ صادوق کاهن او ناتان نبي دې هلته د اسراييلو
د پادشاه په توګه د هغه سر په تېلو غوړ کړي. وروسته له هغې سرنی وغږوئ او داسې
چيغې ووهئ: ژوندی دې وي سليمان پادشاه! ۳۵ سليمان مخکې او تاسو د هغه پسې
بېرته دلته راشئ او هغه دې زما په تخت باندې کېښيني او زما په ځای دې پادشاهي وکړي.
ځکه چې هغه مې د اسراييلو او يهودا مشر ټاکلی دی.>

۳۶ بناياه د پادشاه په ځواب کې وويل: <امين! ستاسو څښتن خدای دې قبول کړي!
۳۷ لکه څنګه چې څښتن ستاسو اعليحضرت سره مل ؤ، د سليمان سره دې هم مل وي
او د هغه پادشاهي دې د ستاسو د پادشاهۍ څخه هم ډېره لويه کړي.>

۳۸ نو صادوق کاهن، ناتان نبي، بناياه او د پادشاه ساتونکي ګارډ يعنې کريتيان او فليتيان
لاړل، سليمان يې د داود پادشاه په قچره باندې سپور کړ او هغه يې د جيحون د چينې پورې
بدرګه کړ. ۳۹ صادوق کاهن د سپېڅلې خېمې څخه د تېلو ښکر راواخيست او د سليمان
سر يې غوړ کړ. وروسته بيا هغوی سرنی وغږاوه او ټولو خلکو چيغې ووهلې: <ژوندی دې
وي سليمان پادشاه!> ۴۰ وروسته بيا ټول د سليمان پسې اورشليم ته راستانه شول.
هغوی داسې شپېلۍ غږولې او د خوشالۍ چيغې وهلې چې ځمکه يې لړزوله.

۴۱ کله چې ادونيا او د هغه مېلمنو د ډوډۍ خوراک پای ته رساوه، هغوی شورماشور
واورېد. کله چې يوآب د سرنې اواز واورېده، هغه پوښتنه وکړه: <په ښار کې دا شورماشور
د څه دپاره دی؟> ۴۲ مخکې له دې چې هغه خپلې خبرې خلاصې کړي، د ابياتار کاهن



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زوی یوناتان راورسېد. ادونیا ووېل: <دننه راشه! ته د عزت وړ سړی یې، تا به خامخا ښه
خبر راوړی وي.>

۴۳ یوناتان ځواب ورکړ: <هیڅ نه! زموږ بادار داود سلیمان پادشاه کړ. ۴۴ هغه
صادوق کاهن، ناتان نبي، بنایاه، د پادشاه ساتونکي ګارډ یعنې کریتیان او فلیتیان د سلیمان
سره ولېږل او هغه یې د پادشاه په قچره باندې سپور کړ. ۴۵ صادوق کاهن او ناتان نبي د
جیحون د چینې سره د هغه سر په تېلو غوړ کړ چې پادشاه شي. بیا هغوی ښار ته ننوتل، د
خوشالۍ چیغې یې وهلې او خلکو شورماشور جوړ کړ. دا هغه شورماشور دی چې تاسو
واورېده. ۴۶ نو اوس سلیمان په تخت باندې ناست دی. ۴۷ بله خبره دا چې درباریان د
مبارکۍ دپاره زموږ بادار، داود پادشاه ته راغلي دي او وايي: ستاسو خدای دې د سلیمان
نوم د ستاسو د نوم څخه هم زیات مشهور کړي او د هغه پادشاهي دې د ستاسو د پادشاهۍ
څخه هم لویه کړي! او پادشاه په خپل کټ کې سجده وکړه ۴۸ او ویې ویل: د اسراییلو
څښتن خدای ته دې ثناء وي، چا چې نن ورځ ماته ولیعهد راکړی دی او زه یې پرېښې یم
چې هغه په خپلو سترګو ووینم.>

۴۹ په دې خبره د ادونیا ټول مېلمانه وویرېدل، پاڅېدل او هر یو په خپله لاره لاړ. ۵۰
مګر ادونیا د سلیمان له وېرې سپېڅلې خېمې ته لاړ او د خپل ژوند د ژغورلو دپاره یې هغه
ښکرونه چې د قربانۍ د ځای په کنجونو کې وو، ونیول. ۵۱ سلیمان پادشاه ته خبر ورکړل
شو چې ادونیا د هغه څخه وېرېږي، د قربانۍ د ځای ښکرونه یې کلک نیولي دي او وايي:
<زه غواړم چې سلیمان پادشاه دې اول ماته قسم وخوري چې هغه به ما نه وژني.>

۵۲ سلیمان په ځواب کې ووېل: <که چېرې هغه دا ثابته کړي چې وفادار سړی دی نو د
هغه د سر یو وېښته به هم کم نه شي، مګر که هغه خیانت وکړي وبه وژل شي.> ۵۳ نو
سلیمان پادشاه سړي ولېږل او هغه یې د قربانۍ د ځای څخه راښکته کړ. هغه راغی او د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درناوي په خاطر يې سليمان پادشاه ته خپل سر ټيټ کړ او سليمان هغه ته وويل: <خپل کور ته لاړ شه.>

## سليمان ته د داود وصيت

۲ (۱) کله چې د داود د مړينې وخت رانژدې شو، خپل زوی سليمان يې راوغوښت او خپل وصيت يې ورته وکړ: (۲) <زما د مړينې وخت رارسېدلی دی، نو قوي او زړور اوسه (۳) او څه چې ستا څښتن خدای يې درڅخه غواړي هماغسې وکړه. د هغه په لاره لاړ شه او د هغه په قوانينو او حکمونو باندې لکه څنګه چې د موسیٰ په شريعت کې ليکل شوي دي عمل وکړه، ترڅو په هر کار کې چې ته يې کوې او هر چېرته چې ځې نېکمرغه واوسې. (۴) که چېرې د هغه اطاعت وکړې، نو څښتن به هغه وعده عملي کړي چې زما سره يې کړې وه. ماته يې ويلي وو: ستا اولاده به تر هغې پورې په اسراييلو باندې حکومت کوي ترڅو پورې چې هغوی په وفاداری او د زړه له کومې زما حکمونو ته غاړه کېږدي.

(۵) بله خبره دا چې تاته په ياد دي چې د زرويه زوی يوآب زما سره څه وکړل، هغه د اسراييلو د لښکرو قوماندانان يعنې ابنير د نير زوی او عماسا د يتر زوی ووژل. هغوی يې د سولې په وخت کې د هغو وژنو په بدل کې ووژل چې د جګړې په وخت کې يې وژلي وو. د هغه لاسونه د بې ګناه سړيو په وينو ککړ دي. (۶) ته د عقل نه کار واخله، هغه مه پرېږده چې سپين ږيری شي او په طبيعي مرګ مړ شي.

(۷) مګر د جلعادي برزلای په زامنو باندې مهربانه اوسه او هغوی په هغو خلکو کې شامل کړه چې ستا په دسترخوان باندې ډوډی خوري. ځکه کله چې زه ستا د ورور ابشالوم څخه وتښتېدم هغوی زما سره ودرېدل.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ یاد ساته چې شمعي د بنیامیني جیرا زوی چې د بحوریم څخه دی هم ستا سره دی. په هغه ورځ چې زه محنایم ته لاړم، هغه په ما باندې ډېر سخت لعنت ووایه. مګر کله چې هغه زما د لیدلو دپاره د اردن د سیند غاړې ته راغی، ما د څښتن په نامه هغه ته قسم وخوړ چې زه به هغه ونه وژنم. ٩ خو ته هغه بې سزا مه پرېږده. ته پوه سړی یې او په دې باندې پوهېږې چې د هغه سره باید څه وکړې. که څه هم هغه سپین ږیری دی، باید ووژل شي.>

د داود مړینه

١٠ داود مړ شو او د داود په ښار کې ښخ شو. ١١ هغه څلوېښت کاله په اسراییلو باندې پادشاهي وکړه – اووه کاله په حبرون کې او دري دېرش کاله په اورشلیم کې. ١٢ نو سلیمان د خپل پلار داود په تخت باندې کښېناست او د هغه پادشاهي ټینګه شوه.

د ادونیا وژنه

١٣ یوه ورځ د حجیت زوی ادونیا د سلیمان مور بتشبع ته ورغی. بتشبع د هغه څخه پوښتنه وکړه: <ته د سولې سره راغلی یې؟>

هغه ځواب ورکړ: <هو، د سولې سره.> ١٤ بیا هغه زیاته کړه: <زه غواړم ستاسو سره خبرې وکړم.>

هغې ځواب ورکړ: <څه غواړې چې ووایې؟>

١٥ هغه ووېل: <لکه څنګه چې تاسو پوهېږئ، پادشاهي زما وه. ټولو اسراییلیانو ماته د پادشاه په سترګه کتل. مګر هرڅه بدل شول او زما ورور پادشاه شو ځکه چې دا د څښتن



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رضا وه. ۱۶ اوس زه یوه غوښتنه لرم، هیله ده چې هغه رد نه کړې.>

بتشبع ځواب ورکړ: <خه غوښتنه؟>

۱۷ هغه ځواب ورکړ: <د سلیمان پادشاه شخه غوښتنه وکړئ چې هغه ځوانه ښځه
ابیشګ چې د شونم شخه ده ماته راکړي چې واده ورسره وکړم. زه پوهېږم چې هغه به
ستاسو غوښتنه رد نه کړي.>

۱۸ هغې ځواب ورکړ: <ډېر ښه، زه به ستا دپاره د پادشاه سره خبرې وکړم.>

۱۹ نو بتشبع سلیمان پادشاه ته ورغله چې د هغه سره د ادونیا دپاره خبرې وکړي. پادشاه
خپلې مور ته د هرکلي ویلو دپاره راپاڅېده او هغې ته یې د درناوي سر ټیټ کړ. بیا هغه په
خپل تخت باندې کښېناست او بل تخت یې راوغوښت او مور یې د هغه ښي لاس ته په
تخت باندې کښېناستله. ۲۰ بتشبع وویل: <ستا شخه یوه کوچنۍ غوښتنه لرم، هغه رد نه
کړې.>

پادشاه په ځواب کې وویل: <ای زما مورې، ووایه، زه به ستا غوښتنه رد نه کړم.>

۲۱ نو هغې وویل: <پرېږده چې ستا ورور ادونیا د ابیشګ سره واده وکړي.> ۲۲
پادشاه پوښتنه وکړه: <ولې زما شخه غواړې چې ابیشګ هغه ته ورکړم؟ کېدای شي چې دا
هم زما شخه وغواړې چې تخت هم ورته ورکړم. آخر هغه زما مشر ورور دی او ابیاتار
کاهن او یوآب د هغه پلویان دي.> ۲۳ نو سلیمان پادشاه د ښتن په نوم قسم وخوړ او
ویې ویل: <که چېرې ادونیا مې د دې غوښتنې په خاطر ژوندی پرېښود، نو خدای دې ما
ووژني. ۲۴ ښتن زه د خپل پلار داود په ځای پادشاه کړی یم او زما پادشاهي یې ټینګه
کړې ده. هغه خپله وعده ترسره کړې ده او ماته او زما اولادې ته یې پادشاهي ورکړې ده.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه د ژوندي څښتن په نامه قسم خورم چې ادونيا به همدا نن ووژل شي!> ۲۵ نو سليمان
بناياه د يهوياداع زوی ته حکم وکړ، هغه لاړ او ادونيا يې وواژه.

## د ابياتار شړل او د يوآب وژنه

۲۶ پادشاه ابياتار کاهن ته وويل: <بېرته خپلې ځمکې او ځای عناتوت ته لاړ شه. ته د
مرګ لايق يې، مګر اوس دې نه وژنم ځکه چې هغه وخت چې ته زما د پلار داود سره وې
د څښتن تعالیٰ د لوظ صندوق به دې د هغه سره يووړ. په ټولو سختيو کې د هغه سره
يوځای وې.> ۲۷ نو سليمان ابياتار د څښتن د کاهنتوب څخه لېرې کړ. په دې ډول يې د
څښتن هغه خبره ترسره کړه چې د عيلي کاهن او د هغه د اولادې په باره کې يې په شيلوه
کې کړې وه.

۲۸ کله چې يوآب د دې پېښې څخه خبر شو، هغه د څښتن خېمې ته وتښتېده او د
قربانۍ د ځای ښکرونه يې ونيول. (يوآب د ادونيا ملاتړ کاوه، خو د ابشالوم څخه يې ملاتړ
نه ؤ کړی.) ۲۹ سليمان پادشاه خبر شو چې يوآب د څښتن خېمې ته تښتېدلی دی او د
قربانۍ د ځای په خوا کې دی. نو سليمان بناياه ته امر وکړ: <لاړ شه او هغه ووژنه!> ۳۰
هغه د څښتن خېمې ته ورغی او يوآب ته يې وويل: <پادشاه حکم کوي چې دباندې
راووزه.>

يوآب په ځواب کې وويل: <نه، زه غواړم چې دلته مړ شم.> بناياه بېرته پادشاه ته ورغی
او د يوآب خبره يې ورته وکړه.

۳۱ نو بيا پادشاه بناياه ته امر وکړ: <څنګه چې هغه وايي هماغسې وکړه. هغه ووژنه او
ښخ يې کړه ترڅو د هغو بې ګناه خلکو د وينو د ملامتۍ څخه چې يوآب توی کړې وې زه
او زما د پلار نوره اولاده پاکه شي. ۳۲ څښتن به يوآب ته د هغو قتلونو په خاطر سزا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړي چې هغه کړي وو او زما پلار داود د هغو څخه خبر نه ؤ. یوآب هغه دوه سړي
ووژل چې د هغه څخه نېک او بهتر وو، یعني ابنیر د اسراییلو د لښکرو قوماندان او عماسا د
یهودا د لښکرو قوماندان. ۳۳ د هغوی د قتلونو سزا به د تل دپاره د یوآب او د هغه د
اولادې په غاړه وي. مګر ښښتن به همېشه د داود اولادې ته چې د هغه په تخت باندې
کښېني سوله ور په برخه کړي.>

۳۴ نو بنایاه سپېڅلي خېمې ته لاړ او یوآب یې وواژه. د هغه مړی په خپله ځمکه کې چې
په دښته کې وه ښخ شو. ۳۵ پادشاه د یوآب په ځای بنایاه د لښکرو قوماندان کړ او
صادوق کاهن یې د ابیاتار په ځای وټاکه.

## د شمعي وژنه

۳۶ وروسته بیا پادشاه شمعي راوغوښت او هغه ته یې وویل: <د خپل ځان دپاره په
اورشلیم کې کور جوړ کړه او هلته اوسېږه، مګر بل هیڅ چېرته لاړ نه شې. ۳۷ هغه ورځ
چې ته لاړ شې او د قدرون له درې څخه پورې وزې، نو پوه شه چې ته به مړ شې او ته به
په خپله ملامت یې.>

۳۸ شمعي پادشاه ته په ځواب کې وویل: <ډېر ښه اعلیحضرته! څنګه چې تاسو وایئ
هماغسې به وکړم.> نو شمعي د ډېرې مودې دپاره په اورشلیم کې پاتې شو.

۳۹ خو درې کاله وروسته د شمعي دوه غلامان د جت پادشاه آخیش د معکه زوی ته
وتښتېدل. کله چې شمعي واورېدل چې هغوی په جت کې دي، ۴۰ هغه په خپل خره
باندې کته واچوله او آخیش پادشاه ته ورغی چې خپل غلامان پیدا کړي. هغه یې پیدا کړل
او بېرته یې خپل کور ته راوستل. ۴۱ کله چې سلیمان ته خبر ورسېده چې شمعي د
اورشلیم څخه جت ته تللی ؤ او بېرته راستون شوی دی، ۴۲ پادشاه شمعي راوغوښت او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ته يې وويل: <آيا تاته مې د څښتن په نوم قسم او خبرداری نه ؤ درکړی چې په هغه
ورځ چې د اورشليم نه ووځې او بل چېرته لاړ شې، مړ به شې؟ تا هغه وخت زما امر ومانه.
۴۳ نو ولې دې هغه قسم مات کړ چې د څښتن سره دې کړی ؤ او زما د امر څخه دې هم
سرغړونه وکړه؟>

۴۴ همدارنګه پادشاه شمعي ته وويل: <ته په خپل زړه کې په خپلو هغو ټولو بديو باندې
پوهېږې چې زما د پلار داود سره دې کړې دي. اوس به څښتن تاته ستا د بدو کارونو سزا
درکړي. ۴۵ مګر څښتن به ماته برکت راکړي او هغه به د داود پادشاهي تل تر تله ټينګه
وساتي.>

۴۶ نو بيا پادشاه بناياه ته حکم وکړ او هغه شمعي دباندې وويست او ويې واژه. نو
پادشاهي د سليمان په لاسونو کې ټينګه پاتې شوه.

## سليمان او د حکمت غوښتنه

(دوهم تواريخ ۱: ۳ – ۱۲)

**۳** ۱ سليمان د مصر د پادشاه فرعون سره يو تړون وکړ او د هغه د لور سره يې واده
وکړ. هغه يې راوستله چې تر هغې پورې د داود په ښار کې واوسېږي ترڅو پورې چې هغه
د خپلې ماڼۍ، د خدای د کور او د اورشليم شاوخوا دېوال د جوړولو کار سرته ورسوي.
۲ تر هغه وخته پورې لا د څښتن دپاره کور نه ؤ جوړ شوی نو ځکه به قوم په مختلفو
عبادت ځايونو کې قرباني کولې. ۳ سليمان د څښتن سره مينه کوله او د خپل پلار داود
د لارښودنو په مطابق يې عمل کاوه. مګر هغه هم د عبادت په مختلفو ځايونو کې قرباني
کولې او خوشبويي يې سوزوله.

۴ پادشاه جبعون ته لاړ چې هلته قرباني وړاندې کړي ځکه چې هغه د قرباني کولو تر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولو مشهور ځای ؤ. سلیمان به د قرباني په هغه ځای کې زر سوزېدونکې نذرانې وړاندې
کولې. ۵ یوه شپه په جبعون کې څښتن خدای هغه ته په خوب کې ورښکاره شو او
پوښتنه یې ورڅخه وکړه: <زما څخه څه غواړې چې تاته یې درکړم؟>

۶ سلیمان په ځواب کې وویل: <تا تل د خپل غلام یعنې زما د پلار داود سره ډېره مینه
ښودلې ده او هغه تاته وفادار، نېک او صادق ؤ. هغه ته دې خپله زیاته او نه بدلېدونکې مینه
وښودله چې هغه ته دې زوی ورکړ چې نن ورځ د هغه په ځای پادشاهي کوي.

۷ نو بیا، ای زما څښتن خدایه، تا خپل غلام زما د پلار داود په ځای پادشاه کړ. مګر زه
د یو کوچني ماشوم په شان یم او په دې باندې نه پوهېږم چې څنګه پادشاهي وکړم. ۸
زه د هغه قوم په منځ کې اوسېږم چې تا د خپل ځان دپاره غوره کړی دی، هغه قوم چې
دومره زیات دی چې نه شمېرل کېږي. ۹ نو ماته پوهه او حکمت راکړه چې ستا په قوم
باندې په عدالت سره حکومت وکړم او د ښو او بدو ترمنځ فرق وکړم. که نه، نو څوک کولی
شي چې ستا په دې لوی قوم باندې پادشاهي وکړي؟>

۱۰ څښتن خوشاله شو چې سلیمان دغه غوښتنه کړې ده. ۱۱ نو خدای هغه ته وویل:
<څرنګه چې تا دا وغوښتل او د خپل ځان دپاره دې نه د زیات عمر هیله وکړه، نه دې د
شتمنی او نه دې د خپلو دښمنانو مرګ وغوښت بلکه د پوهې او حکمت هیله دې وکړه چې
په عدل سره پادشاهي وکړې، ۱۲ څه چې تا غوښتي دي زه به یې درکړم. زه به تاته
داسې پوهه او حکمت درکړم، چې له دې څخه مخکې هم د چا سره نه وو او وروسته به هم
د چا سره نه وي. ۱۳ برسېره پردې هغه څه چې تا نه دي غوښتي زه به یې درکړم، یعنې
شتمني او عزت دواړه، ترڅو ستا په ژوند کې په پادشاهانو کې څوک ستا سره برابر نه شي.
۱۴ او که چېرې زما اطاعت وکړې او د خپل پلار داود په شان زما د قوانینو او حکمونو
څخه پیروي وکړې، زه به درته زیات عمر درکړم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ نو سلیمان راویښ شو او پوه شو چې څښتن ورسره په خوب کې خبرې کړې دي. بیا
هغه اورشلیم ته لاړ، د څښتن د لوظ صندوق ته مخامخ ودرېد او سوزېدونکې او د سلامتۍ
نذرانې یې څښتن ته وړاندې کړې. له هغې وروسته یې خپلو ټولو درباریانو ته میلمستیا
ورکړه.

## د سلیمان عادلانه قضاوت

۱۶ یوه ورځ دوه فاحشې پادشاه ته راغلې او د هغه په مخ کې ودرېدلې. ۱۷ د هغوی
څخه یوې وویل: <وبخښئ، اعلیحضرته! زه او دغه ښځه په یو کور کې اوسېږو. هغه وخت
چې زما ماشوم پیدا شو هغه زما سره په دې کور کې وه. ۱۸ زما د ماشوم د زېږېدلو په
دریمه ورځ هغې هم یو ماشوم وزېږاوه. په هغه کور کې یوازې مونږ وو او زمونږ څخه پرته
هلته بل هیڅوک نه ؤ.

۱۹ نو یوه شپه هغې ښځې په خوب کې خپل ماشوم د ځان لاندې کړی ؤ او هغه مړ
شوی ؤ. ۲۰ نو د شپې په نیمایي کې چې کله زه ویده وم، هغه راپاڅېدلې وه او زما زوی
یې زما له څنګ څخه اخیستی ؤ. هغه یې خپله غېږه کې او خپل مړ زوی یې زما په غېږه
کې اچولی ؤ. ۲۱ کله چې سهار راپاڅېدم چې خپل ماشوم ته شیدې ورکړم، ومې لیدل
چې هغه مړ دی! ما په غور سره په رڼا کې هغه ته وکتل او ومې لیدل چې هغه زما زوی نه
دی.>

۲۲ هغې بلې ښځې وویل: <نه! ژوندی ماشوم زما دی او مړ ماشوم ستا دی.>

اولنۍ ښځې بېرته په ځواب کې وویل: <نه! مړ ماشوم ستا دی او ژوندی زما دی!> نو
هغوی د پادشاه په حضور کې یو تر بله شخړه وکړه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ پادشاه وویل: <تاسو دواړه دا ادعا لرئ چې ژوندی ماشوم زما دی او مړ ماشوم زما نه دی.> ۲۴ نو پادشاه وویل: <ماته توره راوړئ.> نو کله چې هغوی پادشاه ته توره راوړه، ۲۵ بیا هغه حکم وکړ: <دا ژوندی ماشوم دوه ټوټې کړئ او نیم یې یوې ته ورکړئ او نیم یې بلې ته ورکړئ.>

۲۶ هغه ښځه چې د ژوندي ماشوم اصلي مور وه، زړه یې په خپل ماشوم باندې وسوزېده او پادشاه ته یې وویل: <اعلیحضرته! مهرباني وکړئ دا ژوندی ماشوم هغې ته ورکړئ! هغه مه وژنئ!>

مګر هغې بلې ښځې وویل: <نه دې زما وي او نه دې ستا وي. هغه دوه ټوټې کړئ!>

۲۷ هغه وخت پادشاه خپله پرېکړه وکړه: <ماشوم مه وژنئ! هغه اولنۍ ښځې ته ورکړئ ځکه چې هغه یې اصلي مور ده.>

۲۸ کله چې د اسراییلو ټول خلک واورېدل چې پادشاه دا قانوني پرېکړه کړې ده، د هغوی په نظر کې پادشاه ډېر د عزت وړ شو، ځکه هغوی ولیدل چې خدای هغه ته حکمت ورکړی دی چې په عدل سره پادشاهي وکړي.

## د سلیمان لوړ رتبه ماموران او والیان

**۴** ۱ نو سلیمان پادشاه په ټولو اسراییلو باندې پادشاهي کوله. ۲ او دا د هغه لوړ رتبه ماموران وو:

- عزریا د صادوق زوی – کاهن.
- ۳ الیحورف او اخیا د شیشه زامن – د هغه منشیان،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

• یهوشافاط د اخیلود زوی – د اطلاعاتو منشي.
• ۴ بنایاه د یهویاداع زوی – د لښکرو قوماندان،
• صادوق او ابیاتار – کاهنان.
• ۵ عزریا د ناتان زوی – د سیمه ایزو حکمرانانو مشر،
• زابود د ناتان زوی – کاهن او د پادشاه شخصي مشاور.
• ۶ اخیشار – د پادشاه د ماڼۍ مشر،
• ادونیرام د عبدا زوی – د بېګارۍ کارونو مشر.

۷ سلیمان د ټولو اسراییلو دپاره دولس سیمه ایز حکمرانان ټاکلي وو. هغوی به د پادشاه او د هغه د کورنۍ دپاره د خپلو سیمو څخه خوراک تیاراوه او د دې دپاره به هر حکمران په کال کې د یوې میاشتې دپاره مسئول ؤ. ۸ د هغو حکمرانانو او سیمو نومونه چې هغوی یې مشران وو، په لاندې ډول دي:

بن حور، د افرایم په غرنۍ سیمه کې. ۹ بن دقر، په ماقص، شعلبیم، بیت شمس او ایلون بیت حانان کې. ۱۰ بن حسد، په اروبوت، سوکوه او د حافر په ټوله سیمه کې. ۱۱ بن ابیناداب، چې د سلیمان د لور تافت سره یې واده کړی ؤ، د دور په ټوله سیمه کې. ۱۲ بعنه د اخیلود زوی، په تعنک، مجدو او بیت شان ته نژدې ټولو سیمو کې چې د یزرعیل لاندې زرتان ته نژدې دي، د بیت شان څخه تر آبل محوله او د یقمعام بلې خوا پورې. ۱۳ بن جابر، د جلعاد په راموت او د جلعاد په کلیو کې چې د منسي د اولادې یائیر په خېل پورې اړه لرله او د باشان د ارجوب په سیمه کې، یعنې په شپېتو لویو قوي دېوال لرونکو ښارګوټو کې چې برنجي سیخ لرونکې دروازې یې درلودلې. ۱۴ اخیناداب د عیدو زوی، د محنایم په سیمه کې. ۱۵ اخیمعص، چې د سلیمان د لور باسمت سره یې واده کړی ؤ، د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نفتالي په سيمه کې. ١۶ بعنه د حوشای زوی، د اشير په سيمه او د بعلوت په ښار کې.
١٧ يهوشافاط د فاروح زوی، د يساکار په سيمه کې. ١٨ د ايلا زوی شمعي، د بنيامين
په سيمه کې. ١٩ جابر د اوري زوی، په جلعاد کې – دا د اموريانو د پادشاه سيحون او د
باشان د پادشاه عوج هېواد ؤ. د دولسو حکمرانانو برسېره، په ټوله خاوره باندې يو لوی
حکمران هم ؤ.

## د سليمان قدرت، شتمني او حکمت

٢٠ د يهودا او اسراييلو خلک د درياب د غاړې د شګو په شان ډېر وو، هغوی خوړل،
څښل او خوشاله وو. ٢١ سليمان په ټولو پادشاهيو باندې د فرات د سيند څخه نيولې د
فلسطينيانو تر هېواده او د مصر تر سرحده پورې پادشاهي کوله. هغوی به باج ورکاوه او د
سليمان د ژوند تر پايه د هغه تابع وو.

٢٢ د سليمان د دربار ورځنۍ خوراکه درې زره کيلوګرامه ښه اوړه او شپږ زره کيلوګرامه
زيږه اوړه وو. ٢٣ همدارنګه لس چاغ غوايان، شل د څرځای غوايان، سل پسونه او وزې،
پرته له دې هوسۍ، غرڅې او چاغ مرغان هم وو. ٢۴ سليمان د فرات د سيند د لوېديځ په
ټوله خاوره باندې د تفسح څخه چې د فرات په څنګ کې ؤ نيولې د غزې تر ښاره پورې
چې په لوېديځ کې ؤ، پادشاهي کوله. د فرات د لوېديځ ټول پادشاهان د هغه تابع وو او د
ټولو ګاونډيو هېوادونو سره يې روغه جوړه وه. ٢۵ د سليمان په ټول ژوند کې په شمال
کې د دان څخه نيولې په جنوب کې تر بئرشبع پورې د يهودا او اسراييلو کورنۍ د خپلو
تاکونو او اينځرو د ونو د سيورې لاندې په امن کې کښېناستلې.

٢۶ سليمان د خپلو جنګي ګاډيو د اسونو دپاره څلوېښت زره غوجلې او دولس زره
سپاره عسکر درلودل. ٢٧ د هغه د دولسو سيمو حکمرانانو هر يو به خپله ټاکلې شوې
مياشت کې د سليمان پادشاه او هر هغه چا دپاره چې په ماڼۍ کې يې ډوډۍ خوړله خوراک



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تیاراوه. هغوی به همېشه د ضرورت شیان پوره کول. ۲۸ همدارنګه هغوی به د جنګي
ګاډیو د اسونو او نورو اسونو دپاره هم د اوربشو او بوسو خپله برخه د ضرورت ځای ته
راوړله.

۲۹ سلیمان ته خدای لوی حکمت، ځیرکتیا او بې اندازې زیاته پوهه ورکړې وه. ۳۰ د
سلیمان حکمت د ختیځ د پوهانو او د مصر د پوهانو د حکمت څخه هم زیات ؤ. ۳۱ هغه
د ټولو خلکو څخه ډېر زیات پوه ؤ. هغه د ازراحي ایتان او د ماحول د زامنو یعنې حیمان،
کلکول او دردع څخه هم ډېر پوه ؤ او د هغه شهرت په ټولو ګاونډیو هېوادونو کې خپور شو.
۳۲ هغه درې زره متلونه ویلي دي او د سندرو شمېر یې یو زر او پنځو ته رسېده. ۳۳
هغه د ونو او بوټو په باره کې، د لبنان د صبر د ونو څخه نیولې د هغه وړلني پورې چې په
دېوالونو باندې شنه کیږي خبرې کړې دي. هغه د څارویو، مرغانو، خزندو او ماهیانو په باره
کې خبرې کړې دي. ۳۴ د ټولې نړۍ پادشاهانو د هغه د حکمت په هکله واورېدل او
استازي یې ورولېږل چې د هغه خبرو ته غوږ ونیسي.

## سلیمان د خدای د کور د جوړولو دپاره تیاری نیسي

**۵** ۱ د صور پادشاه حیرام تل د داود ملګری ؤ او کله چې هغه واورېدل چې سلیمان د
خپل پلار داود په ځای پادشاه شوی دی، هغه ته یې خپل استازي واستول. ۲ سلیمان
بیرته حیرام ته دغه پیغام ورواستاوه:

۳ <تاسو پوهېږئ چې زما پلار داود د هغو جګړو له کبله چې د هغه شاوخوا دښمنو
هېوادونو په مقابل کې یې درلودلې، ونه شو کولای چې د خپل څښتن خدای د عبادت دپاره
کور جوړ کړي، ترڅو چې څښتن د هغه دښمنان د هغه تر پښو لاندې کړل. ۴ مګر اوس
زما څښتن خدای ماته زما په ټولو سرحدونو کې ارامي راکړې ده. زه هیڅ دښمن نه لرم او د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حملې هيڅ خطر نشته. ٥ لکه څنګه چې څښتن زما د پلار داود سره وعده کړې وه او
ويلي يې وو: ستا زوی چې زه به يې ستا په ځای په تخت باندې کښېنوم هغه به زما دپاره
کور جوړ کړي. نو له دې کبله ما نيت کړی دی چې د خپل څښتن خدای د عبادت دپاره
کور جوړ کړم.> ٦ سليمان زياته کړه: <نو تاسو حکم ورکړئ چې زما دپاره د لبنان
څخه د صبر د ونو لرګي پرې کړی شي. زما سړي به ستاسو د سړيو سره کار کوي او
هرڅومره اجوره چې تاسو ورته ټاکئ ستاسو نفرو ته به يې ورکړم. تاسو پوهېږئ چې مونږ
داسې څوک نه لرو چې تاسو صيدونيانو په شان د ونو په پرې کولو کې ماهر وي.>

٧ کله چې حيرام د سليمان پيغام واورېد، هغه ډېر خوشاله شو او ويې ويل: <څښتن ته
دې ثناء وي ځکه چې داود ته يې پوه زوی ورکړی دی چې په دې لوی قوم باندې
پادشاهي وکړي.>

٨ نو حيرام سليمان ته دا پيغام واستاوه: <هغه پيغام چې ماته مو رالېږلی ؤ ما تر لاسه
کړ، زه به ستاسو غوښتنه پوره کړم. زه به تاسو ته د صبر او ناجو د ونو لرګي تيار کړم. ٩
زما نفر به هغه لرګي د لبنان څخه بحيرې ته راښکته کړي، هغه به د تختې په شان د يو بل
سره وتړي او د بحيرې په غاړه به يې هغه ځای ته چې تاسو يې ټاکئ درلاهو کړي. هلته به
زما نفر هغه راخلاص کړي. تاسو کولای شئ چې هغه يوسئ. او تاسو به زما دا غوښتنه
ومنئ چې زما د شاهي ماڼۍ خلکو ته خوراک تيار کړئ.>

١٠ نو حيرام سليمان ته د صبر او ناجو د ونو هغه ټول لرګي چې هغه غوښتي وو، ور
ورسول. ١١ او سليمان حيرام ته د هغه د شاهي ماڼۍ د خلکو د خوراک دپاره دوه زره
ټنه غنم او څلور لکه ليتره د زيتونو سوچه تېل ورکړل. سليمان به دغه کار هر کال کاوه.

١٢ نو لکه څنګه چې څښتن وعده کړې وه هغه سليمان ته حکمت ورکړ. او د سليمان او
حيرام ترمنځ سوله ايزې اړيکې وې او د هغو د ټينګښت دپاره يې يو تړون لاسليک کړ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۳) سلیمان پادشاه د ټولو اسراییلو څخه دېرش زره نفر د بېګار دپاره راجلب کړل. (۱۴)
د هغوی څخه به یې لس زره تنه په وار سره میاشت په میاشت لبنان ته لېږل، نو هغوی به
یوه میاشت په لبنان کې تېروله او دوه میاشتې به په خپل کور کې وو. ادونیرام د بېګارۍ
کارونو مشر ؤ. (۱۵) همدارنګه سلیمان په غرنۍ سیمه کې اتیا زره د تیږو پرېکوونکي او
اویا زره تنه د تیږو د وړلو دپاره درلودل. (۱۶) همدارنګه هغه درې زره او درې سوه تنه د
کارګرانو مشران درلودل چې د پروژې څارنه به یې کوله او کارګرانو ته به یې لارښوونه
کوله. (۱۷) هغوی د سلیمان پادشاه په حکم د تیږو د کان څخه د ډېرو ښو تیږو تختې
راایستلې چې د خدای د کور دپاره د تورډل شویو تیږو څخه تهداب تیار کړي. (۱۸) د
سلیمان او حیرام کارګرانو او د جبل سړیو تیږې او لرګي تیار کړل چې د خدای کور جوړ
شي.

## سلیمان د خدای کور جوړوي

**۶** (۱) د مصر څخه د اسراییلو د قوم د وتلو څخه وروسته په څلورسوه اتیاوم کال کې،
په اسراییلو باندې د سلیمان د پادشاهۍ په څلورم کال، د زیو په میاشت کې چې د کال
دوهمه میاشت ده، هغه د خدای د کور په جوړولو پیل وکړ.

(۲) هغه کور چې سلیمان د څښتن دپاره جوړ کړی ؤ د هغه اوږدوالی اووه ویشت متره،
سور یې نهه متره او لوړوالی یې دیارلس نیم متره ؤ. (۳) د خدای د کور مخې ته دالان ؤ
چې اوږدوالی یې مساوي ؤ په سور د خدای د کور یعنې نهه متره او سور یې څلورنیم متره
ؤ. (۴) هغه د خدای د کور په دېوالونو کې لوړې تنګې کړکۍ ګانې جوړې کړې. (۵) د
خدای د کور په اړخونو او شاته بیروني دېوالونو ته څنګ په څنګ یې یوه درې منزله ودانۍ
جوړه کړه. (۶) په لاندیني منزل کې هرې کوټې دوه متره او شل سانتي سور، په منځني



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

منزل کې دوه متره او اویا سانتي سور او په پورتني منزل کې درې متره او لس سانتي سور درلود. د خدای د کور دېوال په هر منزل کې نسبت ښکتني منزل ته نری ؤ، ترڅو بې له دې چې په هغه کې تیرونه جوړ شي، کوټې په دېوال باندې ټینګې شي.

۷ د کومو تیږو نه چې د څښتن کور جوړ شوی ؤ هغه په کان کې تیارې شوې وې. کله چې د څښتن کور جوړېده، نو د څټکونو، تېشو، یا د اوسپنې د نورو سامانونو اواز هلته نه اورېدل کېده.

۸ د ودانۍ د لاندیني منزل د ننوتلو دروازه د خدای د کور په جنوبي اړخ کې وه، چې د زینو په وسیله یې دوهم او دریم منزل ته لاره درلودله. ۹ نو په دې توګه سلیمان پادشاه د خدای کور بشپړ کړ. بام یې د صبر د ونو د تیرانو او تختو څخه جوړ کړ. ۱۰ هغه درې منزله ودانۍ چې هر منزل یې دوه متره او شل سانتي لوړوالی درلود، د خدای د کور بیروني دېوالونو ته څنګ په څنګ وه. ودانۍ د دېوالونو سره د صبر د ونو تیرانو په وسیله نښلول شوې وه.

۱۱ څښتن سلیمان ته وویل: ۱۲ <زما د کور په اړه چې ته یې جوړوې، که چېرې زما په ټولو فرمانونو او حکمونو باندې عمل وکړې، نو زه به هغه وعده چې ستا د پلار داود سره مې کړې ده، ستا په وسیله ترسره کړم. ۱۳ او زه به د اسراییلو د قوم په منځ کې په هغه کور چې تا جوړ کړی دی اوسېږم او هغوی به هیڅکله یوازې پرېنږدم!>

۱۴ نو په دې توګه سلیمان پادشاه د خدای کور بشپړ کړ.

## د خدای د کور داخلي لوازم

(دوهم تواریخ ۳: ۸ – ۱۴)



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ داخلي دېوالونه د غولي ښخه تر چته پورې د صبر د ونو په تختو باندې پوښل شوي وو او د خدای د کور غولی د ناجو په لرګیو باندې پوښل شوی ؤ. ۱۶ داخلي کوټه چې د ډېر مقدس ځای په نوم یادېدله د خدای د کور شاته برخه کې جوړه شوې وه. هغه نهه متره اوږده وه او د صبر د ونو د تختو په وسیله چې د غولي ښخه تر چته پورې رسېدلې د اصلي سالون ښخه جلا شوې وه. ۱۷ اصلي سالون چې ډېر مقدس ځای ته مخامخ ؤ، اتلس متره اوږدوالی یې درلود. ۱۸ د صبر د ونې تختې د کدوانو او ګلانو په نقشونو باندې ښکلې کړای شوې وې. ټوله داخلي برخه د صبر په لرګیو باندې پوښل شوې وه، ترڅو چې د دېوالونو تیږې ونه لیدل شي.

۱۹ ډېر مقدس ځای تیار شو چې د ښښتن د لوظ صندوق په کې کېږدي. ۲۰ د دې کوټې اوږدوالی نهه متره، سور یې نهه متره او لوړوالی یې نهه متره ؤ. داخلي برخه په سوچه سرو زرو باندې پوښل شوې وه. په همدې ډول د قربانۍ ځای چې د صبر د تختو ښخه جوړ شوی ؤ په سرو زرو باندې پوښل شوی ؤ. ۲۱ د خدای د کور داخلي برخه په سوچه سرو زرو باندې پوښل شوې وه او د ډېر مقدس ځای د دروازې مخامخ ته د سرو زرو ځنځیرونه ځای په ځای شوي وو چې هغه ځای هم په سوچه سرو زرو باندې پوښل شوی ؤ. ۲۲ د خدای د کور ټوله داخلي برخه په سرو زرو باندې پوښل شوې وه، همدارنګه د قربانۍ ځای هم چې ډېر مقدس ځای په ښنګ کې ؤ په سرو زرو باندې پوښل شوی ؤ.

۲۳ سلیمان دوه کروبیان د زیتون د لرګیو ښخه جوړ کړل او په ډېر مقدس ځای کې یې کېښودل. هر یو ښلورنیم متره لوړوالی درلود. ۲۴-۲۶ دواړه په یوه اندازه او په یو شکل وو او هر یو دوه دوه وزرونه درلودل. د هر یو وزر اوږدوالی دوه متره او شل سانتي ؤ، نو د یو وزر د سر نه د بل وزر تر سره پورې فاصله ښلورنیم متره وه. ۲۷ هغه یې په ډېر مقدس ځای کې یو تر بله ښنګ په ښنګ داسې کېښودل، ترڅو د هغوی دوه غوړېدلي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وزرونه د کوټې په منځ کې يو د بله سره ولګېږي او دوه نور وزرونه د دېوالونو سره ولګېږي. ﴿۲۸﴾ دواړه کروبيان په سرو زرو باندې پوښل شوي وو.

﴿۲۹﴾ د اصلي سالون او د ډېر مقدس ځای دېوالونه چارچاپېره د کروبيانو، د خرما د ونو او ګلانو په توږل شويو نقشونو باندې ښکلي کړای شوي وو. ﴿۳۰﴾ د دننيو او بيرونيو کوټو غولي هم په سرو زرو باندې پوښل شوي وو.

﴿۳۱﴾ سليمان د ډېر مقدس ځای د ننوتلو په دروازه کې يوه دوه پله يي دروازه چې د زيتون د لرګيو څخه جوړه شوې وه کېښودله، چې پنځه اړخيزه بازوګان او سرطاق يې درلودل.
﴿۳۲﴾ دوه پله يي دروازه د کروبيانو، د خرما د ونو او ګلانو په توږل شويو نقشونو باندې ښکلې کړای شوې وه. هغه دروازه، کروبيان او د خرما ونې په ټکول شويو سرو زرو باندې پوښل شوي وو. ﴿۳۳﴾ په هماغه ډول اصلي سالون ته د ننوتلو د دروازې چوکاټ د زيتون د لرګيو څخه په شکل د مستطيل جوړ شوی ؤ. ﴿۳۴﴾ همدارنګه دوه دروازې وې چې د ناجو د لرګيو څخه جوړې شوې وې. هرې دروازې دوه داسې برخې درلودلې چې چپراسونه يې درلودل. ﴿۳۵﴾ دا دروازې د کروبيانو، د خرما د ونو او د ګلانو په توږل شويو نقشونو باندې ښکلې کړای شوې وې چې يو برابر په سرو زرو باندې پوښل شوې وې.

﴿۳۶﴾ د عبادت ځای داخلي انګړ ګردچاپېره يو دېوال ؤ. هغه دېوال د درې طبقو توږل شويو تيږو او د يوې طبقې د صبر د تيرانو څخه جوړ شوی ؤ.

﴿۳۷﴾ د خدای د کور تهداب د سليمان د پادشاهۍ په څلورم کال د زيو په مياشت کې چې د کال دوهمه مياشت وه کېښودل شو. ﴿۳۸﴾ د سليمان د پادشاهۍ په يوولسم کال د بول په مياشت کې چې د کال اتمه مياشت وه، د خدای د کور د جوړېدلو کار کټ مټ د پلان په مطابق په بشپړه توګه سرته ورسېده. سليمان اووه کاله د هغه په جوړولو باندې ولګول.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ ① مګر سلیمان د خپلې ماڼۍ په جوړولو باندې دیارلس کاله تېر کړل او هغه یې بشپړه کړه. ② د ماڼۍ هغه سالون چې د لبنان د ځنګل د سالون په نوم یادېده څلورڅلوېښت متره اوږدوالی، دوه ویشت متره سور او دیارلس نیم متره لوړوالی درلود. هغه د صبر د ونو د ستنو څلور قطاره درلودل چې د صبر تیران ورباندې پراته وو. ③ د دې سالون د صبر د لرګیو بام د تیرانو دپاسه ؤ، کوم چې په ستنو باندې پراته وو. ټول پنځه څلوېښت تیران او په هر یو قطار کې پنځلس تیران وو. ④ د هغې کړکۍ ګانې په درې قطارونو کې یو او بل ته مخامخ ایښودل شوې وې. ⑤ دروازو او کړکیو مستطیل شکله چوکاټونه درلودل او په هر دېوال کې د کړکیو درې قطاره یو او بل ته مخامخ وو.

⑥ بل سالون چې د ستنو د سالون په نوم یادېده، دوه ویشت متره اوږد او دیارلس نیم متره یې سور ؤ. د هغه مخې ته یو دالان ؤ چې بام یې درلود او په ستنو باندې ټینګ شوی ؤ.

⑦ د پادشاه د تخت کوټه چې د قضاوت د سالون په نوم هم یادېدله، یعنې هغه ځای چې سلیمان به په کې دعوې فیصله کولې، د غولي څخه تر چته پورې یې د صبر د لرګیو تختې درلودلې.

⑧ د سلیمان خپل کور په بل انګړ کې د قضاوت د سالون شاته ؤ چې د نورو ودانیو په شان جوړ شوی ؤ. همدارنګه سلیمان د فرعون د لور دپاره چې هغه ورسره واده کړی ؤ د دې کور په شان یو کور جوړ کړ.

⑨ دا ټولې ودانۍ د بیرون څخه تر لوی انګړه پورې او د تهداب څخه تر بامه پورې د ډېرو ښو تیږو د تختو څخه چې په ټاکلو اندازو غوڅې شوې وې او بیرونې او دننني مخونه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې په آره باندې غوخ شوي وو، جوړې شوې وې. ﴿۱۰﴾ تهدابونه يې په ډېرو ښو لويو تيږو باندې چې ځينې يې څلورنيم متره او ځينې يې درې نيم متره اوږدوالى درلود ايښودل شوي وو. ﴿۱۱﴾ د هغو دپاسه په ټاکلو اندازو غوخې شوې ډېرې ښې تيږې او د صبر د لرګيو تيران وو. ﴿۱۲﴾ د مانۍ د لوی انګړ دېوال چې د انګړ شخه چاپېره شوی ؤ، د ښښتن د کور د داخلي انګړ او د هغه د دالان په شان درې طبقې توږل شوې تيږې او يوه طبقه د صبر د لرګيو تيران يې درلودل.

## د حورام کار

﴿۱۳﴾ سليمان پادشاه يو سړی راوغوښت چې حورام نومېده او د صور په ښار کې اوسېده. ﴿۱۴﴾ هغه د نفتالي د قبيلې شخه د يوې کونډې زوی ؤ او د هغه پلار د صور شخه ؤ او د برنجو کسبګر ؤ. حورام ډېر ماهر او پوه سړی ؤ او د برنجو په هر ډول کار کې يې تجربه درلوده. هغه سليمان پادشاه ته راغی او ټول هغه کارونه چې ورته سپارل شوي وو سرته يې ورسول.

## دوه برنجي ستنې

(دوهم تواريخ ۳: ۱۵ – ۱۷)

﴿۱۵﴾ حورام دوه برنجي ستنې په قالب کې جوړې کړې چې د هرې يوې لوړوالى اته متره او ګردچاپېر يې پنځه متره او دېرش سانتي ؤ. ﴿۱۶﴾ همدارنګه هغه د قالب شويو برنجو شخه دوه تاجونه جوړ کړل او د ستنو په سر باندې يې کېښودل. هر تاج دوه متره او شل سانتي لوړ ؤ. ﴿۱۷﴾ د اوبدل شويو ځنځيرونو يو جال ؤ چې د ستنو په سر باندې يې تاجونه سينګار کړي وو. د هر تاج دپاره اووه دانې ځنځيرونه وو. ﴿۱۸﴾ هغه په دوه قطارونو کې برنجي انار جوړ کړل چې د هر جال شخه راتاو شي او هغه تاجونه چې د ستنو په سر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې دي، ښکلي کړي. ۱۹ هغه تاجونه چې په دالان کې د ستنو په سر باندې وو، د
سوسن د ګلونو په شکل وو او يو متر او اتيا سانتي لوړوالي يې درلودل. ۲۰ د دواړو ستنو
په تاجونو باندې د کاسه شکله برخې دپاسه چې د جال په څنګ کې وه په چارچاپېره
قطارونو کې دوه سوه برنجي اناره وو. ۲۱ حورام د خدای د کور د دروازې په مخکې دا
دوه برنجي ستنې ودرولې. د جنوبي خوا ستن يې د ياکين په نوم او د شمالي خوا ستن يې د
بوعز په نوم ياده کړه. ۲۲ د ستنو په سر باندې د سوسن د ګلونو په شکل برنجي تاجونه
وو. په دې توګه د ستنو کار سرته ورسېده.

## د اوبو برنجي حوض

(دوهم تواريخ ۴: ۲ – ۵)

۲۳ حورام د برنجو څخه يوه ګرده ټانکۍ جوړه کړه، چې ژوروالی يې دوه متره او شل
سانتي، قطر يې څلورنيم متره او ګردچاپېر يې ديارلس نيم متره ؤ. ۲۴ د ټانکۍ د غاړې
ګردچاپېره د برنجي کدوانو دوه قطارونه وو، چې د ټانکۍ د نورو برخو سره يوځای قالب
شوي وو. ۲۵ ټانکۍ د دولسو برنجي غوايانو په شا باندې ولاړه وه چې درې يې شمال
ته، درې يې جنوب ته، درې يې ختيځ ته او درې يې لوېديځ ته مخامخ وو. ټانکۍ د هغو
دپاسه وه او د هغو سرونه بيرون خواته وو. ۲۶ د هغه پنډوالی پنځه اويا ملي متره ؤ او
څنډه يې د جام د څنډې په شان وه، لکه د سوسن د غوړېدلي ګل په شان. په دې ټانکۍ
کې د څلوېښت زرو ليترو نه زياتې اوبه ځائېدلې.

## برنجي ګاډۍ او تشتونه

۲۷ همدارنګه حورام لس برنجي ګاډۍ جوړې کړې چې هرې يوې يو متر او اتيا سانتي
اوږدوالی، يو متر او اتيا سانتي سور او يو متر او دېرش سانتي لوړوالی درلود. ۲۸ د ګاډيو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نقشه په دې ډول وه: د ګاډۍ په چوکاټونو کې څلور کنجه تختې ایښودل شوې وې. (۲۹)
په څلور کنجه تختو باندې د زمریانو، غوایانو او کروبیانو نقشونه وو. په چوکاټونو باندې د
زمریانو او غوایانو د نقشونو دپاسه او لاندې د ګلانو د غنچو نقشونه وو، چې د ټکول شوي
فلز څخه جوړ شوي وو. (۳۰) هرې ګاډۍ د برنجي اکسلونو سره څلور برنجي عرابې
درلودلې. د تشت دپاره په څلورو کنجونو کې برنجي کومکي میلې وې. د هغو په هر اړخ
کې د ګلانو د غنچو نقشونه وو. (۳۱) د تشت دپاره د ګاډۍ په سر باندې یو ګرد چوکاټ ؤ.
هغه د ګاډۍ د سر څخه پنځه څلوېښت سانتي متره پورته خواته او اووه شپېته سانتي متره
لاندې دننه خواته غزېدلی ؤ. د خولې چارچاپېره یې چې ګرده وه نقشونه ایستل شوي وو. د
ګاډیو تختې ګردې نه وې، بلکه څلور کنجه وې. (۳۲) څلور عرابې د تختو لاندې وې او د
عرابو اکسلونه د ګاډیو پورې نښتي وو. د هرې عرابې قطر اووه شپېته سانتي ؤ. (۳۳)
نومړې عرابې د جنګي ګاډیو د عرابو په شان جوړې شوې وې. د هغوی اکسلونه، ژۍ
ګانې، پرې او د عرابو منځنۍ برخې ټول په قالب کې د برنجو څخه جوړ شوي وو.

(۳۴) د هرې ګاډۍ په لاندینیو څلورو کنجونو کې څلور کومکي ستنې وې چې د ګاډۍ
سره نښتې وې. (۳۵) د ګاډۍ په سر باندې یوه ګرده کړۍ وه چې دوه ویشت سانتي لوړوالی
یې درلود. کومکي ستنې او تختې د ګاډۍ د سر پورې نښتې وې. (۳۶) هغه په کومکي ستنو
او تختو باندې په هر خالي ځای کې د کروبیانو، زمریانو او د خرما د ونو نقشونه جوړ کړل
او د هغو سره چارچاپېره د ګلانو د غنچو نقشونه وو. (۳۷) په دې ډول هغه لس ګاډۍ
جوړې کړې، چې ټولې په یو قالب کې جوړې شوې وې او د اندازې او شکل له مخې یو
شان وې.

(۳۸) همدارنګه حورام لس برنجي تشتونه جوړ کړل چې د هرې ګاډۍ دپاره یو تشت ؤ. د
هر تشت قطر یو متر او اتیا سانتي ؤ او شاوخوا اته سوه لیتره اوبه په کې ځائېدل. (۳۹) هغه
پنځه ګاډۍ د خدای د کور په جنوب کې او پنځه یې په شمال کې ځای په ځای کړې. د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای د کور په جنوب ختیځ کنج کې یې ټانکی کېښوده.

## د خدای د کور د لوازمو لست

(دوهم تواریخ ۴: ۱۱ – ۵: ۱)

۴۰ حورام همدارنګه تشتونه، بېلچې او د وینو د شیندلو کاسې جوړې کړې.

نو حورام هغه ټول کارونه پای ته ورسول چې د سلیمان پادشاه دپاره یې د څښتن د کور په خاطر په خپله غاړه اخیستي وو:

- ۴۱ دوه ستنې
- د ستنو په سر باندې دوه کاسه شکله تاجونه
- د جالونو دوه سېټونه د ستنو په سر باندې د دوه کاسه شکله تاجونو د سینګارولو دپاره
- ۴۲ د دوو سېټونو د جالونو دپاره څلورسوه برنجي انار. (د هر جال دپاره د برنجي انارو دوه قطارونه چې د ستنو په سر باندې د کاسه شکله تاجونو د ښکلا دپاره وو.)
- ۴۳ لس ګاډۍ د هغو د لسو تشتونو سره
- ۴۴ ټانکی او د هغې لاندې دولس برنجي غوایان
- ۴۵ لوښي، بېلچې او د وینو د شیندلو دپاره کاسې.

د څښتن د کور دا ټول لوازم چې حورام د سلیمان پادشاه دپاره جوړ کړي وو، د صیقل شویو برنجو څخه وو. ۴۶ دا شیان پادشاه د اردن په دره کې د سوکوت او زرتان ترمنځ د خاورې په قالبونو کې جوړ کړي وو. ۴۷ سلیمان دا شیان ونه تلل، ځکه چې هغه ډېر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زيات وو او د برنجو وزن معلوم نه شو.

۴۸ همدارنګه سليمان د څښتن د کور دپاره ټول لوازم جوړ کړل:

- د قرباني ځای د سرو زرو څخه.
- د سرو زرو مېز چې هغه سپېڅلې ډوډۍ به ورباندې اېښودل کېده چې خدای ته به نذرانه کېدله.
- ۴۹ څراغدانونه چې د سوچه سرو زرو څخه وو (ډېر مقدس ځای ته مخامخ، پنځه ښي خواته او پنځه چپ خواته).
- د سرو زرو د ګلانو نقشونه، څراغونه او انبورونه.
- ۵۰ د سوچه سرو زرو تشتونه، د پلتې پاکوونکي، د وينو د شيندلو کاسې، د خوشبويۍ پشقابونه او د اور لوښي.
- د ډېر مقدس ځای د دروازو دپاره او همدارنګه د خدای د کور د اصلي سالون د دروازو دپاره د سرو زرو چپراسونه.

۵۱ کله چې سليمان پادشاه د څښتن د کور ټول کارونه پای ته ورسول، بيا سليمان هغه شيان يعنې سپين او سره زر او نور لوازم چې د هغه پلار داود څښتن ته وقف کړي وو، هغه يې د څښتن د کور په تحويلخانو کې کېښودل.

## د خدای کور ته د لوظ صندوق راوړل

(دوهم تواريخ ۵: ۲ – ۶: ۲)

**۸** ۱ وروسته بيا سليمان د اسراييلو سپين ږيري، د قبيلو ټول مشران او د اسراييلو د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلونو رئیسان اورشلیم ته راوغوښتل، چې د ښبنتن د لوظ صندوق د صهیون یعنې د داود د ښار څخه د خدای کور ته یوسي. ﴿۲﴾ د کال په اوومه یعنې د ایتانیم په میاشت هغوی ټول د سلیمان پادشاه په وړاندې د جونګړو د اختر په وخت کې راغونډ شول.

﴿۳﴾ کله چې د اسراییلو ټول سپین ږیري راغونډ شول، کاهنانو د لوظ صندوق پورته کړ ﴿۴﴾ او هغه یې د خدای کور ته انتقال کړ. لاویانو او کاهنانو هم د ښبنتن مقدسه خېمه او د هغې ټول سپېڅلي لوازم د خدای کور ته راوړل. ﴿۵﴾ سلیمان پادشاه او د اسراییلو ټول قوم د لوظ د صندوق مخې ته راغونډ شول او دومره ډېر پسونه او غوایان یې قرباني کړل چې نه شمېرل کېدل.

﴿۶﴾ کاهنانو د ښبنتن د لوظ صندوق خپل ځای ته چې د خدای په کور کې ؤ، یعنې ډېر مقدس ځای ته راوړ او هغه یې د کروبیانو د وزرونو لاندې کېښود. ﴿۷﴾ کروبیانو خپل وزرونه په هغه ځای باندې چې هلته د لوظ صندوق ؤ وغوړول. هغوی په صندوق او د هغه په انتقالوونکو میلو باندې سیوری واچاوه. ﴿۸﴾ میلې دومره اوږدې وې چې د هغوی سرونه د خدای د کور د اصلي سالون څخه چې ډېر مقدس ځای ته مخامخ ؤ لیدل کېدلې، مګر د کوم بل ځای څخه نه لیدل کېدلې. هغه میلې تر نن ورځې پورې په هغه ځای کې دي. ﴿۹﴾ د لوظ په صندوق کې بل هیڅ شی نه ؤ، پرته د تیږو د هغو دوو لوحو څخه چې موسیٰ د سینا په غره کې په هغه کې ایښې وې، چېرته چې ښبنتن د هغوی د مصر څخه د وتلو وروسته د اسراییلو د خلکو سره لوظ وکړ.

﴿۱۰﴾ کله چې کاهنان د خدای د کور د اصلي سالون یعنې مقدس ځای څخه دباندې راووتل، ناڅاپه د ښبنتن کور د ورېځې څخه ډک شو. ﴿۱۱﴾ کاهنانو د ورېځې له کبله ونه شو کولی چې خپل خدمت ترسره کړي، ځکه چې د ښبنتن کور د هغه د جلال څخه ډک شوی ؤ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ سلیمان وویل: <ښښتن ویلي دي چې هغه به په توري وریځې کې اوسیږي. ۱۳ په
ربښتیا مې ستا دپاره یو پرتمین کور جوړ کړی دی، داسې ځای چې د تل دپاره په کې
واوسیږې.>

## د سلیمان وینا قوم ته

(دوهم تواریخ ۶: ۳ – ۱۱)

۱۴ کوم وخت چې د اسراییلو خلک په هغه ځای کې ولاړ وو، پادشاه خپل مخ د هغوی
خواته راواړاوه او د خدای ښخه یې هغوی ته برکت وغوښت. ۱۵ بیا هغه وویل: <ثناه
دې وي د اسراییلو ښښتن خدای ته! کومه وعده چې هغه زما د پلار داود سره کړې وه هغه
یې سرته ورسوله. ښښتن داود ته ویلي وو: ۱۶ له هغه وخت راهیسې چې ما خپل قوم د
مصر ښخه راوویست، ما د اسراییلو په کومې قبیلې کې هیڅ یو ښار غوره نه کړ چې په هغه
کې دې زما دپاره کور جوړ شي او زما عبادت دې په کې وشي. مګر داوده، ته مې غوره
کړې چې زما په قوم باندې پادشاهي وکړې.> ۱۷ سلیمان زیاته کړه: <دا زما د پلار
هیله وه چې د اسراییلو د ښښتن خدای د عبادت دپاره یو کور جوړ کړي. ۱۸ مګر
ښښتن هغه ته وویل: ستا هیله په ځای وه چې غوښتل دې زما د عبادت دپاره یو کور جوړ
کړې، ۱۹ مګر ته به هغه جوړ نه کړې. بلکه ستا خپل زوی به زما کور جوړ کړي.

۲۰ هغه وعده چې ښښتن کړې وه، هغه یې سرته ورسوله. ما د خپل پلار داود ځای ونیوه
او اوس د اسراییلو په تخت باندې ناست یم او د اسراییلو د ښښتن خدای د عبادت دپاره
مې کور جوړ کړ. ۲۱ همدارنګه ما د خدای په کور کې د لوظ د صندوق دپاره ځای تیار
کړ. په هغه کې د ښښتن د هغه لوظ د تیږو لوحې دي، یعنې هغه لوظ چې زمونږ د نیکونو
سره یې د مصر ښخه د راویستلو په وخت کې کړی ؤ.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سلیمان دعا

(دوهم تواریخ ۶: ۱۲ – ۴۲)

۲۲ بیا سلیمان د څښتن د قربانۍ د ځای مخې ته د اسراییلو د غونډې په مخ کې ودرېده
او خپل لاسونه یې د اسمان خواته پورته کړل ۲۳ او دعا یې وکړه: «ای د اسراییلو
څښتن خدایه، پورته په اسمان او لاندې په ځمکه کې ستا په شان خدای نشته! ته د خپلو
خلکو سره په خپل لوظ باندې ټینګ ولاړ یې او هغوی ته چې د زړه له کومې ستا اطاعت
کوي خپله تلپاتې مینه ښکاره کړې. ۲۴ هغه وعده چې تا زما پلار یعنې خپل خدمتګار داود
سره کړې وه هغه دې نن ترسره کړه.

۲۵ نو اوس ای د اسراییلو څښتن خدایه! زه دعا کوم چې ته هغه بله وعده هم سرته
ورسوې چې زما د پلار سره دې کړې وه او ویلي دې وو: که ستا اولاده د ستا په شان په
غور سره زما اطاعت وکړي، نو تل به یو د هغو څخه د اسراییلو پادشاه وي. ۲۶ نو اوس،
ای د اسراییلو خدایه! د هر شي وعده چې تا د خپل خدمتګار، یعنې زما د پلار داود سره
کړې وه، هغه دې ربښتیا شي.

۲۷ مګر ای خدایه، آیا ته په ربښتیا سره کولی شې چې په ځمکه ژوند وکړې؟ حتیٰ ټول
اسمانونه دومره لوی نه دي چې ته په کې ځای شې، نو څنګه به وکولی شې چې په دې کور
کې چې ما د ستا دپاره جوړ کړی دی واوسېږې؟ ۲۸ بیاهم ای زما څښتن خدایه، د خپل
خدمتګار دعا او هغه زارۍ چې ستا د رحم دپاره یې کوي قبولې کړه. هغه دعا او فریاد چې
ستا خدمتګار یې نن ستا په حضور کې کوي واوره. ۲۹ په دې کور باندې شپه او ورځ
خپل نظر وساته، دا ځای چې تا د خپل عبادت دپاره غوره کړی دی. هرکله چې زه خپل
مخ دې کور ته اړوم او دعا کوم، هغه دعا قبوله کړه! ۳۰ د خپل خدمتګار او د خپل قوم
اسراییلو زارۍ چې د دې ځای لورې ته یې کوي، واوره. د خپل استوګنځي یعنې د اسمان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښخه یې واوره او چې کله دې واوریدې نو مونږ وبخښه.

۳۱ کله چې یو سړی د بل سړي په مقابل کې په ګناه کولو باندې تورن شوی وي او هغه
د خدای د کور د قربانۍ ځای ته راوستل شي او دا قسم وخوري چې هغه بې ګناه دی، ۳۲
ای ښښتنه، په اسمان کې یې واوره او د هغوی ترمنځ قضاوت وکړه. ګناهګار ته داسې سزا
ورکړه ښنګه چې د هغې وړ دی او هغه ښوک چې بې ګناه وي هغه ازاد کړه.

۳۳ کله چې ستا قوم اسراییل د هغې ګناه له کبله چې ستا په مقابل کې یې کړې وي د
دښمن له خوا ماتې وخوري او کله چې هغوی بېرته ستا خواته راوګرځي او د دې اقرار
وکړي چې ستا په مقابل کې یې ګناه کړې ده او په دې کور کې تاته دعا او زاری وکړي،
۳۴ په هغه وخت کې په اسمان کې هغه دعا او زاری قبولې کړه، د خپل قوم اسراییلو ګناه
وبخښه او هغوی بېرته هغې ځمکې ته راوله چې د هغوی نیکونو ته دې ورکړې وه.

۳۵ فرض کړه د خپل قوم د ګناه له کبله چې د ستا په مقابل کې یې کړې وي باران
ودروي. کله چې هغوی توبه وباسي، د دې کور په لور مخ راواړوي او په عاجزی سره تاته
دعا وکړي، ښکه چې تا هغوی ته سزا ورکړې ده، ۳۶ نو بیا د هغوی دعا په اسمان کې
واوره او د خپل قوم اسراییلو ګناهونه وبخښه. هغوی ته د ژوند سمه لاره وروښایه او په هغه
ښمکه باندې چې تا خپل قوم ته د ملکیت په توګه ورکړې ده باران وورو‌ه.

۳۷ کله چې په هېواد باندې قحطي، وبا، د وروست والي مرض یا د ملخانو یرغل راشي یا
د هغوی دښمنان د هغوی ښارونه کلابند کړي، هره بلا یا مرض چې راشي، ۳۸ د هغوی
دعاګانې او زاری واوره. که چېرې ستا د قوم اسراییلو ښخه یو ښوک د زړه له خفګانه خپل
لاسونه د دې کور لورې ته پورته کړي، ۳۹ د هغوی دعا واوره. په خپل استوګنځي، یعنې
په اسمان کې هغوی ته غوږ ونیسه، هغوی وبخښه او مرسته ورسره وکړه. یوازې ته د انسان
د زړه ښخه خبر یې. د هر سړي سره داسې رویه وکړه ښنګه چې د هغې وړ وي، ۴۰



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترخو ستا خلک ټول ژوند په هغې ځمکې کې چې تا زمونږ نیکونو ته ورکړې وه ستا اطاعت وکړي.

(۴۱)-(۴۲) کله چې یو پردی سړی د لیرې هېواد څخه، چې ستا لوی نوم او شهرت یې اورېدلی وي او ستا د قدرت او معجزو خبر شوی وي، راشي او د دې کور لورې ته دعا وکړي، (۴۳) نو د اسمان څخه چې ستا د اوسېدلو ځای دی د هغه دعا قبوله کړه او هرڅه چې هغه سړی درڅخه غواړي ورته ورېې کړه. په دې توګه به د ټولې نړۍ قومونه ستا د خپل قوم اسراییلو په شان تا وپېژني، ستا اطاعت به وکړي او په دې باندې به پوه شي چې دغه کور چې ما جوړ کړی دی ستا په نامه یادیږي.

(۴۴) کله چې ته خپل قوم لیږې چې د خپلو دښمنانو سره د جګړې دپاره لاړ شي او هغوی که هر چېرې وي، بیا د هغه ښار خواته چې تا غوره کړی دی او د دې کور په طرف چې ما ستا د عبادت دپاره جوړ کړی تاته دعا وکړي، (۴۵) د هغوی زارۍ او دعاګانې واوره. د اسمان څخه د هغوی دعاګانې قبولې کړه او هغوی ته بری ورکړه.

(۴۶) کله چې ستا قوم ستا په مقابل کې ګناه وکړي – او داسې څوک نشته چې ګناه ونه کړي – او ته په هغوی په قهر شې، پرېږدې چې دښمنان هغوی ته ماتې ورکړي او هغوی خپل هېواد ته که هغه نژدې وي یا لیرې د اسیرانو په توګه بوځي، (۴۷) نو د خپلو خلکو زارۍ او دعاګانې واوره. که هغوی د اسیرتوب په هېواد کې توبه وباسي، تاته زارۍ وکړي او دا اقرار وکړي، چې هغوی خومره ګناهګار او بد عمله دي، نو ای څښتنه! د هغوی زارۍ او دعاګانې قبولې کړه. (۴۸) که چېرې هغوی په هغه هېواد کې په رښتیا او اخلاص سره توبه وباسي او د هغه هېواد چې تا زمونږ نیکونو ته ورکړی دی، هغه ښار چې تا غوره کړی دی او د دې کور په طرف چې ستا دپاره مې جوړ کړی دی، خپل مخونه واړوي او تاته دعا وکړي، (۴۹) نو هغه وخت د هغوی زارۍ او دعاګانې واوره. په اسمان کې چې ستا د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسېدلو ځای دی، هغه قبولې کړه او د هغوی سره مرسته وکړه. (۵۰) د هغوی ټول ګناهونه او یاغي توب چې د ستا په وړاندې یې کړی دی وبخښه او د هغوی اسیروونکي مجبور کړه چې د هغوی سره په مهربانۍ چلند وکړي. (۵۱) ځکه چې هغه ستا خپل غوره شوی قوم دی چې د مصر څخه، یعنې د اوسپنې د ویلې کولو د داش څخه دې بیرون راوویستل.

(۵۲) څښتن تعالیٰ! ستا نظر دې د خپل خدمتګار او خپل قوم اسراییلو د زاریو په لور وي او هرکله چې هغوی تاته فریاد وکړي هغه واوره. (۵۳) ځکه هغه وخت چې تا زمونږ نیکونه د مصر څخه راوویستل، د خپل خدمتګار موسیٰ په وسیله دې اعلان وکړ چې اسراییل مې د نړۍ د ټولو قومونو څخه غوره کړ چې زما خاص قوم شي.>

## اخرنۍ دعا

(۵۴) کله چې سلیمان څښتن ته دا زارۍ او دعاګانې پای ته ورسولې، د څښتن د قربانۍ د ځای د مخې څخه چې هغه په کې په ګونډو ؤ، پاڅېده او خپل لاسونه یې د اسمان خواته پورته کړل. (۵۵) هغه ودرېد او په لوړ اواز سره یې د اسراییلو د هغو ټولو خلکو دپاره چې هلته راغونډ شوي وو برکت وغوښت او ویې ویل: (۵۶) <د څښتن ثناه دې وي! هغه خپل قوم اسراییلو ته د وعدې سره سم ارامي ورکړه. هغه ټولې سخاوتمندانه وعدې چې د خپل خدمتګار موسیٰ په وسیله یې کړې وې سرته ورسولې. (۵۷) لکه څنګه چې زمونږ څښتن خدای زمونږ د نیکونو سره ؤ زمونږ سره دې هم وي. هغه دې مونږ هیڅکله نه پرېږدي او زمونږ څخه دې لاس وانخلي. (۵۸) هغه دې زمونږ ارادې بدلې کړي ترڅو مونږ تل د هغه د غوښتنې سره سم ژوند وکړو او هغه قوانین او حکمونه چې زمونږ نیکونو ته یې ورکړي وو سرته ورسوو. (۵۹) هیله کوم چې زمونږ څښتن خدای د تل دپاره زما دعا او دا غوښتنې چې د هغه څخه مې کړې دي په یاد وساتي. هغه دې تل په خپل قوم اسراییلو او د هغوی په پادشاه باندې رحم وکړي او د هغوی ورځنۍ اړتیاوې دې پوره کړي، (۶۰) ترڅو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د نړۍ ټول قومونه پوه شي چې څښتن يوازينی خدای دی – بل خدای نشته. ﴿۶۱﴾ تاسو خپل څښتن خدای ته چې د هغه قوم ياست، وفادار اوسئ او لکه څنګه چې نن يې سرته رسوئ، د هغه د ټولو قوانينو او حکمونو څخه اطاعت وکړئ.>

## سليمان او د خدای د کور وقف

(دوهم تواريخ ۷: ۴ – ۱۰)

﴿۶۲﴾ وروسته بيا پادشاه او د هغه سره ټولو اسراييليانو د څښتن حضور ته قرباني وړاندې کړې. ﴿۶۳﴾ سليمان دوه ويشت زره غوايان او يوسلو شل زره پسونه او وزې د سلامتۍ د نذرانې په توګه څښتن ته قرباني کړې. نو په دې ډول پادشاه او ټولو اسراييليانو د څښتن کور وقف کړ.

﴿۶۴﴾ په هماغې ورځ پادشاه د انګړ منځنی برخه يعنې د خدای کور ته مخامخ سيمه سپېځلې وګرځوله، هغه ځکه دا کار وکړ چې د برنجو څخه جوړ شوی د قربانۍ ځای د دې ټولو نذرانو د ځايېدلو دپاره ډېر کوچنی ؤ. نو هلته يې سوزېدونکې نذرانې، د غلو دانو نذرانې او د څارويو وازګې د سلامتۍ د نذرانو دپاره وړاندې کړې.

﴿۶۵﴾ سليمان او د اسراييلو قوم څوارلس ورځې د خدای په کور کې اختر ولمانځه. په هغه کې په شمال کې د حمات د کنډو څخه نيولې په جنوب کې د مصر تر پولې پورې ډېر خلک راغلي وو. ﴿۶۶﴾ په راتلونکې ورځ هغه خلک رخصت کړل. هغوی د پادشاه ستاينه وکړه او د هغو ټولو ښو کارونو په خاطر چې څښتن د خپل خدمتګار داود او خپل قوم اسراييلو دپاره يې کړي وو په خوښۍ او خوشاله زړونو خپلو کورونو ته لاړل.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سليمان ته د ښبنتن بيا ښکاره کېدل

(دوهم تواريخ ۷: ۱۱ – ۲۲)

**۹** ۱ کله چې سليمان د ښبنتن د کور او د شاهي ماڼۍ جوړونه پای ته ورسوله او هغه
څه چې هغه د جوړولو پلان درلود ترسره يې کړل، ۲ ښبنتن د دوهم ځل دپاره هغه ته
ورښکاره شو، لکه څنګه چې په جبعون کې ورته ښکاره شوی ؤ. ۳ ښبنتن هغه ته
وويل: <ما ستا هغه زاری او دعا چې زما حضور ته دې کړې وې قبولې کړې. دا کور چې
تا د هغه ځای په توګه چې تل به په کې زما عبادت کيږي جوړ کړی دی هغه مې سپېڅلی
کړ. زه به په هغه باندې خپل نظر ساتم او تل به د هغه ساتنه کوم. ۴ که چېرې ته د خپل
پلار داود په شان، په صداقت او پاکۍ سره زما خدمت وکړې او که ته زما د قوانينو څخه
اطاعت وکړې او هر هغه څه چې ما درته د هغه حکم کړی دی سرته ورسوې، ۵ زه به
هغه وعده پوره کړم چې ستا د پلار داود سره مې کړې وه او ويلي مې وو چې د هغه اولاده
به تل تر تله په اسراييلو باندې پادشاهي وکړي.

۶ مګر که چېرې تاسو يا ستاسو اولاده زما څخه پيروي کول پرېږدئ او د هغو قوانينو
او حکمونو څخه سرغړونه وکړئ چې تاسو ته مې درکړي دي او د نورو خدايانو خدمت او
عبادت وکړئ، ۷ نو زه به خپل قوم اسراييل د هغه هېواد څخه وباسم چې هغوی ته مې
ورکړی دی. همدارنګه به دا کور چې ما سپېڅلی کړی ؤ چې زما عبادت به په کې کيږي،
پرېږدم. په هر ځای کې به خلک په اسراييلو باندې ملنډې ووهي او د هغوی سره به سپکه
رويه وکړي. ۸ دا د خدای کور به په يوې کنډوالې باندې بدل شي او هرڅوک چې د
هغې په خوا کې تېرېږي هغه به هک پک او حيران شي. هغوی به پوښتنه کوي: ښبنتن ولې
دې هېواد او دې کور سره داسې عمل کړی دی؟ ۹ خلک به په ځواب کې وايي: دا ځکه
چې هغوی خپل ښبنتن خدای چې د هغوی نيکونه يې د مصر څخه راويستلي وو پرې
ايښی دی. هغوی نور خدايان غوره کړي دي او د هغوی خدمت او عبادت کوي. په دې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاطر ښبنتن په هغوی باندې دا ناوړين راوستی دی.>

## د حيرام سره د سليمان تړون

(دوهم تواريخ ٨: ١ – ٢)

١٠ د شلو کالو په آخر کې چې سليمان په کې د ښبنتن کور او شاهي ماڼۍ جوړه کړه،
١١ هغه د صور پادشاه حيرام ته د جليل شل ښارګوټي ورکړل، ځکه چې حيرام هغه ته د
صبر او ناجو هغه ټول لرګي او همدارنګه ټول سره زر چې هغه ورځخه غوښتي وو، تيار
کړي وو. ١٢ مګر کله چې حيرام د صور ځخه د هغو ښارګوټو د ليدلو دپاره ورغی چې
سليمان ورته ورکړي وو، هغه يې خوښ نه شول. ١٣ هغه پوښتنه وکړه: <ای زما وروره،
دا څه قسم ښارګوټي دي چې ماته دې راکړي دي؟> له همدې کبله نوموړي ښارګوټي تر
ننه پورې د بې ارزښته ښارګوټو په نوم ياديږي. ١٤ حيرام سليمان ته د څلورو ټنو ځخه
زيات سره زر لېږلي وو.

## د سليمان نور لوی کارونه

(دوهم تواريخ ٨: ٣ – ١٨)

١٥ سليمان پادشاه د ښبنتن د کور او د خپلې ماڼۍ د جوړولو، د اورشليم د ختيځې خوا
د ځمکې د ډکولو او د ښار د دېوال د جوړولو دپاره، همدارنګه د حاصور، مجدو او جازر د
ښارونو په بيا ودانولو کې د بيګارۍ ځخه کار واخيست. ١٦ (د مصر پادشاه فرعون په
جازر باندې حمله کړې وه، هغه يې نيولی ؤ او هغه ته يې اور اچولی ؤ. په هغه کې
اوسېدونکي کنعانيان يې وژلي وو او هغه يې بيا د واده د سوغات په توګه خپلې لور، يعنې د
سليمان ښځې ته ورکړی ؤ. ١٧ نو سليمان جازر بيا ودان کړ.) همدارنګه هغه ښکتنی
بيت حورون بېرته جوړ کړ، ١٨ بعلت او تامار چې د يهودا په صحرا کې وو هغه يې هم بيا
ودان کړل. ١٩ سليمان هغه ښارونه چې هغه زېرمې په کې ساتلې او هغه ښارونه چې د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو اسونو او جنګي ګاډيو دپاره وو، جوړ کړل. همدارنګه هغه هرڅه چې غوښتل په اورشليم، لبنان او په هغې ټولې سيمې کې چې هغه ورباندې پادشاهي کوله، جوړ کړل.

۲۰-۲۱ سليمان د بېګارۍ دپاره د کنعان د خلکو د اولادې څخه مزدوران ونيول، کوم چې د اسراييلو قوم ونه شو کولی چې د هغوی د هېواد د نيولو په وخت کې هغوی له منځه يوسي. په دې کې اموريان، حيتيان، فرزيان، حويان او يبوسيان شامل وو، چې د هغوی اولاده تر اوسه پورې غلامان دي. ۲۲ مګر سليمان د اسراييليانو څخه يو هم بېګارۍ ته ونه نيوه، بلکه هغوی د هغه عسکر، درباريان، عسکري منصبداران، قوماندانان او د هغه د جنګي ګاډيو قوماندانان او ګاډي وانان وو. ۲۳ همدارنګه هغوی د سليمان د ودانۍ د جوړولو د پروژو آمران وو. پنځه سوه او پنځوسو نفرو به د هغو خلکو څارنه کوله چې کار به يې کاوه.

۲۴ د سليمان ښځې چې د فرعون لور وه، د داود د ښار څخه خپلې نوې ماڼۍ ته چې سليمان د هغې دپاره جوړه کړې وه، کډه وکړه. وروسته بيا سليمان هغه ځمکه راډکه کړه چې د اورشليم ختيځ خواته پرته وه.

۲۵ سليمان به په کال کې درې ځله د قربانۍ په هغه ځای کې چې د څښتن دپاره يې جوړ کړی ؤ، سوزېدونکې نذرانې او د سلامتۍ نذرانې وړاندې کولې او ورسره به يې د څښتن په حضور کې خوشبويي سوزوله.

په دې توګه سليمان د خدای د کور کار پای ته ورساوه.

۲۶ همدارنګه سليمان پادشاه په عصيون جابر کې چې د ادوم په سيمه کې ايلت ته نژدې د سرې بحيرې په غاړه ؤ، کشتۍ ګانې جوړې کړې. ۲۷ حيرام خپل خلک يعنې هغه کشتۍ چلوونکې چې د درياب سره بلد وو واستول چې په کشتۍ ګانو کې د سليمان د نفرو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره کار وکړي. ۲۸ هغوی په کشتيو کې اوفير ته سفر وکړ او د څوارلسو ټنو څخه زيات
سره زر يې راوړل او هغه يې سليمان ته وسپارل.

## د سليمان او د سبا د ملکې ليدنه او کتنه

(دوهم تواريخ ۹: ۱ – ۱۲)

**۱۰** ۱ کله چې د سبا ملکې د سليمان د شهرت په باره کې واورېدل (هغه شهرت چې
څښتن سليمان ته ورکړی ؤ)، نو هغه راغله چې په سختو پوښتنو سره هغه وازمايي. ۲
هغه د يو لوی کاروان او اوښانو سره چې عطر، ډېر سره زر او قيمتي تيږې ورباندې بار وو
اورشليم ته راورسېدله. هغه سليمان ته راغله او د هغو ټولو شيانو په هکله چې د هغې په
ذهن کې وو، د هغه سره يې خبرې وکړې. ۳ سليمان د هغې ټولو پوښتنو ته ځواب
ورکړ، داسې يوه پوښتنه نه وه چې هغه يې ځواب کړې نه وي. ۴ کله چې د سبا ملکې د
سليمان حکمت او هغه ماڼۍ چې هغه جوړه کړې وه، ۵ هغه خواړه چې په مېز باندې
وو، د هغه د درباريانو د کښېناستو ترتيب، د خدمتګارانو ښه تنظيم او د هغوی کالي، د هغه
ساقيان او هغه سوزېدونکې نذرانې چې هغه د څښتن په کور کې وړاندې کولې وليدلې، ډېره
حيرانه شوه.

۶ هغې پاچا ته ووېل: <هغه څه چې ما په خپل هېواد کې ستاسو او ستاسو د کارونو
او حکمت په باره کې اورېدلي وو هغه رښتيا دي! ۷ مګر ما تر هغې پورې په دې باندې
باور نه کاوه ترڅو چې راغلمه او دا هرڅه مې په خپلو سترګو وليدل. خو حتیٰ ما د دې په
نيمايي هم نه وو اورېدلي، ستا حکمت او شتمني د هغې څخه هم ډېره زياته ده، څه چې ما
اورېدلي وو. ۸ ستاسو سړي به څومره خوشاله وي! او ستاسو درباريان به څومره خوښ
وي چې تل ستاسو په حضور کې ولاړ وي او ستاسو حکمت ويني! ۹ ستاسو د څښتن
خدای ثناء دې وي چې له تاسو څخه زيات خوشاله دی او تاسو يې د اسراييلو په تخت



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې کښېنولي ياست. د اسراييلو سره د ښبنتن د تلپاتې مينې په خاطر يې تاسو پادشاه کړي ياست چې عدالت او نېکي ټينګه کړئ.>

۱۰ هغې پادشاه ته د څلورو ټنو څخه زيات سره زر، زياته اندازه عطر او قيمتي تيږې ورکړې. څومره زيات عطر چې د سبا ملکې سليمان پادشاه ته ورکړل دومره به بيا هيڅکله رانه وړل شي.

۱۱ (د حيرام کشتيو د اوفير څخه پرته له سرو زرو ډېر زيات د صندل لرګي او قيمتي تيږې هم راوړلې. ۱۲ پادشاه د دې لرګيو څخه د ښبنتن د کور او شاهي ماڼۍ دپاره زينې او د ساز غږوونکو دپاره ربابونه جوړ کړل. د هغې ورځې څخه تر اوسه پورې دومره زيات د صندل لرګي هيڅکله نه وو راوړل شوي او نه هم ليدل شوي وو.)

۱۳ سليمان پادشاه د سبا ملکې ته برسېره په هغو شيانو چې هغې غوښتي وو، د خپل شاهانه سخاوت له مخې نور سوغاتونه هم ورکړل. وروسته بيا ملکه د خپلو خدمتګارانو سره خپل هېواد يعنې سبا ته ستنه شوه.

## د سليمان پادشاه شتمني

(دوهم تواريخ ۹: ۱۳ – ۲۸)

۱۴ سليمان پادشاه هر کال نژدې درويشت ټنه سره زر لاس ته راوړل. ۱۵ په دې کې هغه ماليات چې د سوداګرو له خوا ورکول کېدل، د تجارت ګټې او هغه باج چې د عربو د پادشاهانو او هغه ماليات چې د اسراييلو د حکمرانانو له خوا ورکول کېده شامل نه وو.

۱۶ سليمان پادشاه د ټکول شويو سرو زرو څخه دوه سوه داني لوی سپرونه جوړ کړل، په هر سپر کې نژدې اووه کيلوګرامه سره زر استعمال شوي وو. ۱۷ همدارنګه هغه د ټکول



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شویو سرو زرو څخه درې سوه دانې کوچنې سپرونه جوړ کړل، چې په هر سپر کې نژدې دوه کیلوګرامه سره زر وو. پادشاه هغه په هغه سالون کې کېښودل چې د لبنان د ځنګل په نوم یادېده.

۱۸ پادشاه د فیل د غاښونو څخه یو لوی تخت هم جوړ کړ او هغه ته یې د سوچه سرو زرو پوښ ورکړ. ۱۹ تخت ته د ورختلو دپاره شپږ زینې وې او د تخت سر د شا له خوا ګرد ؤ. د تخت دواړو خواو ته بازوګان وو او د هر یو په خوا کې د زمرې مجسمه وه. ۲۰ په شپږو زینو باندې د دولسو زمریانو مجسمې وې، د هرې زینې په اړخونو باندې یوه، یوه مجسمه وه. په بلې هیڅ پادشاهۍ کې داسې تخت نه ؤ جوړ شوی.

۲۱ د سلیمان هغه جامونه چې د څښلو دپاره وو ټول د سرو زرو څخه جوړ شوې وو. د سلیمان د ماڼۍ هغه سالون چې د لبنان د ځنګل په نامه یادېده، ټول سامان یې د سوچه سرو زرو څخه وو. سپین زر هیڅ استعمال شوي نه وو، ځکه چې د سلیمان په وخت کې سپین زر بې ارزښته ګڼل کېدل. ۲۲ هغه بحرې کشتۍ ګانې درلودلې چې د حیرام د کشتۍ ګانو سره یې سفر کاوه. د هغه کشتۍ ګانې به په هرو دریو کالو کې یوځل راستنېدلې او سره زر، سپین زر، د فیل غاښونه، بیزوګانې او د طاووس مرغان به یې راوړل.

۲۳ سلیمان پادشاه د نړۍ د نورو ټولو پادشاهانو څخه ډېر شتمن او د حکمت خاوند ؤ
۲۴ او ټولې نړۍ غوښتل چې راشې او هغه حکمت وګورې چې خدای سلیمان ته ورکړی
ؤ. ۲۵ کال په کال به چې هرڅوک راتلل، نو د ځان سره به یې دا سوغاتونه، یعنې د سپینو او سرو زرو سامانونه، چپنې، وسلې، عطر، اسونه او قچرې راوړلې.

۲۶ سلیمان خپلې جنګې قواوې چې د څوارلس سوه جنګې ګاډیو او دولس زره اسونو نه تشکیل شوې وې راغونډې کړې. یوه برخه یې په اورشلیم او نورې یې په نورو ښارونو کې ساتلې. ۲۷ د هغه د پادشاهۍ په وخت کې سپین زر په اورشلیم کې د تیږو په شان یو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

معمولي شی ؤ او د صبر د ونو لرګي لکه د يهودا د غرونو په لوېديځو لمنو کې د اينځرو د ونو په شان پرېمانه وو. ۲۸ د سليمان اسونه يې د مصر او ترکيې څخه واردول، شاهي سوداګرانو به هغه د ترکيې څخه اخيستل. ۲۹ هغوی به د مصر څخه يوه جنګي ګاډۍ په شپږ سوه مثقاله سپينو زرو او يو اس به يې په يوسلو پنځوس مثقاله سپينو زرو باندې اخيستل. همدارنګه ځينې به يې د حيتيانو او ارامیانو پر پادشاهانو هم خرڅول.

## د سليمان ښځې

١١ ١ سليمان د ډېرو بهرنيو ښځو سره مينه لرله. د فرعون د لور څخه پرته هغه د حيتي، موآب، عمون، ادوم او صيدون د ښځو سره هم ودونه وکړل. ۲ خښتن امر کړی ؤ چې اسراييليان دې د دې قومونو سره ودونه نه کوي، ځکه چې هغوی به د اسراييليانو زړونه د خپلو خدايانو په لور راواړوي. خو بياهم سليمان د هغوی په مينه کې ډوب شو او د هغوی سره يې ودونه وکړل. ۳ سليمان د اووه سوه شاهزادګيو سره ودونه وکړل او همدارنګه هغه درې سوه وينځې لرلې. هغه خپلو ښځو بې لارې کړ. ۴ کله چې سليمان زوړ شو د هغه ښځو هغه د پرديو خدايانو عبادت ته واړاوه. هغه خپل خښتن خدای ته وفادار نه ؤ لکه څنګه چې د هغه پلار داود وفادار ؤ. ۵ هغه د صيدون د بت عشتاروت او د عمون د کرکې وړ بت مولک عبادت وکړ. ۶ نو سليمان د خښتن په مقابل کې ګناه وکړه. هغه د خښتن څخه په بشپړه توګه پيروي ونه کړه لکه څنګه چې د هغه پلار داود کړې وه.

۷ سليمان په هغه غره باندې چې د اورشليم په ختيځ کې ؤ، د موآب د کرکې وړ بت کموش دپاره او د عمونيانو د کرکې وړ بت مولک دپاره د عبادت ځای جوړ کړ. ۸ همدارنګه سليمان هغه عبادت ځايونه هم جوړ کړل چې هلته به د هغه ټولو بهرنيو ښځو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشبويي سوزولې او خپلو خدايانو ته به يې قرباني وړاندې کولې.

۹-۱۰ که څه هم ښځېنتن د اسراييلو خدای دوه ځلې سليمان ته ورښکاره شوی ؤ او هغه ته يې حکم کړی ؤ چې د پرديو خدايانو عبادت دې نه کوي، خو بيا هم سليمان د ښځېنتن اطاعت ونه کړ او د هغه څخه يې پيروي ونه کړه. نو ښځېنتن سليمان ته په قهر شو ۱۱ او ورته يې وويل: <څرنګه چې تا قصداً هغه لوظ چې دې زما سره کړی ؤ مات کړ او زما قوانين او حکمونه دې عملي نه کړل، په دې خاطر په ربښتيا سره ستا څخه پادشاهي اخلم او ستا يو نوکر ته به يې ورکړم. ۱۲ خو بيا به هم زه دا کار ستا د پلار داود په خاطر ستا په ژوندانه کې ونه کړم، بلکه ستا د زوی د پادشاهی په وخت کې به يې وکړم. ۱۳ خو زه به ټوله پادشاهي د هغه څخه وانخلم، بلکه هغه ته به يوه قبيله زما د خدمتګار داود په خاطر او د اورشليم په خاطر چې هغه مې غوره کړی دی ورکړم.>

## د سليمان دښمنان

۱۴ نو ښځېنتن د سليمان په ضد يو دښمن راپورته کړ، يعني ادومي حداد چې د ادوم د شاهي کورنۍ څخه ؤ. ۱۵-۱۶ ډېر پخوا، کله چې داود د ادوم سره جګړه کوله، د هغه د لښکرو قوماندان يوآب د مړو د ښخولو دپاره هغه ځای ته لاړ. هغه د خپلو نفرو سره شپږ مياشتې په ادوم کې پاتې شو او په هغه وخت کې هغوی د ادوم ټول نارينه ووژل، ۱۷ پرته له حداد او د هغه د پلار د ځينو ادومي خدمتګارانو څخه، چې مصر ته وتښتېدل. (په هغه وخت کې حداد هلک ؤ.) ۱۸ هغوی د مديان څخه روان شول او فاران ته لاړل. د فاران څخه يې د ځان سره نفر واخيستل او په مصر کې فرعون پادشاه ته ورغلل. هغه حداد ته کور او ځمکه ورکړه او خواړه يې ورته تيارول.

۱۹ فرعون د حداد څخه دومره خوشاله ؤ چې هغه ورته د خپلې ښځې خور يعنې د ملکې تحفنيس خور ورکړه. ۲۰ هغې حداد ته زوی وزېږاوه چې ګنوبت نومېده او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تحفنیس په شاهي مانۍ کې د هغه روزنه کوله. ګنوبت هلته د فرعون د زامنو سره اوسېده.

۲۱ کله چې په مصر کې حداد ته خبر ورسېد چې داود او د هغه د لښکرو قوماندان یوآب مړه شوي دي، نو حداد فرعون ته وویل: <اجازه راکړئ چې بېرته خپل وطن ته لاړ شم.>

۲۲ فرعون پوښتنه وکړه: <څه شی دې کم دی چې ته غواړې بېرته خپل وطن ته لاړ شې؟>

حداد ځواب ورکړ: <هیڅ. مګر ماته اجازه راکړئ چې لاړ شم!>

۲۳ خدای د سلیمان په مقابل کې یو بل دښمن هم، یعني رزون د الیداع زوی راپورته کړ چې هغه د خپل بادار، هدد عزر څخه چې د صوبې پادشاه ؤ، تښتېدلی ؤ. ۲۴ هغه خپل شاوخوا ته یو څو نفره راټول کړل او د یاغیانو د ډلې مشر شو. دا په هغه وخت کې وشو چې داود د صوبې ځواکونه له منځه یوړل. یاغیان دمشق ته لاړل، هلته هغوی ځای په ځای شول او د هغه ځای کنترول یې په لاس کې ونیوه. ۲۵ برسېره پر هغې نارامۍ چې د حداد له خوا راپیدا کېدله، رزون هم د سلیمان د ژوند تر پایه د اسراییلو دښمن ؤ. رزون په سوریې باندې پادشاهي کوله او د اسراییلو څخه یې کرکه کوله.

## د یروبعام یاغیتوب

۲۶ همدارنګه د نباط زوی یروبعام هم د پادشاه په مقابل کې یاغي شو. هغه د افرایم د صریده او د سلیمان د مامورانو څخه ؤ. د هغه مور صروعه نومېدله او کونډه وه. ۲۷ دا هغه قصه ده چې څنګه هغه د پادشاه په مقابل کې یاغي شو.

سلیمان د خپل پلار داود د ښار د دېوال سوری جوړاوه او د ختیځې خوا ځمکه یې ډکوله. ۲۸ یروبعام یو تکړه ځوان ؤ او کله چې سلیمان متوجه شو چې هغه څومره سخت کار



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوي، نو هغه يې د منسي او افرايم د قبيلو د ټولو مزدورانو مسئول وټاکه.

(۲۹) يوه ورځ چې يروبعام د اورشليم ځخه بيرون روان ؤ، اخيا نبي چې د شيلوه ځخه ؤ او
نوې چپنه يې اغوستې وه په لاره کې د هغه سره مخامخ شو. هغوی دواړه په سارا کې
يوازې وو.

(۳۰) اخيا خپله نوې چپنه وويستله، هغه يې وشکوله او دولس ټوټې يې کړه. (۳۱) بيا يې
يروبعام ته وويل: <لس ټوټې خپل ځان ته واخله، ځکه چې د اسراييلو ښبنتن خدای درته
وايي: ګوره، په دې نژدې وخت کې به زه د سليمان ځخه پادشاهي واخلم او لس قبيلې به
تاته درکړم. (۳۲) مګر د خپل خدمتګار داود او د اورشليم په خاطر چې هغه مې د اسراييلو
د ټولو قبيلو ځخه غوره کړی دی، سليمان ته به يوه قبيله پرېږدم. (۳۳) زه ځکه دا کار کوم
چې سليمان او د اسراييلو خلکو زه پرېښودم او د پرديو خدايانو، يعني د صيدونيانو د بت
عشتاروت، د موآبيانو د بت کموش او د عمونيانو د بت مولک عبادت کوي. هغوی زما د
امر سرغړونه کړې ده، هغوی ګناه کړې ده او زما د قوانينو او حکمونو ځخه يې پيروي نه ده
کړې لکه ښنګه چې د سليمان پلار داود کوله.

(۳۴) مګر زه به د سليمان ځخه ټوله پادشاهي وانخلم. د خپل خدمتګار داود په خاطر چې
ما غوره کړی ؤ او زما حکمونه او قوانين يې عملي کړي وو هغه به پرېږدم چې د خپل مرګ
تر وخته پورې پادشاه وي. (۳۵) د سليمان د زوی ځخه به پادشاهي واخلم او تاته به لس
قبيلې درکړم. (۳۶) خو زه به يوه قبيله د هغه زوی ته پرېږدم، ترڅو زما د خدمتګار داود
ځراغ په اورشليم کې، په هغه ښار کې چې ما د خپل عبادت دپاره غوره کړی دی تل
روښانه پاتې شي. (۳۷) ای يروبعامه! زه به تا د اسراييلو پادشاه کړم او په هغې ټولې سيمې
باندې به پادشاهي وکړې چې ته يې غواړې. (۳۸) که چېرې په کامل ډول زما اطاعت
وکړې، زما د قوانينو په مطابق ژوند وکړې، زما حکم سرته ورسوې او هغه کار وکړې چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما په نظر ښه دی لکه څنګه چې زما خدمتګار داود کول، نو زه به تل ستا سره یم. زه به تا
د اسراییلو پادشاه کړم او په یقین سره به داسې وکړم لکه څنګه چې ما د داود دپاره وکړل،
چې ستا اولاده به ستا څخه وروسته پادشاهي کوي. ٣٩ زه به د سلیمان د ګناه له کبله د
داود اولادې ته سزا ورکړم، مګر تر ابده پورې نه.>

٤٠ په دې خاطر سلیمان هڅه وکړه چې یروبعام ووژني، مګر یروبعام د مصر پادشاه
شیشق ته وتښتېد او د سلیمان تر مړینې پورې هلته پاتې شو.

## د سلیمان مړینه

(دوهم تواریخ ۹: ۲۹ – ۳۱)

٤١ د سلیمان د پادشاهۍ نورې ټولې پېښې، دا چې هغه څه کړي دي او هغه حکمت چې
هغه ښودلی ؤ، د سلیمان د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ٤٢ سلیمان څلوېښت کاله
په اورشلیم کې په ټولو اسراییلو باندې پادشاهي وکړه. ٤٣ نو وروسته هغه مړ شو او د
خپل پلار داود په ښار کې ښخ شو. د سلیمان په ځای د هغه زوی رحبعام پادشاه شو.

## د شمالي قبیلو یاغیتوب

(دوهم تواریخ ۱۰: ۱ – ۱۹)

١٢ ١ رحبعام شکیم ته لاړ، ځکه چې ټول اسراییلیان هلته راغونډ شوي وو چې هغه
پادشاه کړي. ٢ کله چې د نباط زوی یروبعام چې د سلیمان له لاسه مصر ته تښتېدلی ؤ،
دا خبر واورېد، هغه په مصر کې نور هم پاتې شو. ٣ خو هغوی یروبعام راوغوښت او
هغه او د اسراییلو ټول خلک رحبعام ته ورغلل او هغه ته یې ووېل: ٤ >ستاسو پلار
سلیمان زمونږ سره ډېره سخته رویه کوله او درونډ بار یې په مونږ باندې ایښی ؤ. که چېرې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو دا بار زمونږ څخه سپک کړئ او زمونږ دپاره ژوند آسانه کړئ، نو مونږ به ستاسو خدمت کوو.>

۵ رحبعام په ځواب کې وویل: <ماته درې ورځې وخت راکړئ چې په دې هکله فکر وکړم. بیا بېرته راشئ، زه به تاسو ته ځواب ووایم.> نو هغوی لاړل.

۶ وروسته بیا رحبعام د هغو سپین ږیرو سره مشوره وکړه چې د هغه د پلار سلیمان په ژوندانه کې یې د هغه خدمت کاوه. هغه پوښتنه وکړه: <تاسو څنګه مشوره راکوئ چې دې خلکو ته څه ځواب ووایم؟>

۷ هغوی ځواب ورکړ: <که چېرې تاسو نن د دې خلکو خدمتګار شئ، د هغوی خدمت وکړئ او هغوی ته داسې ځواب ورکړئ چې خوشاله شي، نو هغوی به تل ستاسو خدمتګاران وي.>

۸ مګر رحبعام هغه مشوره چې سپین ږیرو ورته ورکړې وه د هغې پروا یې ونه ساتله او د هغو ځوانانو سره یې مشوره وکړه چې د هغه سره لوی شوي وو او د هغه خدمت یې کاوه.
۹ د هغوی څخه یې پوښتنه وکړه: <ستاسو مشوره څه ده؟ دې خلکو ته چې ماته وایي: هغه بار چې ستاسو پلار زمونږ په اوږو ایښی دی له مونږه سپک کړه، څه ځواب ووایم؟>

۱۰ هغو ځوانانو په ځواب کې وویل: <هغو خلکو ته داسې ځواب ورکړئ: زما کوچنی ګوته زما د پلار د ملا څخه پنډه ده. ۱۱ زما پلار په تاسو باندې دروند بار ایښی ؤ، زه به هغه نور هم دروند کړم. زما پلار تاسو په قمچینو باندې وهلئ، زه به تاسو په اغزي لرونکو قمچینو باندې ووهم.>

۱۲ لکه څنګه چې رحبعام پادشاه ویلي وو درې ورځې وروسته یروبعام او ټول خلک



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ته بېرته راغلل. ١٣ پادشاه د سپین ږیرو د مشورې پروا ونه ساتله او خلکو ته یې
ډېر سخت ځواب ورکړ. ١٤ هغه د هغو ځوانانو مشوره ومنله او ویې ویل: <زما پلار په
تاسو باندې دروند بار ایښی ؤ، زه به هغه نور هم دروند کړم. زما پلار تاسو په قمچینو
باندې وهلئ، زه به تاسې په اغزي لرونکو قمچینو باندې ووهم.> ١٥ نو په دې توګه
پادشاه د خلکو خبره ونه منله، ځکه چې په دې کې د څښتن غوښتنه وه، ترڅو هغه خبره
سرته ورسیږي چې څښتن د اخیا نبي په وسیله چې د شیلوه څخه ؤ د نباط زوی یروبعام
ته کړې وه.

١٦ کله چې ټولو اسراییلیانو ولیدل چې پادشاه د هغوی خبره ونه منله، هغوی چیغې
ووهلې: <مونږ باید د داود د کورنۍ سره وفادار پاتې نه شو. هغوی زمونږ دپاره څه کړې
دي؟ ای د اسراییلو خلکو، ځئ چې خپلو کورونو ته لاړ شو! پرېږدئ چې رحبعام په خپلو
خلکو باندې پادشاهي وکړي.> نو اسراییلیان خپلو کورونو ته لاړل. ١٧ رحبعام یوازې
په هغو خلکو باندې پادشاهي کوله چې د یهودا په ښارګوټو کې اوسېدل.

١٨ رحبعام پادشاه د بیګارۍ کارونو مسئول ادورام، اسراییلیانو ته واستاوه، مګر ټولو هغه
سنګسار کړ او ویې واژه. خو رحبعام په بیړه په خپلې جنګي ګاډۍ کې سپور شو او اورشلیم
ته وتښتېد. ١٩ نو د اسراییلو شمالي قبیلو د هغې ورځې نه وروسته د داود د شاهي کورنۍ
په وړاندې یاغیتوب پیل کړ.

٢٠ کله چې د اسراییلو خلکو واورېدل چې یروبعام د مصر څخه راستون شوی دی، هغه
ته یې بلنه ورکړه چې د اسراییلو غونډې ته راشي. یروبعام د هغوی بلنه ومنله او هغه یې د
خپل پادشاه په توګه غوره کړ. یوازې د یهودا قبیله د داود د کورنۍ سره وفاداره پاتې شوه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## رحبعام ته د شمعیه نبي خبرداری

(دوهم تواریخ ۱۱: ۱ – ۴)

۲۱ کله چې رحبعام اورشلیم ته ورسېد، هغه د یهودا او بنیامین د قبیلو څخه یوسلو اتیا
زره غوره شوي عسکر راغونډ کړل. هغه پرېکړه وکړه چې په اسراییلو باندې حمله وکړي او
د اسراییلو شمالي قبیلې یو ځل بیا تر خپل واک لاندې راولي. ۲۲ مګر خدای شمعیه نبي
ته وویل: ۲۳ <د یهودا پادشاه یعنې د سلیمان زوی رحبعام او د یهودا او بنیامین د قبیلو
ټولو خلکو ته ووایه: ۲۴ د اسراییلو په خلکو باندې چې ستاسو ورونه دي حمله ونه
کړئ، ټول خپلو کورونو ته لاړ شئ. هغه څه چې پېښ شوي دي هغه زما رضا ده.> نو
هغوی ټولو د څښتن د حکم څخه اطاعت وکړ او بېرته خپلو کورونو ته لاړل.

## په بیت ئیل او دان کې د سرو زرو سخوندران

۲۵ د اسراییلو پادشاه یروبعام د افرایم په غرنۍ سیمه کې د شکیم ښار ښه ودان کړ او
هلته په کې واوسېده. وروسته بیا له هغه ځای څخه لاړ او د فنوعیل ښارګوټی یې هم ښه
ودان کړ.

۲۶-۲۷ یروبعام په خپل زړه کې وویل: <ډېر امکان لري چې پادشاهي بېرته د داود د
کورنۍ په لاس کې پرېوزي، ځکه کله چې خلک اورشلیم ته د قربانۍ د وړاندې کولو دپاره
د څښتن کور ته لاړ شي، ممکن چې هغوی رحبعام د یهودا پادشاه ته وفادار شي، ما ووژني
او زما په ځای هغه خپل پادشاه وټاکي.>

۲۸ د خپلو سلاکارانو څخه د مشورې اخیستلو وروسته پادشاه د سرو زرو دوه
سخوندران جوړ کړل. قوم ته یې وویل: <دا ستاسو دپاره سخته ده چې د عبادت دپاره
اورشلیم ته ځئ. ای اسراییلیانو! دغه سخوندران ستاسو خدایان دي چې تاسو یې د مصر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څخه راوویستلئ.> ۲۹ هغه د سرو زرو یو سخوندر په بیت ئیل کې او بل یې په دان کې
کېښود. ۳۰ په دې کار سره قوم ګناه وکړه او هغوی به د سخوندرانو د عبادت دپاره حتی
تر دان پورې تلل.

۳۱ یروبعام په غونډیو باندې د عبادت ځایونه جوړ کړل. هغه د هر قسم خلکو څخه
کاهنان وټاکل، که څه هم هغوی لاویان نه وو. ۳۲ هغه د اتمې میاشتې په پنځلسمه ورځ د
هغه اختر په شان چې په یهودا کې لمانځل کېده اختر جوړ کړ. په بیت ئیل کې به یې د
قربانۍ په ځای هغو سخوندرانو ته چې ده جوړ کړي وو قربانۍ وړاندې کولې. همدارنګه
هغه په بیت ئیل کې د هغو عبادت ځایونو دپاره چې یې جوړ کړي وو کاهنان وټاکل. ۳۳
په دې توګه د اتمې میاشتې په پنځلسمه ورځ، یعنې هغه میاشت چې یروبعام په خپله ټاکلې
وه، هغه د اسراییلیانو دپاره د اختر دود پیل کړ او د قربانۍ په هغه ځای کې یې چې هغه په
بیت ئیل کې جوړ کړی ؤ قربانۍ وړاندې کړې.

د یهودا څخه یو نبي

۱۳ ۱ یو نبي د څښتن په امر د یهودا څخه بیت ئیل ته لاړ او کله چې هلته ورسېده،
یروبعام د قربانۍ وړاندې کولو په خاطر د قربانۍ په ځای کې ولاړ ؤ. ۲ هغه نبي د
څښتن په حکم د قربانۍ د ځای په ضد وینا وکړه: <ای د قربانۍ ځایه! ای د قربانۍ ځایه!
څښتن داسې وایي: یو ماشوم به د داود په کورنۍ کې پیدا شي چې نوم به یې یوشیاه وي،
هغه به په تا باندې د عبادت ځایونو هغه کاهنان حلال کړي چې په دې ځای کې نذرانې
وړاندې کوي او د انسان هډوکي به درباندې وسوزول شي.> ۳ وروسته نبي یوه نښه
وړاندې کړه، ویې ویل: <هغه نښه دا ده چې څښتن بیان کړې ده: دا د قربانۍ ځای به دوه
ټوټې شي او د هغه ایرې به بیرون توی شي.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ کله چې يروبعام پادشاه دا واورېدل، هغه خپل لاس د قربانۍ د ځای څخه د نبي
خواته وراوږد کړ او ويې ويل: <هغه ونيسئ!> مګر هغه لاس چې يې د نبي خواته اوږد
کړی ؤ شل شو، داسې چې هغه ونه شو کولی هغه بېرته خپل ځان ته راکش کړي. ۵ نو
د هغې نښې په مطابق چې د نبي له خوا د څښتن په نامه وړاندې شوې وه، د قربانۍ ځای
راولوېده، دوه ټوټې شو او ايرې يې بيرون توی شوې.

۶ يروبعام پادشاه نبي ته وويل: <مهرباني وکړئ زما دپاره خپل څښتن خدای ته دعا
وکړئ او د هغه څخه وغواړئ چې زما لاس د پخوا په شان کړي.> نبي څښتن ته دعا
وکړه او د پادشاه لاس روغ شو او بېرته هماغسې شو لکه څنګه چې پخوا ؤ.

۷ پادشاه نبي ته وويل: <راځئ زما سره کور ته لاړ شئ او يو څه وخورئ. زه به تاسو
ته يو سوغات درکړم.>

۸ مګر نبي پادشاه ته په ځواب کې وويل: <که خپله نيمه پادشاهي دې هم ماته راکړې،
زه به درسره لاړ نه شم. زه به دلته نه ډوډۍ وخورم او نه به اوبه وڅښم. ۹ څښتن ماته
امر کړی دی چې نه به څه شی خورم، نه به څه شی څښم او په هغې لار چې راغلی يم په
هغې به بېرته خپل کور ته نه ستنېږم.> ۱۰ نو په هغې لارې چې هغه بيت ئيل ته راغلی ؤ
بېرته په هغې لاړ نه شو، بلکه په بله لار لاړ.

## د بيت ئيل زوړ نبي

۱۱ په هغه وخت کې په بيت ئيل کې يو زوړ نبي اوسېده. د هغه زامن راغلل او هغه څه
چې د يهودا نبي په هغه ورځ په بيت ئيل کې کړي وو او هغه څه چې هغه يروبعام پادشاه ته
ويلي وو خپل پلار ته بيان کړل. ۱۲ زوړ نبي د خپلو زامنو څخه پوښتنه وکړه: <هغه په
کومه لاره لاړ؟> نو هغوی ورته هغه لاره وښودله. ۱۳ بيا هغه خپلو زامنو ته وويل:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

<زما دپاره په خره باندې کته واچوئ.> هغوی همداسې وکړل او هغه ورباندې سپور شو
۱۴ او د نبي پسې لاړ. ویې لیدل چې هغه د خېړې د ونې لاندې ناست دی، نو پوښتنه یې
ورڅخه وکړه: <آیا ته هغه نبي یې چې د یهودا څخه راغلی یې؟>

هغه ځواب ورکړ: <هو، زه یم.>

۱۵ زوړ نبي هغه ته وویل: <زما سره کور ته لاړ شه او ډوډی وخوره.>

۱۶ د یهودا نبي ځواب ورکړ: <زه نه شم کولی چې تا سره بېرته ستون شم، په دې ځای
کې تا سره نه ډوډی خوړلی شم او نه درسره اوبه څښلی شم. ۱۷ ځکه چې څښتن ماته
امر کړی دی چې دلته به نه څه شی خورم، نه به څه څښم او په هغې لارې چې راغلی یم
بېرته به په هماغې لارې خپل کور ته نه ستنېږم.>

۱۸ وروسته بیا هغه زوړ نبي چې د بیت ئیل څخه ؤ هغه ته وویل: <زه هم ستا په شان
نبي یم او یوې فرښتې د څښتن په حکم ماته وویل: هغه د ځان سره کور ته راوله ترڅو یو
څه وخوري او څه وڅښي.> مګر زوړ نبي هغه ته دروغ وویل. ۱۹ نو د یهودا نبي د هغه
سره ستون شو او د هغه په کور کې یې ډوډی وخوړله او اوبه یې وڅښلې.

۲۰ په هغه وخت کې چې هغوی په دسترخوان باندې ناست وو، هغه زوړ نبي د څښتن
پیغام تر لاسه کړ. ۲۱ هغه د یهودا په نبي باندې غږ وکړ: <ستا څښتن خدای داسې وایي
چې تا د هغه د امر څخه سرغړونه کړې ده او د هغه په حکم باندې دې عمل نه دی کړی.
۲۲ ته بېرته ستون شوې او په هغه ځای کې چې ته منع شوې وې تا ډوډی وخوړله او
اوبو دې وڅښلې. له دې کبله به ستا مړی ستا د نیکونو په هدیره کې ښخ نه شي.>

۲۳ کله چې هغه د خوړلو او څښلو څخه وزګار شو، نو زوړ نبي د یهودا د نبي دپاره په
خره باندې کته واچوله ۲۴ او د یهودا نبي لاړ. په لاره کې زمری ورسره مخامخ شو او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه يې وواژه. د هغه مړی په لاره کې پروت ؤ، خر او زمری د هغه په څنګ کې ولاړ وو.
۲۵ ځينې خلک په لاره تېرېدل او په لاره کې يې مړی وليد چې زمری يې په څنګ کې
ولاړ ؤ. هغوی بيت ئيل ته ورغلل او څه چې دوی ليدلي وو خلکو ته يې وويل.

۲۶ کله چې زوړ نبي دا خبره واورېدله هغه وويل: <دا هغه نبي دی چې د څښتن د حکم
څخه يې سرغړونه وکړه. نو څښتن هغه زمري ته په لاس ورکړ چې هغه وداړي او ويې
وژني. لکه څنګه چې څښتن ورته ويلي وو هغه وشول.>

۲۷ وروسته بيا هغه خپلو زامنو ته وويل: <زما دپاره په خره باندې کته واچوئ.> هغوی
همداسې وکړل. ۲۸ هغه روان شو او ويې ليدل چې د نبي مړی په لاره کې پروت دی او
زمری او خر لا تر اوسه هم د هغه په څنګ کې ولاړ دي. زمري نه مړی خوړلی او نه يې
خر داړلی ؤ. ۲۹ زوړ نبي هغه مړی راپورته کړ، هغه يې په خره باندې بار کړ او بېرته يې
خپل ښار ته راوړ چې په هغه باندې وير وکړي او ښخ يې کړي. ۳۰ زوړ نبي هغه په خپله
هديره کې ښخ کړ او هغه او د هغه زامنو ورباندې وير کاوه ويل يې: <وای، ای زما وروره!
ای زما وروره!>

۳۱ د هغه د ښخولو څخه وروسته نبي خپلو زامنو ته وويل: <کله چې زه مړ شم په هغه
قبر کې مې ښخ کړئ چې هغه نبي په کې ښخ شوی دی، زما جسد د هغه د جسد په څنګ
کې کېږدئ. ۳۲ ځکه هغه پيغام چې د څښتن په حکم يې د بيت ئيل د قربانۍ د ځای په
ضد او د هغو عبادت ځايونو په ضد چې د سامره په ښارګوټو کې دي ويلی ؤ، هغه به په
يقين سره رښتيا شي.>

۳۳ حتیٰ له دې وروسته هم، د اسراييلو پادشاه يروبعام د خپلو بدو لارو څخه ونه
ګرځېده، بلکه يو ځل بيا يې د مختلفو عبادت ځايونو دپاره د هر قسم خلکو څخه کاهنان
وټاکل. هرچا چې غوښتل کاهن شي هغه به يې وقف کاوه. ۳۴ د دې ګناه په وجه د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یروبعام پادشاهي پای ته ورسېدله او هغه او د هغه کورنی د ځمکې د مخ څخه ورکه شوه.

## د یروبعام په ضد د اخیا وړاندوینه

۱۴ ۱ په هغه وخت کې د یروبعام پادشاه زوی ابیاه ناروغ شو. ۲ یروبعام خپلې
ښځې ته وویل: <خپله څېره بدله کړه ترڅو هیڅوک تا ونه پېژني چې زما ښځه یې او اخیا
نبي ته چې په شیلوه کې اوسېږي ورشه. دا هماغه سړی دی چې ماته یې ویلي وو چې ته
به په دې قوم باندې پادشاه شې. ۳ لس ډوډۍ، یو څه کیکونه او یو منګوټی شات هغه
ته یوسه. هغه به تاته ووایي چې زموږ په زوی باندې به څه پېښیږي.>

۴ نو هغه په شیلوه کې د اخیا کور ته لاړه. د ډېر عمر په وجه اخیا ړوند شوی ؤ. ۵
څښتن اخیا ته ویلي وو: <د یروبعام ښځه راځي، هغه به د خپل زوی په هکله چې ناروغه
دی ستا څخه پوښتنه وکړي.> همدارنګه څښتن اخیا ته ویلي وو چې هغې ته څه ووایي.
څښتن زیاته کړه: <کله چې هغه ښځه راورسیږي، نو هغه به خپل ځان داسې وښایي چې
ګوندې بل څوک ده.>

۶ نو کله چې اخیا د کور په دروازه کې د هغې د پښو د قدمونو اواز واورېد، هغه وویل:
<ای د یروبعام ښځې، راننوزه. ولې ته ځان داسې ښکاره کوې چې بل څوک یې؟ ستا دپاره
یو بد خبر لرم. ۷ لاړه شه او یروبعام ته ووایه چې د اسراییلو څښتن خدای داسې وایي:
ته مې د خلکو له منځ څخه راپورته کړې او د خپل قوم اسراییلو مشر مې کړې. ۸ د
داود د کورنی څخه مې پادشاهي واخیستله او تاته مې درکړه. مګر ته زما د خدمتګار داود
په شان نه وې، هغه ماته پوره وفادار ؤ، زما د حکمونو څخه یې اطاعت کاوه او یوازې هغه
کارونه یې کول چې زما په نظر کې صحیح وو. ۹ تا د هغو ټولو پادشاهانو په پرتله چې
ستا څخه مخکې وو ډېر ناوړه کارونه وکړل. د خپل ځان دپاره دې نور خدایان یعنې فلزي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بتان جوړ کړل. زما قهر دې راوپاراوه او ماته دې شا کړه.

۱۰ له دې کبله به ستا په شاهي کورنۍ باندې بدبختي راولم. زه به ستا ټوله نارينه اولاده
که هغه غلامان وي يا ازاد، يو شان ووژنم. زه به ستا کورنۍ وسوزوم لکه څنګه چې څوک
خوشايي سوزوي، ترڅو ټول له منځه لاړ شي. ۱۱ ستا د کورنۍ هر غړی چې په ښار کې
مړ شي هغه به سپي وخوري او هغه چې په سارا کې مړ شي مرغان به يې وخوري، زه چې
څښتن يم دا خبره کوم.>

۱۲ وروسته بيا هغه زياته کړه: <اوس بېرته کور ته لاړه شه، کله چې ته خپله پښه په
خپل ښار کې کېږدې ستا زوی به مړ شي. ۱۳ د اسراييلو ټول قوم به د هغه دپاره وير
وکړي او هغه به ښخ کړي. هغه به د يروبعام د کورنۍ يوازينی غړی وي چې ښخ به شي.
ځکه چې هغه د يروبعام په کورنۍ کې هغه څوک دی چې د اسراييلو څښتن خدای په هغه
کې يو څه ښه والی ويني.

۱۴ څښتن به د خپل ځان دپاره په اسراييلو باندې داسې يو پاچا وټاکي چې هغه به د
يروبعام کورنۍ له منځه يوسي، حتیٰ همدا اوس. ۱۵ څښتن به اسراييلو ته سزا ورکړي او
هغوی به داسې ورپېږي لکه لوخه چې په اوبو کې رپېږي. هغه به د اسراييلو د قوم ريښه له
دې ښې ځمکې څخه چې د هغوی نيکونو ته يې ورکړې وه له بېخه وباسي او هغوی به د
فرات د سيند پورې خواته خپاره کړي، ځکه چې هغوی د اشيره د بتانو په جوړولو د هغه
قهر راپارولی دی. ۱۶ څښتن به د اسراييلو څخه ځکه لاس واخلي چې يروبعام ګناه کړې
ده او د اسراييلو د قوم د ګناهکار کېدلو سبب ګرځېدلی دی.>

۱۷ وروسته بيا د يروبعام ښځه ترزې ته ستنه شوه. څنګه چې هغې د کور په دروازې
باندې پښه کېښوده، زوی يې مړ شو. ۱۸ لکه څنګه چې څښتن د خپل خدمتګار اخيا نبي
په وسيله ويلي وو، هغه يې ښخ کړ او ټولو اسراييلو د هغه دپاره وير وکړ. ۱۹ د يروبعام د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پادشاهی نورې ټولې پېښې يعنې د هغه جنګونه او دا چې هغه څنګه پادشاهي وکړه، د
اسراييلو د پادشاهانو د تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي. ٢٠ هغه دوه ويشت کاله
پادشاهي وکړه او وروسته مړ او ښخ شو. د هغه زوی ناداب د هغه په ځای پادشاه شو.

## د يهودا پادشاه رحبعام

(دوهم تواريخ ١١: ٥ - ١٢: ١٥)

٢١ د سليمان زوی رحبعام يوځلوېښت کلن ؤ چې د يهودا پادشاه شو او هغه اوولس کاله
په اورشليم کې پادشاهي وکړه. اورشليم هغه ښار ؤ چې څښتن هغه د اسراييلو د ټولو قبيلو
څخه د خپل عبادت دپاره غوره کړی ؤ. د رحبعام د مور نوم نعمه وه چې د عمون څخه وه.

٢٢ د يهودا خلکو داسې کارونه وکړل چې د څښتن په نظر کې ډېر خراب وو او د خپلو
نيکونو په پرتله يې ډېر ګناهونه وکړل چې د څښتن غيرت راوپاروي. ٢٣ همدارنګه
هغوی د خپلو ځانونو دپاره د بتانو عبادت ځايونه جوړ کړل او په غونډيو باندې او د
سيورې لرونکو ونو لاندې يې د عبادت دپاره د تيږو ستنې او د اشيره بتان کېښودل. ٢٤
ترټولو ډېره بده خبره دا وه چې د عبادت په ځايونو کې لواطت کاران او فاحشې وې. د
يهودا خلکو هغه ټول شرمناکه کارونه وکړل چې هغو قومونو به کول چې څښتن د
اسراييليانو د وړاندې تګ په وخت کې له هغې خاورې څخه وشړل.

٢٥ د رحبعام د پادشاهی په پنځم کال د مصر پادشاه شيشق په اورشليم باندې حمله
وکړه. ٢٦ هغه د څښتن د کور او د شاهي ماڼۍ ټولې خزانې د ځان سره يوړې. پرته له
دې هغه ټول سپرونه چې سليمان د سرو زرو څخه جوړ کړي وو، هم يوړل. ٢٧ نو
رحبعام پادشاه د هغو په ځای برنجي سپرونه جوړ کړل او هغه يې د هغو ساتونکو
قوماندانانو ته وسپارل چې د شاهي ماڼۍ په دروازه کې يې پهره کوله. ٢٨ هرکله به چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پادشاه د څښتن کور ته ورته، نو د ساتونکو ګارډ به سپرونه وړل او وروسته به يې بېرته د
پهره دارانو خونې ته راوړل.

۲۹ د رحبعام د پادشاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي، د يهودا د پادشاهانو د
تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي. ۳۰ په دې ټوله موده کې د رحبعام او يروبعام ترمنځ
جګړه وه. ۳۱ رحبعام مړ شو او د داود د ښار په شاهي هديره کې ښخ شو. (د هغه د مور
نوم نعمه وه چې د عمون څخه وه.) د رحبعام زوی ابياه د هغه په ځای پادشاه شو.

## د يهودا پادشاه ابياه

(دوهم تواريخ ۱۳: ۱ – ۱۴: ۱)

**۱۵** ۱ د نباط د زوی يروبعام د پادشاهۍ په اتلسم کال، ابياه د يهودا پادشاه شو ۲
او هغه درې کاله په اورشليم کې پادشاهي وکړه. د هغه د مور نوم معکه وه چې د ابشالوم
لور وه.

۳ ابياه د خپل پلار په شان هماغسې ګناهونه وکړل او هغه د خپل غور نيکه داود
معکوس خپل څښتن خدای ته په بشپړه توګه وفادار نه ؤ. ۴ مګر د داود په خاطر د هغه
څښتن خدای ابياه ته زوی ورکړ چې د هغه څخه وروسته په اورشليم کې پادشاهي وکړي
او اورشليم خوندي وساتي – د داسې څراغ په شان چې نه مړ کيږي، د هغه شاهي کورنی
به پای ته ونه رسيږي. ۵ څښتن ځکه داسې وکړل چې داود به هغه څه کول چې څښتن
ورباندې خوشالېده او هيڅکله يې د هغه د حکمونو څخه سرغړونه نه وه کړې، پرته د اوريا
حيتي له پېښې څخه. ۶ هغه جګړه چې د رحبعام او يروبعام ترمنځ پيل شوې وه د ابياه
د ژوند تر پايه پورې يې دوام وکړ. ۷ د ابياه د پادشاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه
کړي دي، هغه د يهودا د پادشاهانو د تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي. د ابياه او يروبعام



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترمنځ تل جګړه وه. ۸ ابیاه مړ شو او د داود په ښار کې ښخ شو او د هغه زوی آسا د
هغه په ځای پادشاه شو.

## د یهودا پادشاه آسا

(دوهم تواریخ ۱۵: ۱۶ – ۱۶: ۶، ۱۱ – ۱۳)

۹ د اسراییلو د پادشاه یروبعام د پادشاهۍ په شلم کال، آسا د یهودا پادشاه شو. ۱۰
هغه یوځلوېښت کاله په اورشلیم کې پادشاهي وکړه. د هغه د نیا نوم معکه وه چې د ابشالوم
لور وه.

۱۱ آسا به د خپل غور نیکه داود په شان هغه څه کول چې څښتن ورباندې خوشالېده.
۱۲ هغه د خپل هېواد څخه هغه ټول لواطت کاران او فاحشې چې د عبادت په ځایونو کې
یې خدمت کاوه وشړلې او هغه ټول بتان چې د هغه نیکونو جوړ کړي وو لېرې کړل. ۱۳
هغه خپله نیا معکه د ملکې د مور په توګه د خپل مقام څخه لېرې کړه، ځکه چې هغې یو
کرغېړن د اشیره بت جوړ کړی ؤ. آسا هغه بت رانسکور کړ او د قدرون په خوړ کې یې
وسوزاوه. ۱۴ که څه هم آسا ټولې بتخانې له منځه یو نه وړلې، مګر هغه ټول عمر څښتن
ته وفادار پاتې شو. ۱۵ آسا سره زر، سپین زر او هغه ټول شیان چې د هغه پلار او هغه په
خپله خدای ته وقف کړي وو، د خدای په کور کې کېښودل.

۱۶ د یهودا پادشاه آسا او د اسراییلو پادشاه بعشا به تل د خپلو پادشاهیو په دوران کې یو
د بل سره په جګړې اخته وو. ۱۷ بعشا په یهودا باندې یرغل وکړ او د رامې د ښار په
قوي کولو یې پیل وکړ په دې خاطر چې د یهودا د ټولو خلکو تګ او راتګ مخه ونیسي.

۱۸ نو آسا پادشاه هغه ټول سپین زر او سره زر چې د څښتن د کور او د خپلې ماڼۍ په
خزانو کې پاتې شوي وو واخیستل. هغه یې خپلو درباریانو ته وسپارل او هغه یې دمشق ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د سوريې پادشاه بنهدد د طبرمون زوی ته، چې د حزيون لمسی ؤ، د دې پيغام سره ولېږل:
(۱۹) <زما او ستاسو ترمنځ دې داسې يو تړون وي لکه څنګه چې زما د پلار او ستاسو د
پلار ترمنځ ؤ. ګورئ، زه تاسو ته د سپينو زرو او سرو زرو سوغات درلېږم. نو خپل تړون
اوس د اسراييلو د پادشاه بعشا سره مات کړئ، ترڅو هغه خپلې لښکرې زما د سيمې څخه
وباسي.>

(۲۰) بنهدد پادشاه د آسا وړانديز قبول کړ او خپل قوماندانان او لښکرې يې ولېږلې چې د
اسراييلو په ښارونو باندې حمله وکړي. هغوی عيون، دان، آبل بيت معکه، د جليل جهيل او
د نفتالي ټوله سيمه ونيوله. (۲۱) کله چې بعشا پادشاه واورېدل چې څه وشول، هغه د رامه
د قوي کولو کار ودراوه او د ترزې ښار ته لاړ.

(۲۲) وروسته بيا آسا پادشاه ټول يهودا ته حکم جاري کړ چې ټول خلک پرته له استثنا
څخه هغه ټولې تيږې او لرګي چې بعشا غوښتل د رامې ښار پرې قوي کړي، راوړي. آسا په
دې موادو باندې مصفه او د بنيامين په سيمه کې د جبع ښار قوي کړ.

(۲۳) نور ټول هغه کارونه چې آسا پادشاه د خپلې پادشاهۍ په دوران کې کړي دي، يعنې د
هغه د زورورتوب کارونه او هغه ښارونه چې هغه جوړ کړي دي هغه د يهودا د پادشاهانو د
تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي. مګر په زوړوالي کې هغه د پښو په ناروغۍ باندې اخته
شو. (۲۴) وروسته آسا مړ شو او د خپل پلار داود د ښار په شاهي هديره کې ښخ شو. بيا د
هغه زوی يهوشافاط د هغه په ځای پادشاه شو.

## د اسراييلو پادشاه ناداب

(۲۵) د يهودا د پادشاه آسا د پادشاهۍ په دوهم کال، د يروبعام پادشاه زوی ناداب د
اسراييلو پادشاه شو او دوه کاله يې پادشاهي وکړه. (۲۶) لکه څنګه چې د هغه پلار د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښبنتن په مقابل کې ګناه کړې وه، نو هغه هم ګناه وکړه او اسراییلیان یې د ګناه خواته بوتلل.

۲۷ بعشا د اخیا زوی چې د یساکار د قبیلې څخه ؤ، د ناداب په ضد یې دسیسه جوړه کړه او کله چې ناداب او ټولو اسراییلي لښکرو د جبتون ښار چې په فلسطین کې ؤ محاصره کاوه، بعشا ناداب وواژه. ۲۸ دا پېښه د یهودا د پادشاه آسا د پادشاهۍ په دریم کال وشوه. نو بعشا د ناداب په ځای د اسراییلو پادشاه شو. ۲۹ څنګه چې هغه پادشاه شو، د یروبعام د کورنۍ ټول غړي یې ووژل. ځرنګه چې ښبنتن د خپل خدمتګار اخیا نبي په وسیله چې د شیلوه څخه ؤ ویلي وو، د یروبعام د کورنۍ ټول غړي ووژل شول او یو هم ژوندی پاتې نه شو. ۳۰ دا پېښه ځکه وشوه چې یروبعام ګناه وکړه، د اسراییلو د ګناهکار کېدلو سبب وګرځېده او په دې ډول یې د اسراییلو د ښبنتن خدای قهر راوپاراوه.

۳۱ د ناداب د پادشاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي، د اسراییلو د پادشاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ۳۲ د یهودا پادشاه آسا او د اسراییلو پادشاه بعشا به تل د خپلو پادشاهیو په دوران کې یو د بل سره په جګړې اخته وو.

## د اسراییلو پادشاه بعشا

۳۳ د یهودا د پادشاه آسا د پادشاهۍ په دریم کال، د اخیا زوی بعشا د ټولو اسراییلو پادشاه شو او هغه څلورویشت کاله په ترزې کې پادشاهي وکړه. ۳۴ لکه څنګه چې یروبعام د ښبنتن په مقابل کې ګناه کړې وه، نو هغه هم ګناه وکړه او اسراییلیان یې د ګناه خواته بوتلل.

۱۶ ۱ ښبنتن د حناني د زوی ییهو نبي سره خبرې وکړې او هغه ته یې د بعشا دپاره دا پیغام ورکړ: ۲ >ته هیڅ شی نه وې، مګر ما د خاورو څخه راپورته کړې او د خپل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قوم اسراییلو مشر مې کړې. اوس دې د یروبعام په شان ګناه وکړه او زما د قوم اسراییلو د ګناهکار کېدلو سبب وګرځېدلې. د اسراییلیانو ګناهونو زما قهر راپارولی دی. ٣ نو زه به تا او ستا کورنۍ د یروبعام د کورنۍ په شان له منځه یوسم. ٤ ستا د کورنۍ هر غړی چې په ښار کې مړ شي هغه به سپي وخوري او هغه چې په صحرا کې مړ شي مرغان به يې وخوري.>

٥ د بعشا د پادشاهۍ نورې ټولې پېښې او د هغه د زوروړتوب کارونه د اسراییلو د پادشاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ٦ بعشا مړ او په ترزې کې ښخ شو. د هغه زوی ایله د هغه په ځای پادشاه شو.

٧ دا پیغام د څښتن له خوا د ییهو نبي په وسیله د بعشا او د هغه د کورنۍ په ضد د بعشا د هغې ګناه له کبله ورکړل شو چې د څښتن په مقابل کې يې کړې وه. هغه د څښتن قهر نه یوازې په دې راوپاراوه چې هغه داسې بد کارونه وکړل، لکه څنګه چې د هغه څخه مخکې یروبعام پادشاه کړي وو، بلکه په دې هم چې هغه د یروبعام ټوله کورنۍ ووژله.

## د اسراییلو پادشاه ایله

٨ د یهودا د پادشاه آسا د پادشاهۍ په شپږویشتم کال، ایله د بعشا زوی د اسراییلو پادشاه شو او هغه دوه کاله په ترزه کې پادشاهي وکړه. ٩ زیمري چې د هغه د عسکري منصبدارانو د ډلې څخه ؤ او د نیمو شاهي جنګي ګاډیو مشري يې په غاړه وه د هغه په ضد يې یوه دسیسه جوړه کړه. یوه ورځ ایله په ترزې کې د ارصا په کور کې چې د ماڼۍ مسئول ؤ، نېشه کوله. ١٠ زیمري کور ته ورننوت، ایله يې وواژه او د هغه په ځای پادشاه شو. دا پېښه د یهودا د پادشاه آسا د پادشاهۍ په اووه ویشتم کال وشوه.

١١ څنګه چې زیمري پادشاهي پیل کړه او په تخت کښېناست، هغه د بعشا د کورنۍ ټول



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غړي ووژل. د هغه هيڅ يو نارينه خپلوان يا دوست يې ژوندی پرېنښود. ⑫ نو د هغه څه
په مطابق چې څښتن د ييهو نبي په وسيله د بعشا په ضد ويلي وو، زيمري د بعشا ټوله
کورنۍ ووژله. ⑬ د هغوی د بت پرستۍ او ګناهونو له کبله او په دې خاطر چې هغوی د
اسراييلو د ګناهکار کېدلو سبب ګرځېدلي وو، بعشا او د هغه زوی ايله د اسراييلو د څښتن
خدای قهر راوپاراوه. ⑭ د ايله د پادشاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي د
اسراييلو د پادشاهانو د تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي.

## د اسراييلو پادشاه زيمري

⑮ د يهودا د پادشاه آسا د پادشاهۍ په اووه ويشتم کال، زيمري اووه ورځې په ترزې کې
په اسراييلو باندې پادشاهي وکړه. په دې وخت کې اسراييلي لښکرو د فلسطين د جبتون
ښار محاصره کاوه. ⑯ کله چې هغوی واورېدل چې زيمري د پادشاه په ضد دسيسه
جوړه کړې ده او هغه يې وژلی دی، په هماغه ورځ هغوی ټولو په کمپ کې خپل قوماندان
عمري د اسراييلو د پادشاه په توګه وټاکه. ⑰ عمري د خپلو لښکرو سره د جبتون څخه
لاړ او ترزه يې محاصره کړه. ⑱ کله چې زيمري وليدل چې ښار ونيول شو، هغه د ماڼۍ
دننني کلا ته ورننوت، کلا ته يې اور واچاوه او د اور په لمبو کې مړ شو. ⑲ دا پېښه د
څښتن په وړاندې د هغه د ګناهونو له کبله وشوه. د يروبعام په شان هغه د خپلې ګناه په
وسيله او دا چې د اسراييلو د قوم د ګناهکار کېدلو سبب ګرځېدلی ؤ، څښتن خفه کړ. ⑳
نور ټول هغه کارونه چې زيمري کړي دي چې په هغو کې د هغه د دسيسې جوړولو قصه هم
شامله ده د اسراييلو د پادشاهانو د تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي.

## د اسراييلو پادشاه عمري

㉑ په هغه وخت کې د اسراييلو قوم په دوه ډلو باندې ووېشل شو. نيم قوم د جينت د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زوی تبني ځخه ملاتړ کاوه چې هغه پادشاه شي او نیم د عمري ځخه ملاتړ کاوه. (۲۲) مګر په پای کې د عمري پلویان برلاسي شول. نو تبني مړ شو او عمري پادشاه شو.

(۲۳) د یهودا د پادشاه آسا د پادشاهۍ په یو دېرشم کال، عمري د اسراییلو پادشاه شو او دولس کاله یې پادشاهي وکړه. اولني شپږ کاله یې په ترزه کې پادشاهي وکړه. (۲۴) وروسته یې د سامره غونډۍ په اویا کیلوګرامو سپینو زرو د سامر په نوم د یو سړي ځخه واخیستله. عمري د هغه غونډۍ ځخه پاخه دېوالونه تاو کړل، هلته یې یو ښار جوړ کړ او په هغه یې سامره نوم کېښود، یعني هغه یې د غونډۍ د پخواني خاوند سامر په نوم یاد کړ.

(۲۵) عمري د هغو ټولو پادشاهانو په نسبت چې د ده ځخه مخکې تېر شوي وو د څښتن په مقابل کې زیاته ګناه وکړه. (۲۶) عمري د یروبعام په شان هم ګناه وکړه او د اسراییلو د قوم د ګناهکار کېدلو سبب وګرځېد. هغوی په خپلې بت پرستی سره د اسراییلو د څښتن خدای قهر راوپاراوه. (۲۷) د عمري د پادشاهۍ نوري پېښې او د هغه د زورورتوب کارونه د اسراییلو د پادشاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. (۲۸) عمري مړ شو او په سامره کې ښخ شو. د هغه زوی اخاب د هغه په ځای پادشاه شو.

## اخاب د اسراییلو پادشاه کیږي

(۲۹) د یهودا د پادشاه آسا د پادشاهۍ په اته دېرشم کال، اخاب د عمري زوی د اسراییلو پادشاه شو او دوه ویشت کاله یې په سامره کې پادشاهي وکړه. (۳۰) اخاب د هغو ټولو پادشاهانو په پرتله چې د هغه ځخه مخکې تېر شوي وو د څښتن په مقابل کې زیاته ګناه وکړه. (۳۱) د هغه دپاره دا کافي نه وه چې د یروبعام پادشاه په څېر ګناه وکړي. هغه نور هم مخکې لاړ او د صیدون د پادشاه اتبعل د لور ایزابل سره یې واده وکړ، هم یې د بعل خدمت او هم هغه ته سجده وکړه. (۳۲) هغه په سامره کې د بعل دپاره یو عبادت ځای جوړ کړ، د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه دپاره يې د قرباني ځاى هم جوړ کړ او هغه يې د عبادت په ځاى کې ځاى په ځاى کړ.
۳۳ همدارنګه اخاب د اشيره بت هم جوړ کړ او هغه د اسراييلو د مخکينيو پادشاهانو په
پرتله ډېر داسې کارونه وکړل چې د اسراييلو د ښبنتن خداى قهر يې راوپاراوه.

۳۴ د هغه د پادشاهۍ په دوران کې د حي ئيل په نوم يو نفر چې د بيت ئيل څخه ؤ د
اريحا ښار يې يو ځل بيا ودان کړ. لکه څنګه چې ښبنتن د نون د زوى يوشع په وسيله
وړاندوينه کړې وه، کله چې حي ئيل د اريحا بنسټ کېښود، خپل مشر زوى ابيرام يې له
لاسه ورکړ او چې کله يې د هغې دروازې جوړې کړې، نو خپل کشر زوى سجوب يې له
لاسه ورکړ.

## ايليا او وچکالي

۱۷ ۱ يو نبي چې ايليا نومېده او د جلعاد د تشبي څخه ؤ، اخاب پادشاه ته وويل:
<د اسراييلو د ژوندي ښبنتن خداى په نامه چې زه يې خدمت کوم قسم خورم چې تر هغې
پورې چې زه يې ونه وايم په راتلونکي څو کلونو کې به نه پرخه او نه به باران وي.>

۲ بيا ښبنتن ايليا ته وويل: ۳ <دا ځاى پرېږده، ختيځ خواته لاړ شه او خپل ځان د
اردن د سيند په ختيځ د کريت د خوړ په غاړه کې پټ کړه. ۴ د خوړ څخه به اوبه ښبې
او کارغانو ته مې امر کړى دى چې هلته به ډوډۍ درته راوړي.>

۵ ايليا د ښبنتن حکم قبول کړ، لاړ او د اردن په ختيځ کې د کريت د خوړ په غاړه کې
اوسېده. ۶ هغه به د خوړ اوبه ښبنلې او کارغانو به ورته هر سهار او هر ماښام ډوډۍ او
غوښه راوړله.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ څه موده وروسته خوړ وچ شو، ځکه چې په هېواد کې باران نه ؤ. ٨ هغه وخت
څښتن ايليا ته وويل: ٩ <اوس د زرفت ښارګوټي ته چې صيدون ته نژدې دی لاړ شه
او هلته پاتې شه. ما يوې کونډې ښځې ته چې هلته اوسېږي امر کړی دی چې خواړه
درکړي.> ١٠ نو ايليا زرفت ته لاړ او څنګه چې هغه د ښارګوټي دروازې ته ورسېد، يوه
کونډه ښځه يې وليدله چې د سوزولو لرګي يې راټولول. هغې ته يې غږ وکړ او ورته ويې
ويل: <آيا ماته به په جام کې لږې اوبه راوړې چې ويې څښم؟> ١١ څنګه چې هغه
روانه شوه چې اوبه راوړي ايليا وربانديې غږ وکړ: <مهرباني وکړه لږه ډوډۍ هم راته
راوړه.>

١٢ هغې ځواب ورکړ: <زه ستا د ژوندي څښتن خدای په نامه قسم خورم چې ما سره
هيڅ ډوډۍ نشته. ما سره په منګې کې يوازې يو موټی اوړه او په کوزړۍ کې لږ د زيتونو
تېل پاتې دي. دلته راغلې يم چې د سوزولو دپاره يو څه لرګي راټول کړم، کور ته يې يوسم
او د خپل ځان او د خپل زوی دپاره خواړه تيار کړم. دا به زمونږ آخرني خواړه وي او بيا به
له لوږې مړه شو.>

١٣ ايليا هغې ته وويل: <مه وېرېږه، کور ته لاړه شه او خپله ډوډۍ تياره کړه. مګر اول
هغه څه چې درسره شته د هغې څخه يوه کوچنۍ ډوډۍ پخه کړه، ماته يې راوړه او وروسته
بيا د خپل ځان او خپل زوی دپاره يو څه تيار کړه. ١٤ ځکه چې د اسراييلو څښتن
خدای داسې وايي: تر هغې ورځې پورې چې زه څښتن باران ونه وروم، د منګې اوړه او د
کوزړۍ تېل به دې خلاص نه شي.>

١٥ کونډه ښځه لاړه او څنګه چې ايليا ورته ويلي وو هماغسې يې وکړل او هغوی درې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واړو د ډېرو ورځو دپاره پوره خواړه درلودل. ۱۶ لکه څنګه چې څښتن د ایلیا نبي په
وسیله وعده کړې وه، د منګي اوړه او د کوزړې تېل خلاص نه شول.

۱۷ څه موده وروسته د کور د خاوندې، یعنې د کونډې زوی ناروغ شو. د هغه حال د بدو
څخه بدتر شو او آخر هغه مړ شو. ۱۸ هغې ایلیا ته وویل: <ای د خدای نبي، ولې دې
زما سره داسې وکړل؟ آیا د دې دپاره دلته راغلی یې چې زما ګناهونه خدای ته ور په یاد
کړې او زما د زوی د مړینې سبب وګرځې؟>

۱۹ ایلیا ځواب ورکړ: <زوی دې ماته راکړه.> ایلیا هغه د مور د غېږې څخه واخیست،
هغه یې هغې بالا خانې ته یووړ چې هغه په کې اوسېده او په خپله بستره باندې یې څملاوه.
۲۰ وروسته بیا هغه څښتن ته فریاد وکړ: <ای زما څښتن خدایه، ولې دې په دې کونډې
باندې چې زه ورسره اوسېږم دا غم راوست او د هغې زوی دې وواژه؟> ۲۱ بیا ایلیا
درې ځلې په هغه هلک باندې ځان ورغزاوه او زاري یې وکړه: <ای زما څښتن خدایه، دا
هلک بېرته راژوندی کړه!> ۲۲ څښتن د ایلیا دعا او زاري قبوله کړه، په هلک کې ساه
راپیدا شوه او هغه بېرته راژوندی شو. ۲۳ ایلیا هغه ماشوم راپورته کړ او لاندې یې راکوز
کړ. هغه یې خپلې مور ته ورکړ او ویې ویل: <وګوره، ستا زوی ژوندی دی!>

۲۴ هغې په ځواب کې وویل: <اوس زه پوه شوم چې ته د خدای نبي یې او څښتن په
رښتیا سره ستا په وسیله خبرې کوي.>

## ایلیا او عوبدیا

**۱۸** ۱ ډېره موده وروسته، د وچکالۍ په درېیم کال څښتن ایلیا ته وویل: <لاړ شه او
اخاب پادشاه ته ځان وروښایه او زه به باران ووروم.> ۲ نو ایلیا روان شو چې د اخاب



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره وګوري.

په سامره کې ډېره سخته قحطي وه ۳ او اخاب د خپلې ماڼۍ مسئول عوبدیا راوغوښت.
(عوبدیا د څښتن څخه ډېر وېرېده. ۴ هغه وخت چې ایزابل هڅه وکړه چې د څښتن
نبیان ووژني، عوبدیا سل تنه نبیان بوتلل، پنځوس، پنځوس تنه یې په دوه سمڅو کې پټ
کړل او هغوی ته به یې خواړه او اوبه وررسول.) ۵ اخاب عوبدیا ته وویل: <راځئ چې
په هېواد کې په ټولو چینو او خوړونو باندې وګرځو. کېدای شي چې یو څه واښه پیدا کړو،
خپل اسونه او قچرې ورباندې ژوندي وساتو او د خپلو څارویو څخه یو څه له لاسه ورنه
کړو.> ۶ نو هغوی موافقه وکړه چې څوک به د ځمکې کومه برخه د واښو دپاره لټوي.
اخاب یوازې په یوه خوا لاړ او عوبدیا یوازې بلې خواته.

۷ کله چې عوبدیا په لاره روان ؤ، ایلیا د هغه سره مخامخ شو. عوبدیا هغه وپېژانده، هغه
ته په ځمکه باندې پړمخې پرېوت او ویې ویل: <ای زما باداره ایلیا، آیا په ربښتیا سره دا
تاسو یئ؟>

۸ هغه ځواب ورکړ: <هو. لاړ شه او خپل بادار ته ووایه چې ایلیا دلته دی.>

۹ عوبدیا ځواب ورکړ: <ما څه ګناه کړې ده چې ته مې اخاب پادشاه ته ورسپارې
ترڅو هغه ما ووژني؟ ۱۰ ستاسو د ژوندي څښتن خدای په نامه قسم خورم چې داسې
قوم یا پادشاهي نشته چې اخاب ستاسو د لټولو دپاره هغه ځای ته یو نفر نه وي استولی.
هرکله به چې هغوی اخاب ته پیغام ورلېږه چې ایلیا دلته نشته، نو اخاب به هغه پادشاه
مجبوراوه چې قسم وخوري: ایلیا دلته نشته. ۱۱ خو اوس تاسو وایئ چې لاړ شه او
ووایه: ایلیا دلته دی. ۱۲ که چېرې زه لاړ شم او د څښتن روح تاسو یو نامعلوم ځای ته
بوځي بیا به څه کېږي؟ نو که چېرې اخاب ته ووایم چې تاسو دلته یئ او هغه مو پیدا نه
کړي، ما به ووژني. دا مه هېروئ چې زه د هلکتوب څخه د څښتن نه ډېر وېرېدم. ۱۳ ای



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما باداره، آيا تاسو نه دي اورېدلي چې کله ايزابل د څښتن نبيان وژل، ما څه وکړل؟ ما سل تنه نبيان په دوه سمڅو کې، يعني په هره سمڅه کې پنځوس، پنځوس تنه پټ کړل او هغوی ته مې خواړه او اوبه وررسول. ۱۴ اوس تاسو راته وايئ چې خپل بادار ته ورشه او ورته ووايه چې ايليا دلته دی. که چېرې زه دا کار وکړم، هغه به ما ووژني!>

۱۵ ايليا په ځواب کې وويل: <د ژوندي مطلق قادر څښتن په نامه چې زه يې خدمت کوم قسم خورم چې نن به خپل ځان اخاب پادشاه ته وروښايم.>

۱۶ نو عوبديا، اخاب پادشاه ته ورغی او هغه يې خبر کړ او اخاب د ايليا د ليدنې او کتنې دپاره ور روان شو. ۱۷ کله چې هغه ايليا وليد ورته ويې ويل: <آيا دا ته يې، چې اسراييليان دې پر زيات ځوروې؟>

۱۸ ايليا ځواب ورکړ: <زه ځورونکی نه يم، بلکه ته او ستا د پلار کورنی ده. تاسو د څښتن حکمونه پرېښي دي او د بعل د بتانو عبادت مو کړی دی. ۱۹ اوس د اسراييلو ټول قوم راوغواړه چې د کرمل په غره کې زما سره ليدنه او کتنه وکړي. د بعل څلورسوه پنځوس نبيان او د اشيره څلورسوه نبيان چې د ايزابل په دسترخوان باندې ډوډۍ خوري راوله.>

## د بعل په نبيانو باندې د ايليا بريالیتوب

۲۰ نو اخاب ټول اسراييليان او د بعل نبيان راوغوښتل چې د کرمل په غره باندې سره راغونډ شي. ۲۱ ايليا د قوم مخې ته ورغی او ويې ويل: <تاسو به ترڅو پورې د دوو عقيدو ترمنځ زړه نازړه اوسئ؟ که چېرې څښتن خدای وي د هغه څخه پيروي وکړئ، مګر که چېرې بعل خدای وي د هغه څخه پيروي وکړئ.>

مګر خلکو هيڅ ونه ويل.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ بیا ایلیا هغوی ته وویل: <د ښبتن د نبیانو څخه یوازې زه پاتې یم، مګر بعل
څلورسوه پنځوس نبیان لري. ۲۳ دوه غوایان مونږ ته راولئ. د بعل نبیان دې یو غویی د
خپل ځان دپاره غوره کړي، هغه دې ټوټې ټوټې کړي او په لرګیو باندې دې کېږدي، خو
هغه ته دې اور نه اچوي. زه به د هغه بل غویي سره همداسې وکړم. ۲۴ بیا تاسو خپل
خدای ته دعا او زاری وکړئ او زه به ښبتن ته دعا او زاری وکړم. هر یوه چې اور
راواستاوه، هغه خدای دی.>

وروسته بیا ټول قوم وویل: <دا ښه خبره ده.>

۲۵ نو ایلیا د بعل نبیانو ته وویل: <څرنګه چې ستاسو شمېر زیات دی، نو لومړی تاسو
یو غویی واخلئ او هغه تیار کړئ. خپل خدای ته دعا او زاری وکړئ، مګر لرګیو ته اور مه
اچوئ.>

۲۶ بیا هغوی هغه غویی چې هغوی ته ورکړل شوی ؤ واخیست، هغه یې تیار کړ او له
سهار څخه تر غرمې پورې یې د بعل په نامه دعا او زاری وکړې. هغوی چیغې وهلې: <ای
بعله، مونږ ته ځواب راکړه!> او د هغه قربانۍ ځای ګردچاپېره یې نڅاګانې کولې چې هغوی
جوړ کړی ؤ، مګر هیڅ ځواب رانغی.

۲۷ د غرمې په وخت ایلیا په هغوی باندې ملنډې وهل شروع کړل او ویې ویل: <په لوړ
اواز دعا وکړئ! ځکه چې هغه یو خدای دی! کېدای شي چې هغه په فکر کې ډوب شوی
وي یا حاجت رفع کوي یا کېدای شي چې په سفر تللی وي! یا کېدای شي چې ویده وي او
باید هغه راویښ کړئ.> ۲۸ نو هغوی په ډېر لوړ اواز سره چیغې ووهلې او د خپل رواج
له مخې یې خپل ځانونه په تورو او نېزو باندې زخمیان کړل تر دې چې د هغوی د بدنونو
څخه وینې وبهېدلې. ۲۹ غرمه تېره شوه او هغوی د ماسپښینه پورې خپل د لېونتوب نبوت
کاوه. مګر نه کوم اواز واورېدل شو، نه چا ځواب ورکړ او نه چا کومه توجه وکړه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ وروسته بیا ایلیا قوم ته وویل: <ماته رانږدې شئ.> هغوی ټول ورغلل او ایلیا د
څښتن هغه د قربانۍ ځای چې وران کړای شوی ؤ بېرته جوړ کړ. ۳۱ ایلیا دولس تیږې
واخیستې، د یعقوب د زامنو د دولس قبیلو څخه د هرې قبیلې دپاره یوه یوه تیږه. (یعقوب
هغه سړی دی چې څښتن ورته ویلي وو چې <ستا نوم به اسراییل وي>.) ۳۲ د دې
تیږو څخه هغه څښتن ته د عبادت کولو دپاره د قربانۍ ځای ودان کړ. د هغه شاوخوا یې یو
لوی لښتی وکینده، دومره لوی چې څوارلس لیتره اوبه په کې ځائېدلې. ۳۳ وروسته یې د
قربانۍ په ځای باندې لرګي ځای په ځای کړل، غویی یې ټوټې ټوټې کړ او په لرګیو باندې
یې کېښود. هغه وویل: <څلور منګې د اوبو څخه ډک کړئ او په نذرانې او لرګیو باندې یې
توی کړئ.> هغوی همداسې وکړل ۳۴ او هغه وویل: <یو ځل بیا داسې وکړئ> او
هغوی همدا کار وکړ. هغه وویل: <د دریم ځل دپاره دا کار وکړئ> او هغوی همداسې
وکړل. ۳۵ د قربانۍ د ځای ګردچاپېره اوبه جاري شوې او لښتی هم ډک شو.

۳۶ ماسپښین چې د قربانۍ کولو وخت ؤ، ایلیا نبي د قربانۍ ځای ته رانږدې شو او دعا
یې وکړه: <ای د ابراهیم، اسحاق او یعقوب څښتن خدایه، نن دا ثابته کړه چې ته د اسراییلو
خدای یې او زه ستا خدمتګار یم او دا هرڅه مې د ستا په امر کړي دي. ۳۷ ای څښتنه!
ځواب راکړه، ماته ځواب راکړه، ترڅو خلک په دې باندې پوه شي چې ته څښتن خدای یې
او ته یې چې هغوی بېرته خپل ځان ته راګرځوې.>

۳۸ څښتن اور رانازل کړ او قرباني، لرګي، تیږې او خاوره یې وسوزوله او په لښتي کې یې
اوبه وچې کړې. ۳۹ کله چې خلکو دا ولیدل، ځانونه یې په ځمکه باندې وغورزول او
چیغې یې ووهلې: <څښتن، خدای دی! څښتن، خدای دی!>

۴۰ هغه وخت ایلیا هغوی ته حکم وکړ: <د بعل نبیان ونیسئ او یو هم مه پرېږدئ چې
وتښتي!> هغوی یې ونیول او ایلیا هغوی د قیشون خوړ ته کوز کړل او هلته یې ووژل.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د وچکالۍ پای ته رسېدل

۴۱ ایلیا اخاب ته وویل: <لاړ شه، وخوره او وڅښه، ځکه چې د سخت باران اواز
دی.> ۴۲ کله چې اخاب روان شو چې څه وخوري او وڅښي، ایلیا د کرمل د غره
څوکې ته وخوت، ځمکې ته ورټیټ شو او خپل سر یې د زنګنونو په منځ کې کېښود. ۴۳
هغه خپل خدمتګار ته وویل: <لاړ شه او د بحیرې خواته وګوره.>

خدمتګار لاړ او بېرته راستون شو، ویې ویل: <څه شی مې ونه لید.> په دې توګه ایلیا اووه
ځلې هغه ولېږه. ۴۴ هغه په اووم ځل بېرته راغی او ویې ویل: <لږه وریځ مې ولیدله چې
د انسان د لاس څخه لویه نه وه او د بحیرې څخه راپورته کېدله.>

ایلیا خپل خدمتګار ته امر وکړ: <اخاب پادشاه ته ورشه او ورتهووایه چې خپله جنګي
ګاډۍ تیاره کړي او مخکې له دې چې باران هغه ایسار کړي، بېرته خپل کور ته ستون
شي.>

۴۵ په ډېر لږ وخت کې اسمان په تورو وریځو کې پټ شو، باد راوالوت او سخت باران
پیل شو. اخاب خپلې ګاډۍ کې سپور شو او بېرته یزرعیل ته روان شو. ۴۶ ښتن ایلیا ته
قوت ورکړ، هغه خپل کالي په ملا پورې کلک وتړل او تر یزرعیل پورې په تړوله لاره کې د
اخاب په مخکې ځغلیده.

## ایلیا د سینا غره ته تښتي

**۱۹** ۱ نو بیا اخاب خپلې ښځې ایزابل ته دا ټولې خبرې وکړې چې ایلیا څه کړي وو
او څنګه یې د بعل نبیان ووژل. ۲ هغې ایلیا ته یو استازی واستاوه چې هغه ته داسې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وواييې: <زما خدايان دې ما ووژني که سبا تر دې وخته پورې ستا سره هماغسې کار ونه
کړم لکه څنګه چې تا د هغو نبيانو سره کړی دی.>

۳ ايليا ووېرېده او د خپل ژوند د ژغورلو په خاطر وتښتېد. کله چې هغه بئرشبع ته چې
په يهودا کې ده راغی، خپل نوکر يې هلته پرېښود. ۴ هغه په خپله يوه ورځ په دښته کې
سفر وکړ. د جارو بوټي ته ورسېده، د هغه لاندې کښېناست او دعا يې وکړه چې مړ شي.
هغه وويل: <ای څښتنه، نور بس دی! زما ژوند واخله، زه د خپلو نيکونو څخه بهتر نه
يم.> ۵ وروسته بيا هغه د بوټي لاندې پرېوت او ويده شو.

ناڅاپه يوې فرښتې هغه لمس کړ او ورته ويې ويل: <پاڅېږه او وخوره.> ۶ هغه
شاوخوا ته وکتل او ويې ليدل چې سرته يې يوه ډوډۍ چې په تودو سکرو باندې پخه شوې
وه او د اوبو منګی ايښی ؤ. هغه ډوډۍ وخوړله او اوبه يې وڅښلې او بېرته څملاست.

۷ د څښتن فرښته د دوهم ځل دپاره راغله، هغه يې لمس کړ او ورته ويې ويل:
<پاڅېږه او وخوره، ځکه چې ډېر اوږد سفر دې مخې ته پروت دی.> ۸ نو هغه پاڅېد،
ډوډۍ يې وخوړله او اوبه يې وڅښلې. د هغو خواړو په وسيله هغه قوت ومومند او څلوېښت
ورځې او څلوېښت شپې يې سفر وکړ ترڅو سينا يعنې د خدای غره ته ورسېد. ۹ هلته
يوې څمڅې ته ورننوت او شپه يې په کې تېره کړه.

## څښتن ايليا ته ورښکاره کيږي

ناڅاپه څښتن د ايليا سره خبرې وکړې: <ای ايليا، دلته څه کوې؟>

۱۰ هغه ځواب ورکړ: <مطلق قادر څښتنه خدايه، ما يوازې ستا خدمت کړی دی او هغه
هم تل په شوق سره. مګر اسراييليانو تا سره خپل لوظ مات کړی دی، ستا د قرباني ځايونه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې وران کړي دي او ستا نبيان يې وژلي دي. يوازې زه پاتې يم او اوس هغوی هڅه کوي
چې ما هم ووژني.>

١١ ښبنتن هغه ته وويل: <بيرون ووځه او زما په حضور کې په غره باندې ودرېږه.>

ښبنتن په هغه ځای باندې تېر شو او يو سخت او قوي باد راوالوت چې غونډۍ يې سره
جلا کړې او تيږې يې ميده ميده کړې، مګر ښبنتن خپله په هغه باد کې نه ؤ. باد ودرېد او
وروسته بيا زلزله وشوه، مګر ښبنتن په خپله په زلزله کې نه ؤ. ١٢ د زلزلې څخه وروسته
اور راغی، مګر ښبنتن خپله په اور کې نه ؤ. له اور څخه وروسته يو نرم اواز راغی. ١٣
کله چې ايليا دا اواز واورېد، خپل مخ يې په چپنه باندې پټ کړ، بيرون ووت او د ځمڅې په
خوله کې ودرېد.

په اواز کې ورته وويل شول: <ای ايليا، دلته څه کوې؟>

١۴ هغه ځواب ورکړ: <مطلق قادر ښبنتنه خدايه، ما يوازې ستا خدمت کړی دی او هغه
هم تل په شوق سره. مګر اسراييليانو تا سره خپل لوظ مات کړی دی، ستا د قربانی ځايونه
يې وران کړي دي او ستا نبيان يې وژلي دي. يوازې زه پاتې يم او اوس هغوی هڅه کوي
چې ما هم ووژني.>

١۵ ښبنتن هغه ته وويل: <په کومه لاره چې راغلی يې بېرته په هماغې لارې د دمشق
دښتې ته لاړ شه. بيا ښار ته ننوزه او د حزائيل سر په تېلو غوړ کړه چې هغه د سورېې
پادشاه شي. ١۶ همدارنګه د نمشي زوی ييهو د اسراييلو د پادشاه په توګه وټاکه او د
شافاط زوی اليشع چې د آبل محوله څخه دی هم وټاکه چې ستا په ځای نبي شي. ١٧
هرڅوک چې د حزائيل له لاسه د وژل کېدو څخه وژغورل شي هغه به د ييهو په لاس
ووژل شي او هرڅوک چې د ييهو څخه وتښتي د اليشع په لاس به ووژل شي. ١٨ خو بيا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به هم زه اووه زره نفره په اسراییلو کې ژوندي پرېږدم - یعنې هغه ټول چې ماته وفادار دي،
بعل ته یې سجده نه ده کړې او نه یې د هغه بت ښکل کړی دی.>

## الیشع ته بلنه ورکول

۱۹ ایلیا لاړ او الیشع یې ومونډ چې په یوه جوړه غوایانو باندې یې قلبه کوله. یوولس
جوړه غوایان د هغه څخه مخکې وو او په دولسمې جوړې باندې هغه خپله قلبه کوله. ایلیا
خپله چپنه وایستله او الیشع ته یې ورواغوستله. ۲۰ الیشع خپل غوایان پرېښودل، د ایلیا
پسې یې منډه کړه او ورته ویې ویل: <پرېږده چې خپل مور او پلار ښکل کړم او د هغوی
سره خدای پاماني وکړم او بیا به درسره لاړ شم.>

ایلیا ځواب ورکړ: <لاړ شه، زه ستا مخه نه نیسم.>

۲۱ نو الیشع هغه پرېښود، خپل غوایان یې واخیستل او هغه یې حلال کړل. هغه د قلبې
سامان وسوزاوه او غوښه یې ورباندې پخه کړه. هغه یې خلکو ته ورکړه او هغوی وخوړله.
وروسته بیا هغه د ایلیا پسې روان شو او د هغه خدمتګار شو.

## بنهدد په اسراییلو باندې برید کوي

۲۰ ۱ د سوریې پادشاه بنهدد خپلې ټولې لښکرې سره راغونډې کړې او د نورو دوه
دېرشو پادشاهانو له خوا چې اسونه او جنګي ګاډۍ ورسره وې د هغه ملاتړ کېده. سامره یې
محاصره کړه او په هغې باندې یې برید وکړ. ۲ بنهدد ښار ته استازي ولېږل چې د
اسراییلو پادشاه اخیاب ته ووایي: ۳ <خپل سره او سپین زر، خپلې ډېرې ښکلې ښځې
او ماشومان دې ماته راوسپاره!>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ د اسراییلو پادشاه په ځواب کې ووېل: <ای پادشاه زما باداره، څنګه چې تاسو وایئ،
زه خپل ځان او هرڅه چې لرم تاسو ته درسپارم.>

۵ وروسته بنهدد بیا استازي ورولېږل چې اخاب ته ووایي: <ما مخکې تاته ویلي وو
چې خپل سره او سپین زر، خپلې ښځې او اولادونه دې ماته راکړه. ۶ مګر سبا په
همدې وخت به زه خپل درباریان ستا ښار ته درولېږم چې ستا ماڼۍ او ستا د درباریانو
کورونه ولټوي. هرڅه چې د هغوی خوښ شي هغه به واخلي او له ځان سره به یې
یوسي.>

۷ اخاب پادشاه د هېواد ټول سپین ږیري راوغوښتل او هغوی ته یې ووېل: <وګورئ
چې بنهدد جنجال لټوي! هغه ماته پیغام رالېږلی دی چې خپلې ښځې او اولادونه، خپل سره
او سپین زر هغه ته ورکړم او ما ومنله.>

۸ سپین ږیرو او ټولو خلکو ځواب ورکړ: <د هغه خبرو ته غوږ مه نیسئ! او د هغه
غوښتنې ونه منئ.>

۹ نو اخاب د بنهدد استازو ته ځواب ورکړ: <زما بادار د سوریې پادشاه ته ووایئ چې
د هغه اولنۍ غوښتنه منم، مګر دوهمه غوښتنه یې نه شم منلی.> هغوی لاړل او بنهدد ته یې
بېرته ځواب وروړ. ۱۰ بیا بنهدد اخاب ته یو بل پیغام ورولېږه: <زه به سامره بېخي له
منځه یوسم، چې هلته دومره خاوره پاتې نه شي چې زما نفرو ته یو موټی هم ورسیږي. که
چېرې ما دا کار ونه کړ نو خدایان دې ما ووژني.>

۱۱ اخاب پادشاه په ځواب کې ووېل: <بنهدد پادشاه ته ووایه چې رښتینی عسکر د
جګړې څخه وروسته لافې وهي، له جګړې څخه مخکې نه.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ بنهدد او نورو پادشاهانو په خپلو خېمو کې شراب څښل چې دا پيغام يې تر لاسه کړ.
خپلو نفرو ته يې امر وکړ: <په سامره باندې د حملې دپاره تيار شئ.> بيا هغوی د جګړې
دپاره خپل سنګرونه ونيول.

## اخاب بنهدد ته ماتې ورکوي

۱۳ په هماغه وخت کې يو نبي اخاب پادشاه ته راغی او ويې ويل: <څښتن داسې وايي:
ته دا لوی لښکر وينې؟ تا به نن په هغوی باندې بريالی کړم او بيا به پوه شې چې زه څښتن
يم.>

۱۴ اخاب پوښتنه وکړه: <دا کار به څوک وکړي؟>

نبي په ځواب کې وويل: <څښتن داسې وايي: د سيمه ايزو حکمرانانو ځوانان عسکر به دا
کار وکړي.>

هغه پوښتنه وکړه: <څوک به جګړه پيل کړي؟>

نبي ځواب ورکړ: <ته.>

۱۵ نو اخاب هغه ځوانان عسکر چې د سيمه ايزو حکمرانانو تر امر لاندې وو او د هغوی
شمېر ټول دوه سوه دوه دېرش تنو ته رسېده سره راټول کړل. وروسته بيا هغه د اسراييلو
لښکر چې ټول اووه زره تنه وو جګړې ته تيار کړل.

۱۶ د غرمې په وخت، په داسې حال کې چې بنهدد او د هغه سره دوه دېرش ملګرو
پادشاهانو په خپلو خېمو کې شراب څښل او نېشه کېدل، د اخاب لښکر جنګ ته راووتل.
۱۷ لومړی د سيمه ايزو حکمرانانو ځوانان عسکر مخکې شول. هغه ترصدچيان چې بنهدد



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لېږلي وو، هغه ته يې خبر ورکړ چې د سامرې څخه يوه ډله عسکر راروان دي.

١٨ بنهدد امر وکړ: <هغوی ژوندي ونيسئ! دا مهمه نه ده چې هغوی د جنګ دپاره راغلي
دي يا د سولې دپاره.>

١٩ هغو د سيمه ايزو حکمرانانو د ځوانو عسکرو د جګړې مشري کوله او د اسراييليانو
لښکر ورپسې وو. ٢٠ هر يو خپل مخالف نفر وواژه. پاتې سوريايي عسکر وتښتېدل او
اسراييليان ورپسې شول. بنهدد په اس باندې سپور شو او د خپلو څينو سپرو عسکرو سره
وتښتېد. ٢١ مګر اخاب او د هغه عسکرو هغوی تعقيب کړل او د هغوی اسونه او جنګي
ګاډي يې له منځه يوړې. اخاب او اسراييلي لښکرو سوريايانو ته درونه زيان ورورساوه.

٢٢ وروسته، هغه نبي اخاب پادشاه ته ورغی او ويې ويل: <بېرته لاړ شه، خپل ځواکونه
قوي کړه او يو ښه پلان جوړ کړه، ځکه چې په راتلونکي پسرلي کې به بنهدد يو ځل بيا په
تاسو باندې حمله وکړي.>

## سوريه يو ځل بيا په اسراييلو باندې حمله کوي

٢٣ په دې ترځ کې، د بنهدد درباريانو هغه ته مشوره ورکړه: <د اسراييلو خدايان د غرونو
خدايان دي، نو ځکه هغوی مونږ ته ماتې راکړه. مګر که چېرې مونږ د هغوی سره په هواره
ځمکه باندې وجنګېږو، نو مونږ به په رښتيا سره هغوی ته ماتې ورکړو. ٢٤ تاسو بايد
داسې کار وکړئ، هغه دوه دېرش پادشاهان لېرې کړئ او د هغوی په ځای د لښکرو
قوماندانان وټاکئ. ٢٥ نو هغومره عسکر، اسونه او جنګي ګاډي تياري کړئ ترڅو ستاسو
لښکري د پخوا په شان قوي شي. مونږ به د اسراييلي لښکرو سره په هواره ځمکه باندې
جګړه وکړو او هغوی ته به ماتې ورکړو.> بنهدد ومنله او د هغوی په مشورې باندې يې
عمل وکړ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ په راتلونکي پسرلي کې بنهدد خپلې لښکرې راغونډې کړې او د افيق ښار ته روان
شو چې له اسراييلو سره جګړه وکړي. ۲۷ اسراييليان د جګړې دپاره راغونډ شول او د
جګړې سامانونه يې واخيستل. هغوی روان شول او په دوو ډلو کې يې سوريايانو ته مخامخ
خپلې خېمې ودرولې. ټوله سيمه د سوريايانو څخه ډکه وه، مګر اسراييليان د هغوی په پرتله
لکه د وزو د دوه کوچنيو رمو په شان ښکاره کېدل.

۲۸ يو نبي د دې پيغام سره د اسراييلو پادشاه اخاب ته ورغی او ورته ويې ويل: <څښتن
داسې وايي: سوريايان فکر کوي چې زه د غرونو خدای يم او د هوارې خدای نه يم. نو زه
به دا قوي لښکرې تاته تسليم کړم، ترڅو ته او ستا خلک پوه شئ چې زه څښتن يم.>

۲۹ دواړه لښکرې په خپلو کمپونو کې د اووه ورځو دپاره يو بل ته مخامخ پاتې شوې. په
اوومه ورځ جګړه پيل شوه او په هماغه ورځ اسراييليانو سل زره سوريايي پياده عسکر
ووژل. ۳۰ د سوريايي لښکرو پاتې نفر بېرته افيق ته وتښتېدل، مګر په اووه ويشت زرو
تنو باندې د ښار دېوال راولوېد.

بنهدد هم د افيق ښار ته وتښتېد او د يو کور په دننني کوټه کې پټ شو. ۳۱ د هغه
درباريانو بنهدد ته وويل: <مونږ اورېدلي دي چې د اسراييلو پادشاهان زړه سواندي خلک
دي. مونږ ته اجازه راکړئ چې د وير کالي د خپلو ملاګانو څخه راتاو کړو، رسی په خپلو
غاړو کې واچوو او د اسراييلو پادشاه اخاب ته ورشو، کېدای شي چې هغه مو ژوندی
پرېږدي.> ۳۲ هغوی د وير کالي واغوستل او رسی يې په خپلو غاړو کې واچولې، بيا
اخاب ته ورغلل او ويې ويل: <ستاسو نوکر بنهدد ستاسو څخه غواړي چې هغه ژوندی
پرېږدئ.>

اخاب پوښتنه وکړه: <آيا هغه تر اوسه پورې ژوندی پاتې دی؟ بنهدد ماته لکه د ورور په
شان دی.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ د بنهدد درباریانو دا یو نېک فال وګاڼه او کله چې هغه وویل: <وروړ> هغوی په
چالاکۍ سره د هغه د خولې څخه خبره واخیستله: <تاسو صحیح وایئ! تاسو او بنهدد لکه
د ورونو په شان یئ.>

اخاب وویل: <لاړ شئ او هغه ماته راولئ.> کله چې بنهدد بیرون راووت، اخاب هغه په
خپلې جنګې ګاډۍ کې سپور کړ.

۳۴ بنهدد وویل: <زه به هغه ښارونه چې زما پلار ستاسو د پلار څخه نیولي وو بېرته
درکړم او تاسو کولی شئ چې په دمشق کې د خپل ځان دپاره د سوداګرۍ یو مرکز جوړ
کړئ لکه څنګه چې زما پلار په سامره کې جوړ کړی ؤ.>

اخاب ځواب ورکړ: <که چېرې دا شرطونه پوره کړې، نو زه به تا خوشې کړم.> بیا اخاب
د هغه سره د سولې تړون وکړ او اخاب بنهدد ته اجازه ورکړه چې لاړ شي.

## یو نبي د اخاب غندنه کوي

۳۵ په دې وخت کې د څښتن په حکم د نبیانو د ډلې څخه یو نبي خپل ملګري ته وویل:
<ما ووهه>، مګر هغه د وهلو څخه انکار وکړ. ۳۶ نو نبي هغه ته وویل: <تا د څښتن د
حکم څخه سرغړونه وکړه، څنګه چې زما څخه روان شې، یو زمری به تا ووژني.> څنګه
چې هغه لاړ، یو زمری راغی او هغه یې وواژه.

۳۷ هغه نبي یو بل سړی راپیدا کړ او ویې ویل: <مهرباني وکړه، ما ووهه!>، نو هغه سړي
هغه وواهه او ټپي یې کړ. ۳۸ نبي لاړ او په خپل مخ باندې یې پټۍ کېښوده چې خپله
څېره بدله کړي. بیا هغه لاړ، د سړک په غاړه ودرېد او انتظار یې کاوه چې کله به د اسراییلو
پادشاه تېرېږي. ۳۹ کله چې پادشاه تېرېده، نبي چیغې ووهلې: <اعلیحضرته! زه د جنګ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په میدان کې وم چې یو چا ماته یو بندي راوست او راته ویې ویل چې هغه وساته. که
چیرې هغه وتښتېده نو یا به ووژل شې او یا به درې زره د سپینو زرو سکې ورکوې. ۴۰
مګر زه په نورو کارونو کې مشغول شوم او هغه بندي وتښتېد.>

اخاب ځواب ورکړ: <لکه څنګه چې تا خپله سزا وټاکله، هماغسې به وشي.>

۴۱ هغه سرې په چالاکۍ سره د خپل مخ څخه پټۍ وشلوله او پادشاه هغه وپېژانده چې
هغه د نبیانو له جملې څخه دی. ۴۲ نبي پادشاه ته وویل: <څښتن داسې وایي: هغه بنهدد
چې ما په مرګ باندې محکوم کړی ؤ هغه دې ازاد کړ چې لاړ شي. په دې خاطر ته به د
هغه په بدل کې او ستا لشکر به د هغه د لښکرو په بدل کې ووژل شي.>

۴۳ اخاب په قهر او خفګان سره بېرته خپل کور سامرې ته ستون شو.

## د نابوت د انګورو باغ

**۲۱** ۱ یو سړی چې نابوت نومېده، په یزرعیل کې د اخاب پادشاه د ماڼۍ تر څنګ د
انګورو باغ درلود.

۲ یوه ورځ اخاب وویل: <ای نابوته، ستا باغ زما د ماڼۍ په څنګ کې دی، هغه ماته
راکړه چې د هغه څخه د سابو باغ جوړ کړم. زه به تاته د انګورو ډېر ښه باغ درکړم او یا که
ته غواړې د هغه بیه به درکړم.>

۳ نابوت ځواب ورکړ: <دا باغ ماته د خپلو نیکونو څخه په میراث پاتې شوی دی.
خدای دې نه کوي چې زه هغه تاته درکړم.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ نو اخاب د هغه څه له کبله چې نابوت ورته وويل په قهر او خفګان سره خپل کور ته
لاړ. په خپله بستره کې پرېوت، دېوال ته يې مخ واړاوه او هيڅ شی يې ونه خوړل.

۵ د هغه ښځه ايزابل ورغله او پوښتنه يې ورڅخه وکړه: <څه درباندې شوي دي؟
ډوډی ولې نه خورې؟>

۶ اخاب په ځواب کې ووېل: <ما د نابوت يزرعيلي څخه وغوښتل چې خپل د انګورو
باغ راباندې خرڅ کړي او يا د هغه په بدل کې بل باغ واخلي. مګر هغه ونه منله چې خپل د
انګورو باغ ماته راکړي.>

۷ ايزابل پوښتنه وکړه: <آيا ته د اسراييلو پادشاه نه يې؟ د بسترې څخه راپورته شه او
يو څه وخوره! مه پريشانه کېږه، زه به د نابوت د انګورو باغ تاته واخلم.>

۸ بيا ايزابل يو څو ليکونه د اخاب له خوا وليکل، د هغه مهر يې ورباندې ولګاوه او د
هغه ښار سپين ږيرو او مشرانو ته يې واستول چېرته چې نابوت اوسېده. ۹ په ليکونو کې
ليکلي شوي وو: <اعلان وکړئ چې خلک دې روژه ونيسي او راغونډ دې شي. بيا نابوت د
غونډې په سر کښېنوئ. ۱۰ دوه بدماشان هغه ته مخامخ کښېنوئ چې تور درباندې
ولګوي چې هغه د خدای او پادشاه سپکاوی کړی دی. بيا هغه د ښار نه بهر بوځئ او
سنګسار يې کړئ چې مړ شي.>

۱۱ کله چې هغوی د ايزابل ليکونه تر لاسه کړل، څه چې هغې غوښتي وو هغوی
هماغسې وکړل. ۱۲ هغوی اعلان وکړ چې نن روژه ونيسئ. خلک راغونډ شول او نابوت
يې د غونډې په سر کې کښېناوه. ۱۳ په دې وخت کې دوه بدماشان راننوتل او نابوت ته
مخامخ کښېناستل. بيا هغوی په نابوت باندې تور ولګاوه چې هغه خدای او پادشاه ته
سپکاوی کړی دی، نو خلکو نابوت بيرون وويست او هغه يې سنګسار کړ او مړ شو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ د یزرعیل مشرانو بېرته ایزابل ته پیغام ولېږه ویې ویل چې <نابوت سنګسار او ووژل
شو.>

۱۵ څنګه چې ایزابل د هغوی پیغام تر لاسه کړ، هغې اخاب ته وویل: <اوس کولی شې
چې د انګورو هغه باغ واخلې چې نابوت د هغه د خرڅولو څخه انکار کړی ؤ. هغه مړ
شوی دی.> ۱۶ هغه وخت چې اخاب واورېدل چې نابوت مړ شوی دی، سمدلاسه روان
شو چې د هغه باغ لاس ته راوړي.

## ایلیا د اخاب غندنه کوي

۱۷ څښتن ایلیا تشبي نبي ته وویل: ۱۸ <لاړ شه د اسراییلو د پادشاه اخاب سره
وګوره څوک چې په سامره کې پادشاهي کوي. هغه د نابوت د انګورو باغ نیولی دی او همدا
اوس په دې باغ کې دی. ۱۹ لاړ شه او هغه ته ووایه چې زه داسې وایم: ای اخابه، تا
نابوت په قتل ورساوه او د هغه جایداد دې ونیوه. په هماغه ځای کې چې سپیو د نابوت
وینه وڅټله، ستا وینه به هم وڅټي.>

۲۰ کله چې اخاب، ایلیا ولید، هغه وویل: <ای زما دښمنه، آخر دې پیدا کړم.>

ایلیا ځواب ورکړ: <هو، پیدا مې کړې! ای اخابه، تا هغه بد کارونو ته ځان سپارلی دی چې
څښتن ورڅخه کرکه کوي. ۲۱ نو څښتن تاته وایي: اوس به زه په تا باندې یوه بلا راولم.
زه به تا او ستا د کورنۍ هر یو نارینه که هغه غلام وي یا ازاد، له منځه یوسم. ۲۲ ستا
کورنۍ به د نباط زوی یروبعام پادشاه او د اخیا د زوی بعشا پادشاه د کورنیو په شان شي.
ته د اسراییلیانو د ګناهکارۍ سبب ګرځېدلی یې، نو ځکه دې زما قهر راپارولی دی.

۲۳ همدارنګه د ایزابل په باره کې څښتن داسې وایي: د هغې بدن به په یزرعیل کې سپي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخوري. ۲۴ ستا د هغو متعلقينو بدنونه چې په ښار کې مړه کيږي هغه به سپي وخوري او
په صحرا کې چې مړه کيږي هغه به مرغان وخوري.<

۲۵ (هيچا د څښتن د امر خلاف په سرغړونه کې د اخاب په اندازه داسي ټينګه اراده نه
درلوده – او ايزابل هغه تشويقاوه. ۲۶ تر ټولو بده خبره دا وه چې هغه د بتانو عبادت
کاوه، لکه څنګه چې مخکې به اموريانو کاوه. څښتن هغوی له هغه هېواد څخه شړلي وو او
دا هېواد يې اسراييلو ته ورکړی ؤ.)

۲۷ کله چې اخاب دا خبرې واورېدې، هغه خپل کالي وشلول او شپه او ورځ به يې د وير
کالي اغوستي وو. هغه خفه ؤ او روژه يې نيوله.

۲۸ څه موده وروسته، څښتن ايليا نبي ته وويل: ۲۹ >ته وينې چې اخاب ماته خپل
ځان څومره عاجز کړی دی؟ ترڅو پورې چې هغه ژوندی وي زه به په هغه باندې بلا نه
راولم. مګر زه به د هغه د زوی د ژوند په دوران کې د اخاب کورنۍ په بلا اخته کړم.<

## د ميکايا نبي خبرداری اخاب ته

(دوهم تواريخ ۱۸: ۲ – ۲۷)

**۲۲** ۱ تر درې کالو پورې د اسراييلو او سوريې ترمنځ سوله وه. ۲ په دريم کال د
يهودا پادشاه يهوشافاط د اسراييلو د پادشاه اخاب د ليدلو دپاره ورغی.

۳ اخاب د خپلو درباريانو څخه پوښتنه وکړه: >مونږ د دې څخه ولې نه ده کړې چې د
جلعاد راموت ښار بېرته له سوريې څخه ونيسو؟ هغه زمونږ دی.< ۴ بيا هغه د
يهوشافاط څخه پوښتنه وکړه: >آيا ته به زما سره راموت ته لاړ شې چې په سوريايانو
باندې حمله وکړو؟<



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یهوشافاط ځواب ورکړ: <یوازې دا راته ووایه چې څه وکړم، زما لښکرې او اسونه ستا په خدمت کې دي. ۵ مګر پرېږده چې اول د څښتن څخه پوښتنه وکړو.>

۶ اخاب نبیان راوغوښتل چې شاوخوا څلورسوه تنه وو او د هغو څخه یې پوښتنه وکړه: <آیا زه په راموت باندې حمله وکړم که نه؟>

نبیانو ځواب ورکړ: <هو، څښتن به ستاسو سره مرسته وکړي چې هغوی ته ماتې ورکړئ.>

۷ مګر یهوشافاط پوښتنه وکړه: <آیا دلته کوم بل نبي نشته چې د هغه په وسیله مونږ د څښتن څخه مشوره وغواړو؟>

۸ اخاب ځواب ورکړ: <دلته یو بل نبي هم شته، یعنې د یمله زوی میکایا. مګر د هغه څخه کرکه لرم، ځکه چې هغه هیڅکله زما په هکله ښه وړاندوینه نه کوي او تل بده وړاندوینه کوي.>

یهوشافاط ځواب ورکړ: <داسې مه وایه.> ۹ بیا د اسراییلو پادشاه یو درباری راوغوښت او ورته وېې ویل: <لاړ شه او ژر میکایا زما حضور ته راوله!>

۱۰ اخاب او یهوشافاط دواړو خپل شاهانه کالي اغوستي وو او د سامرې د دروازې تر څنګ په درمند ځای کې په خپلو تختونو باندې ناست وو. ټولو نبیانو د هغوی په حضور کې وړاندوینې کولې.

۱۱ د کنعنه زوی صدقیا چې د نبیانو له جملې څخه ؤ، د خپل ځان دپاره د اوسپنې څخه ښکرونه جوړ کړي وو او وېې ویل: <ای اخابه، څښتن وایي چې ته به د دې ښکرونو په وسیله په سوریایانو باندې حمله وکړې او هغوی به له منځه یوسې.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ټولو نبیانو له دې سره موافقه وکړه چې اخاب دې په راموت کې په سوریایانو باندې حمله وکړي او دا یې هم وویل چې څښتن به د هغه سره مرسته کوي چې هغوی ته ماتې ورکړي.

۱۳ په دې ترځ کې هغه استازی چې د میکایا پسې تللی ؤ هغه ته یې وویل: <ای میکایا، ټولو نبیانو د اخاب دپاره د بریالیتوب وړاندوینه وکړه، اوس لاړ شه او د هغو خبره تائید کړه.>

۱۴ مګر میکایا ځواب ورکړ: <زه د ژوندي څښتن په نوم قسم خورم هرڅه چې څښتن ماته وایي زه به هماغه پادشاه ته ووایم.>

۱۵ بیا میکایا اخاب ته ورغی او اخاب ورڅخه پوښتنه وکړه: <ای میکایا، آیا زه راموت ته د جګړې دپاره لاړ شو یا نه؟>

میکایا ځواب ورکړ: <حمله ورباندې وکړئ، تاسو به په یقین سره بریالي شئ. څښتن به هغوی تاسو ته تسلیم کړي.>

۱۶ مګر پادشاه، میکایا ته وویل: <کله چې د خدای په نامه زما سره خبرې کوې رښتیا راته وایه. څو ځلې مې دا تاته ویلي دي؟>

۱۷ میکایا ځواب ورکړ: <ما ولیدل چې اسراییلي عسکر د هغو پسونو په شان دي چې په غونډیو کې اخوا دېخوا ګرځي او شپون نه لري. څښتن وویل: دغه لښکر مشر نه لري. هغوی باید په خیر سره خپلو کورونو ته لاړ شي.>

۱۸ اخاب، یهوشافاط ته وویل: <ما تاته ونه ویل چې هغه به زما په هکله هیڅکله ښه وړاندوینه ونه کړي، هغه یوازې بده وړاندوینه کوي؟>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ میکایا په ځواب کې ووېل: <واوره چې څښتن نور څه ووېل! څښتن مې په اسمان
کې ولید چې په خپل تخت باندې ناست ؤ او ټولې فرښتې د هغه ښي او چپ اړخ ته ولاړې
وې. ۲۰ څښتن پوښتنه وکړه: څوک کولی شي چې اخاب وغولوي چې هغه راموت ته
لاړ شي او هلته ووژل شي؟

یو څو فرښتو یوه خبره او نورو بله خبره کوله ۲۱ نو په پای کې یوه ارواح رامخکې شوه،
د څښتن په وړاندې ودرېدله او هغه ته یې ووېل: زه کولی شم چې اخاب وغولوم.

۲۲ څښتن ورڅخه پوښتنه وکړه: څنګه؟

ارواح ځواب ورکړ: زه به د اخاب په ټولو نبیانو باندې دروغ ووایم.

څښتن ځواب ورکړ: ښه ده. اوس لاړه شه او هغه وغولاوه. ته به بریالی شې.

۲۳ ای اخابه! کټ مټ هماغسې وشول. څښتن ستا ټول نبیان دې ته مجبور کړل چې تاته
دروغ ووایي، ځکه د څښتن اراده دا ده چې ستا په سر باندې بلا راشي.>

۲۴ بیا صدقیا، میکایا ته نژدې شو، په څپېړه یې وواهه او پوښتنه یې ورڅخه وکړه: <کله
د څښتن روح زما څخه تللی دی او ستا سره یې خبرې کړې دي؟>

۲۵ میکایا ځواب ورکړ: <په هغه ورځ به په دې باندې پوه شې چې د یو کور په دننني
کوټه کې پټ شې.>

۲۶ اخاب حکم وکړ: <میکایا ونیسئ! هغه د سامرې والي آمون او شهزاده یوآش ته
ورولئ. ۲۷ هغوی ته ووایئ چې میکایا په زندان کې واچوئ او ترڅو پورې چې زه بېرته
په خیر سره راستنېږم هغه ته یوازې ډوډی او اوبه ورکوئ.>



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ میکایا وویل: <که چېرې ته په خیر سره بېرته راستون شوې، نو څښتن زما په
وسیلې خبرې نه دي کړې.> بیا یې ټولو خلکو ته وویل: <ما چې څه وویل هغه هېر نه
کړئ.>

## د اخاب مړینه

(دوهم تواریخ ۱۸: ۲۸ – ۳۴)

۲۹ نو د اسراییلو پادشاه اخاب او د یهودا پادشاه یهوشافاط د خپلو لښکرو سره د جلعاد
راموت ته روان شول. ۳۰ مخکې له دې چې هغوی جنګ ته لاړ شي، اخاب وویل: <ای
یهوشافاطه! زه به خپله څېره بدله کړم، مګر ته خپله شاهانه چپنه واغونده.> نو اخاب خپله
څېره بدله کړه او جګړې ته لاړ.

۳۱ د سوریې پادشاه د خپلو جنګي ګاډیو دوه دېرشو قوماندانانو ته امر وکړ: <پرته د
اسراییلو له پادشاه څخه د بل چا سره جګړه ونه کړئ.> ۳۲ نو کله چې هغوی یهوشافاط
په خپله شاهانه چپنه کې ولید، هغوی فکر وکړ چې هغه اخاب دی، نو هغوی په هغه باندې
د حملې کولو دپاره راوګرځېدل. مګر کله چې یهوشافاط هغوی ته چیغې ووهلې، ۳۳
هغوی پوه شول چې هغه اخاب نه دی نو د هغه د تعقیبولو څخه یې لاس واخیست.

۳۴ خو د جګړې په وخت کې یو سوریایي عسکر تصادفاً یو غشی ګوزار کړ او هغه د
اخاب د زغرو د کالیو په درز باندې ولګېده. اخاب د خپلې جنګي ګاډۍ چلوونکي ته
وویل: <راوګرځه او ما د جګړې د میدان څخه وباسه، ځکه زه ټپي شوی یم.>

۳۵ جګړه ټوله ورځ تودېدله، اخاب په خپلې جنګي ګاډۍ کې تکیه وهلې وه او د هغه
ځای څخه یې د سوریایانو لښکرې لیدلې. د هغه څخه وینه د ګاډۍ په ښکتنۍ برخه باندې
توی شوه او د ماښام په وخت هغه سا ورکړه.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۶ د لمر پرېواته په وخت کې د اسراييلو په لښکرو کې کوم يو نورو ته چيغې ووهلې:
<په شا شئ! هر يو بېرته خپل ښار او وطن ته لاړ شئ!>

۳۷ په دې توګه اخاب پادشاه مړ شو. د هغه مړی سامرې ته يوړل شو او هلته ښخ شو.
۳۸ هغوی د هغه جنګي ګاډی په سامره کې د يو ډنډ تر څنګ ومينځله، يعنې هغه ځای
چې فاحشو به په کې خپل ځانونه مينځل. سپيانو د هغه وينه وڅټله. لکه څنګه چې څښتن
ويلي وو هماغسې وشول.

۳۹ نور هغه ټول کارونه چې اخاب د خپلې پادشاهۍ په وخت کې کړي وو، چې په هغو
کې هغه ماڼۍ چې د فيلانو په غاښونو باندې يې سمبال کړې وه او د ښارونو جوړول شامل
دي، دا ټول د اسراييلو د پادشاهانو د تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي. ۴۰ اخاب مړ
شو او د هغه زوی اخزيا د هغه په ځای پادشاه شو.

## د يهودا پادشاه يهوشافاط

(دوهم تواريخ ۲۰: ۳۱ – ۲۱: ۱)

۴۱ د اسراييلو د پادشاه اخاب د پادشاهۍ په څلورم کال، د آسا زوی يهوشافاط د يهودا
پادشاه شو. ۴۲ يهوشافاط د پنځه دېرشو کالو په عمر ؤ چې پادشاه شو او هغه په
اورشليم کې پنځه ويشت کاله پادشاهي وکړه. د هغه د مور نوم عزوبه وه چې د شلحي لور
وه.

۴۳ هغه د خپل پلار آسا په شان، هماغه کارونه وکړل کوم چې د څښتن په وړاندې
صحيح وو، خو بتخانې ورانې نه شوې او خلکو هلته نذرانې وړاندې کولې او خوشبويي يې
سوزوله. ۴۴ يهوشافاط د اسراييلو د پادشاه سره سوله هم وکړه. ۴۵ د يهوشافاط د
پادشاهۍ نورې ټولې پېښې او د هغه زوروړتوب او جګړې، د اسراييلو د پادشاهانو د تاريخ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په کتاب کې ليکل شوي دي. ۴۶ هغه ټول پاتې لواطت کاران او فاحشې چې د ده د پلار
په پادشاهۍ کې په بتخانو کې يې خدمت کاوه له منځه يوړل.

۴۷ په هغه وخت کې د ادوم په هېواد کې پادشاه نه ؤ، نو د يوې ټيټې رتبې درباري به په
هغه هېواد باندې حکومت کاوه.

۴۸ يهوشافاط بحري کشتۍ ګانې جوړې کړې چې د سرو زرو د واردولو دپاره اوفير ته
لاړې شي. مګر هغه په عصيون جابر کې ماتې شوې او هيڅکله لاړې نه شوې. ۴۹ د
اخاب زوی اخزيا يهوشافاط ته داسې وړانديز وکړ: >پرېږده چې زما د کشتۍ چلوونکي
ستا د کشتۍ چلوونکو سره لاړ شي.> مګر يهوشافاط د هغه وړانديز ونه مانه.

۵۰ يهوشافاط مړ شو او د داود د ښار په شاهي هديره کې ښخ شو. د يهوشافاط زوی
يهورام د هغه په ځای پادشاه شو.

## د اسراييلو پادشاه اخزيا

۵۱ د يهودا د پادشاه يهوشافاط د پادشاهۍ په اوولسم کال، د اخاب زوی اخزيا د
اسراييلو پادشاه شو او هغه دوه کاله په سامره کې پادشاهي وکړه.

۵۲ اخزيا د خپل پلار اخاب، د خپلې مور ايزابل او همدارنګه د يروبعام پادشاه په شان
ښوک چې د اسراييلو د خلکو د ګناهکارۍ سبب شو، هغه هم د ښبنتن په وړاندې ګناه
وکړه. ۵۳ اخزيا د بعل خدمت او عبادت کاوه. لکه څنګه چې د هغه پلار کړې وو، د
اسراييلو ښبنتن خدای يې ډېر په قهر کړ.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.